# ژورنالیستي څېړنه

ټولې ربښتې (حقوق) له لیکوال سره خوندي دي .

محمد کریم نور

ماربورګ، المان، 2009

# بسم الله الرحمن الرحيم

بسم الله الرحمن الرحيم

ټولو هغو افغان ژورنالېستانو ته اوليکوالو ته چې د ولس پر دردونو حکومت خبروي، د ملت په ضد د حکومت، پرديو او کورنيو غليمانو او نورو مفسېدو کړيو توطئې رابرسېرنې کوي او د اسلامي ارزښتونو د پياوړيتوب لپاره هڅه کوي .

# نیولیك


**سریزه** .......................... 7
**ژورنالېزم څه شی دی** ...................... 9
**د ژورنالېزم پېښنلیك** ................. 12
**د ژورنالېزم ځېلونه** ..................... 16

**ژورنالېستي خبرنه** ................ 22
څېړنه .................. 23
څېړندود .................. 25
انګازه .................. 26

**د ژورنالېزم ژبه** ................... 28
لنډ او څرګند لیکل ................... 29
انځور لیکل ................... 33
څانګیز او د پردۍ ژبې ویي ................ 35
خپلواك او په بې پرې توګه لیکل .................. 36
دوديزې ورځنۍ څرګندنې ................. 38
پرتله کول .................. 40

**ژورنالېستي لیکبڼې** ................. 42

**خبر** ................... 44
خبر چاڼ ................... 46
د خبر نویوالی ................... 47
څه شی په زړه پورې او د لېوالتیا وړ دي ............ 48

خبري ارزښت . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 53

خبرڅنګه ولیکو؟ . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 65.
د خبر لیکدود . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 66.
خبر لیکل د وخت پر بنسټ . . . . . . . . . . . . . . 67
د مجلې خبر . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 73.

راپور . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 74
د راپور لیکدود . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 76..
د مجلې راپور . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 77
د مجلې د راپور لیکدود . . . . . . . . . . . . . . . 79

مرکه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 82
لنډه مرکه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 84
اوږده مرکه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 85
د مرکې لپاره تیاري . . . . . . . . . . . . . . . . . . 88
مرکه کول . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 94
د پوښتنو ډولونه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 98

تبصروي لیکبڼې . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 99.
د تبصرې لیکدود . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 102

کره کتنه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 107
د کره کتنې ژبه او لیکدود . . . . . . . . . . . . . . 108
د رادیو او تېلوېزیون کره کتنه . . . . . . . . . . . . 116.

**بېلګېزه لیکبڼه (فیچر)** .................... 118
د فیچر ځېړنه .............. 120
د فیچر لیکدود .............. 121
د فیچر ژبه .............. 126

**راپورتاژ** .................... 127
د راپورتاژ ډولونه .............. 128
د راپورتاژ نندارېځونه او لیکدود .............. 131
په راپورتاژ کې ادلون بدلون .............. 134
د راپورتاژ جوړښت .............. 136

**پارترې یا انځور** .................... 142
خلك او د خبریال غبرګون .............. 144
خبریالان .............. 146
د انځور جوړښت .............. 149
د انځور یا پارترې ډولونه .............. 152
لنډ انځور .............. 152
مفصل انځور .............. 156
د خدای بښلي انځور .............. 157

**سرلیك** .................... 159
د سرلیك ډولونه .............. 161
د سرلیك لیکلو لپاره لارښوونې .............. 165

د ژورنالېزم اخلاق .................... 168

# سریزه

ګرانو لوستونکیو،

اسلام علیکم و رحمت الله و برکاته

لیکوالي او خبریالي د ډېرو کسانو په اندو واند یوه داسې ورتیا ده چې هر څوك يې نه لري، بلکې یوازې هغوی چې لیکوال یا خبریالان زېږېدلي وي . خو ډېر پوهان بیا ټینګار کوي چې لیکوالي او خبریالي یو لاسي کار دی چې هر څوك يې زده کولای شي . د دویمې ټولۍ (کټګورۍ) د الواك د منښت له امله ما تر خپله وسه د ژورنالېزم د ځېلونو په اړه څېړنه وکړه چې پایلې يې تاسې ته په دې ګتابګوټي کې وړاندې کوم .

د دغه کتابګوټي موخه یوازې د پښتو خبریالۍ په ډګر کې زما یو کوشنی ګام دی چې په نورو پښتني- افغاني خبریالانو پسې يې پورته کوم . او په همدې ډېر لمړني او کوشني ګام سره به انشاالله د منافقو لیکوالو او خبریالانو د فساد مخنیوی کوم . ځکه چې دوی بې فرهنګه فرهنګي لیکوال او خبریالان دي چې موخه يې زموږ وطن ته پرته د منافقت، شر، فساد او جهالت له راوړلو څخه بل څه نه ده . د دوی مفسېدې لیکنې له تبعیضه ډکې دي او د دوی د مسلکي کتابونو منځپانګې غیر مسلکي او دروغ او زموږ په منځ کې یوازې د جګړې اور ته لمن وهي . له همدې امله يې کتابونه الحمد لله د هېلمند سیند ته غورځول کېږي .

د دې لپاره چې له افغاني خبریالانو سره مې خپل اندو واند ښه شریك کړی وي، تر وسه مې هڅه کړې ده چې کره، غرنۍ او ځرګنده پښتو وکاروم او خپله موخه پر یو څو غونډلو کې په لنډه توګه راونغاړم . له بده مرغه په پښتو

کې تر اوسه د پردیو ژبو ځینې ځانګیز یا مسلکي ویي او څرګندنې نه دي ژباړل شوي او تر اوسه په همغه آره بڼه کارول کېږي، لکه "لیډ" . خو ما د دوی له کارولو څخه ډه ډه کړې ده او یا مې د کېدون تر بریده په پښتو ویو بدل کړي دي، لکه "پارترې" په انځور .

د دې کتاب په لوست او د لاربښوونو په کارولو سره به یې تاسې یو دم نه لیکوال شئ او نه هم خبریالان، خو دغه کتابګوټی به دې ډګر ته ستاسې د ورتګ لاره اسانه او ستاسې یون به نور هم چټک، پیاوړی او لنډ کړي . په دې کتابګوټي کې ما یوازې هغه ځېلونه رانغښتي دي چې خبریالان ورسره هره ورځ سر او کار لري . د ښه ترا پوهاوي په موخه مې هر سکالو د تیوري سره په بېلګو کې نور هم سپړل دی . هغه مثالونه چې د موضوع د روښانولو لپاره راوړل شوي دي او پرې ګوتنیوه هم شوې ده، د لیکوال سپکاوی نه دی، بلکې لکه چې مخکې وویل شول، یوازې د موضوع د لا ښه څرګندولو او اسانولو په موخه .

هیله من یم لکه څنګه چې ما تر خپله وسه کار پری کړی دی، تاسې یې تر خپله وسه د اړتیا په اکر کې وکاروئ، پر خپلو لیکنو کې یې وارزوئ، کمزوري ټکي یې په ګوته کړئ او د سمون په موخه ګټور وړاندیزونه وکړئ . دا به نه یوازې زما او ستاسې لپاره ګټور وي، بلکې همداسې زموږ د ټولنې هر وګړي ته چې د خبریالۍ ډګر ته راتګ غواړي او ولس ته د خبرولو په موخه خپل ملي مسئولیت او دنده په ښه ترا توګه سرته رسول غواړي .

په درنښت

محمدکریم نور، المان، 6 جون، 2009

# ژورنالېزم څه شی دی؟

ژورنالېزم له فرانسي ويي ژورنال څخه اخستل شوی دی چې د ورځني کتابت يا د ورځنيو پېښو د ليکلو او ثبتولو مانا ترې اخېستل کېږي . د يوې ځانګې په توګه، راځئ چې دې پوښتنې ته چې ژورنالېزم څه شی دی، په لاندې توګه ځواب ووايو .

کله چې سهار له خوبه پاڅېږو، له لمانځه وروسته ژر لرغږون (راديو) او يا هم لروينون (تېلېوېزيون) روښانه کړو چې پر ورځنيو پېښو خبر شو . کله چې د دوتر پر لور روان شو، له کومې هټۍ څخه چې ورځپاڼې پلوري، يوه ورځپاڼه يا اوونيزه مجله يا هم مياشتېنۍ له ځانه سره اخلو چې د ملك د ننه او نورې نړۍ د روانو او تېرو پېښو خبرونه، څېړنيز راپورونه، مرکې، شننې، ارزونې، د کارپوهانو او سياستوالو اند واند، د ادبي نړۍ څېړنې، کره کتنې او يا هم نور نوي او په زړه پوري مالومات لاسته راوړو .

د راديو او تېلوېزيون څخه نيولې تر ورځپاڼو، اوونيزو او مياشتېنۍ خپرونو پورې ټول لوستونکيو ته هغه مالومات وړاندې کوي چې اړين، نوي، تازه او د ورځنيو پېښو اړوند وي . دغه خپرونې د يوه ځانګړي ځانګيز (مسلکي) قانون پر بنسټ ليکل او خپرېږي . او همدغه يوازېنی آر دی چې د مسلکي او هغه کس چې پروپاګند يا تبليغ کوي، توپير څرګندوي . په دې مانا چې مسلکي خبريال به د همدغې قاعدې پر بنسټ ليکل او خپرونې کوي او تبليغي به ترې نمښته يا انکار کوي .

نو ویلای شو چې :
ژورنالېزم دپېښنو په باره کې د مالوماتو څېړلو، راټولولو، ارزولو، شنلو او په ځانګیز (مسلکي) ډول لیکلو او خپرلو ته وايي .

ژورنالېزم هغه پېښې څېړي او پر هغو موضوعاتو خبري کوي چې نوې او تازه، اړینې، د ورځنیو یا روانو پېښنو اړوند، ریښتیا او د ټولنې د ټولیزې روحیې او هڅوبې ( کولتور) سره اړخ ولګولای شي . په دې مانا چې په افغانستان کې د لویدیځ سندربولو یا فلمي هنرمندانو د لوڅو فېلمونو، عکسونو، یا هم نویو رسوايي لوڅو وینیزو (ویدیویي) پیتو ښکارول او ان په دې باره کې خبر ورکول نه یوازې دا چې کوم اړین او مناسب خبر نه دی، بلکې د افغانانو له ټولیز ټولنیز دود سره په ټکر کې دي .

ژورنالېزم ټولیزوالی یا عمومیت رامنځته کوي؛ ټولنه ښاري او پایلې یې ببرته ټولنې ته وړاندې کوي چې په دې ډول سره یوه ټولنه په خپلو ټولو ریښتینو روانو او تېرو پیښنو او حقیقت خبروي . ژورنالېزم ربښتینولۍ ته هېڅ ډول رنګ نه ورکوي، بلکې په خپله آره (اصلي) بڼه یې ولس ته وړاندې کوي .

ژورنالېست یا خبریال چې په لوېدیځ کې ورته راپورتر او خبر څېړونکی هم وایي، مالومات راټولوي، کیسې تیاروي، په ورځپاڼو، رادیو او تېلویزیون کې خبرونه وړاندې کوي . خبریال ولس په سیمه ییزو، ملي او نړیوالو پېښنو خبروي . دی همدرازا پر ټولو اړینو پېښنو تبصرې کوي او خلك د خپل اندو واند څرګندولو ته هڅوي . خبریال همدارنګه د دولتي او سیاسي کارمنو او کړیو کړه وړه ښاري او ملت ته یې په روانه، ساده او څرګنده ژبه ژباړي او د خلکو غږ دولت ته رسوي .

دا چې ژورنالېزم د حکومت او ملت تر منځ د مالوماتو رسولو یوازېنی وسیله ګڼل کېږي، له همدی امله ور ته په یوه دولت کې د درې ګونو نورو ځواکونو تر څنګ، څلورم ځواك بلل کېږي . خو پاموره دا ده چې یوازې رېښتینی، خپلواك، بې پرې او مسلکي ژورنالېزم کولای شي چې دغه ځواك وبلل شي .
له دې پرته هر ډول هڅوی ته ژورنالېزم نه، بلکې تبلیغاتي پاڼې ویل کېږي .

# د ژورنالېزم پېښليك

ژورنالېزم د لمړي ځل لپاره خپل سر له لمړۍ پېړۍ په راوروسته وخت کې د روم په امپراتورۍ کې اوچت کړ . نوموړې امپراتــــــورۍ د "اکته ديورنه" Acta Diurna په نامه يوه ورځپاڼه چاپوله .
همهال يوه بله اوونيزه خپرونه هم د "کومېنتاريــــــوس رېرون نوؤه روم" Commentarius Rerum Novarum په نامه پيل شوه .
دغه اونيزه د ااوسنۍ مجلې په څېر پر سياسي، ټولنيزو او سوداګريـــــــزو موضوعاتو راڅرخېده . نوموړې خپرونه د دروسوو ليــــکوالو له خوا په لاس ليکل کېده . له دې راوروسته په منځنيو پېړيو کې-مخکــــې له دې چې د چاپ ماشينونو جوړ شي- سوداګريز مالومات هم پر وړو وړو پاڼـــو په لاس ليکل کېدل . دغه پاڼـــې چــــــــې د "اويـــــــــسي" avvisi يا خبرونه په نامه يادېدې، په ټوليزه توګه له يوه بندره څخه بل هغه ته ليږدېدلې . د دې مالوماتو موخه يوازې او يوازې د سوداګريزو لارو او بازارونو څېړل ول او يوازې به د سوداګرو له خوا لوستل کيدل .

## د نني يا نوي ژورنالېزم پيل

يوهان کــــــــــــــــــــرولـــــــــــــوس Johann Carolus په سپاړسمه پېړۍ کې د شتراسبورګ په ښار کې ژوند کاوه . ده د ورځپاڼې د چاپ دنده پر مخ وړه . نوموړي هغه مهال د اروپا په لويو- لويو ښارونو کې ليکوال وګومارل چې په هره اوونۍ کې نوي خبرونوه راټول او ده ته واستوي . کرولوس به بيا دغه خبرونه په خپل لاس څو وارې ليکل او هغو سوداګرو ته به يې لېږل چې غوښتل يې د اروپا پر سوداګريز اکر بکر خبر شي .

ده په کال 1605 کې له يوه بل کس چې هغه هم په شتراســـبورګ کې ژوند کاوه، درې د چاپ ماشينونه وپېرل او په خپل کور کې يې ځای پر ځای کړل . وروسته له دې به کرولوس راټول شوي خبرونه په ماشينونو دومره ډېر چاپول چې د وخت په پرتله له اوسنيو پاڼو څخه کم نه ګڼل کېږي .

په 1631 کال کې يو بل فرانسي ليکوال " ( Théophraste Renaudot تېئوفغسته غونو" خپـــله لـــــــــمړۍ ورځپاڼه "له ګزېټ" ("La Gazette يې په اوسني او نوي ډول چاپ کړه . ده وکړای شول چې له دې سره سم د نوي يا مودرن ژورناليزم بنسټ هم کېږدي . فغسته غونو، نه يوازې ورځپاڼې ته داسې سکوی يا شکل ورکړ لکه په اوسمهال يې چې وينو، بلکې په ژورنالېزم کې يې نوې ليکبڼې هم راپيدا کړې چې نن هم ليکل کېږي، لکه تبصره او راپور يا رپوټ .

د اتلسمې پېړۍ له پيله سره سم په امريکا کې هم نوې ورځپاڼې منځته راغلې چې يوازې به سوداګرو، حکومتي کارمنو او شتمنو خلکو اخستلای شوی . خو د اتلسمې پېړۍ په پای او د نولسمې پېړۍ په پيل کې کله چې د چاپ تخنيك ډېر پرمختګ وکړ، د چاپي خپرونو بيه هم راکښته شوه . دا د دې سبب شوه چې هر څوك ورځپاڼې وپېرلای شي . دا چې د ورځپاڼې چاپ، پېر او پلور ډېر شو، نو ډېرو کسانو هڅه وکړه چې په دغه څانګه کې ځانته کار پيدا کړي اوله دې لارې خپل ورځنی لګښت پوره کړي . له دې سره سم، د ژورنالېزم څانګه يا مسلك هم وزيږېد . د يادونې وړه ده چې په دغه وخت کې به له خبرونو او نورو څېړنيزو ليکنو سره د هر خبريال خپل نظر هم ګډ ليکل شوی وو . دغه ګډ ليکل تر ډېره د دې لامل وګرځېد چې لوستونکی به نه پوهېده چې آيا دا د خبريال شخصي نظر دی، که حقيقت .

کله چې په کال 1835 په نيـــــــــــويارك ښار کې "نـــــــــيويارك هرلد" New York Herald ورځپاڼه جوړه شوه، نو لـــــيکوالو وکړ يې ډېر کوښښ وکړ چې ولس ته په بې پرې توګه خبرونه وړاندې کړي . د دې ورځپاڼې چاپونکيو به هڅه کوله چې د يوې پېښې په باره کې پوره څېړنه وکړي چې د خبر اصل او رېښتيا وپېژني او په همغه آره بڼه يې خلکو ته وړاندې کړي، پرته له دې چې خپل يا د بل چا نظر ورسره وليکي . د همدغو هاندو هڅو پايله دا شوه چې ژورنالېزم د مالوماتي ځانګې يا مسلك په توګه وپېژندل شو .

په همدې ډول په کال 1900 د " هواس" Havas خبري آژانس له جوړېدا سره سم، په دغه ډول خبر ليکلو چې ګواکي شخصي نظر ته به پکې ځای نه ورکول کېږي، ډېر ټينګار کېده . او د وخت په تېرېدا سره دغه کړنلاره ورو- ورو ډېره اغېزمنه څرګنده شوه .

## د ټوليزو رسنيو پيل

کله چې د نولسې پېړۍ په نيمايي کې په امريکا کې د ليك لوست، چاپ و تخنيك او سوداګرۍ په برخه کې په بې ساري ډول پرمختګ وشو، او خبرونه د تيلېفون او تيلګراف له لارې لېږدېدل، ډېرو سوداګرو هڅه کوله چې خپل اعلانات د ورځپاڼو له لارې خلکو ته ورسوي او په دې توګه د ډېرو کسانو پام ځانته راواړوي . له دې سره سم ډېرو ليکوالو او خبريالانو ته اړتيا پيداه شوه او په همدې توګه د رسنيو بازار هم تود شو چې پايله يې د يو ډول ټوليزو رسنيو زېږد وو .

د نولسمي پېړۍ په دوهمه نيمايي کې ژورنالېزم د واك او ځواك په توګه هم وپېژندل شو چې کولای شي ټولېز ټولنيز افکار، نظريات او اندوواند ته بدلون ورکړي . دغه لړۍ تر اوسه هم روانه ده :
ډېر سياسي او سوداګريزې ډلې ټپلې تل په دې هڅو کې دي چې د خپلې خوښې سره سم خلکو ته داسې مالومات ورسوي چې د هغوی نظر د دې ډلو ټپلو پر وړاندې پر مثبت لوري راوګرځوي .

# د ژورنالېزم ژانرونه يا ځېلونه

تر اوسه پورې خبريالانو او د ژورنالېستيك (1)پوهانو پرېکړه نه ده کړې چې څو ډوله ژورنالېزم شتون لري . ځکه چې د ژورنالېزم ځينې ډولونه چې په شلمه پېړۍ کې کارېدل، اوس نه کارول کېږي . لکه نوی ژورنالېزم چې په کال 1960 کې پېدا شو او هغه ژورنالېزم ته ويل کېده چې خبريالانو او ليکوالو بې پرې، ته هېڅ ارزښت نه ورکاوه او هېڅ ليکنه به يې د خلکو يا په ساده او راونه ژبه نه وه، بلکې ډېره په ادبي او عصري هغې . که څه هم چې د دې ليکوالو او ژورنالېستانو مالومات به ډېر کره ول، خو دوی ژورنالېستي بنستېز آرونه نه منل . همدا د دې لامل وګرځېد چې اوس دغه ډول ژورنالېزم نه کارول کېږي .
سربېره پر ډېرو نويو او ځينو زړو ژانرونو به دلته پر يو څو هغو بسنه راوړو چې اوسمهال لږ و ډېر کارول کېږي . که څه هم چې د دوی پر پېژند تر اوسه ژورنالېستانو پرېکړه نه ده کړې، خو ډېر منښت وړ او پېژندل شوي تعريفونه يې په لاندې ډول دي :

## استازندوی ژورنالېزم يا Advocative Journalim

د ژورنالېزم هغه ژانر يا ځېل ته وايې چې د يوې سياسي يا ټولنيز ې موخې لپاره په ځانخبري توګه د يوه ليدلور پلوي وکړي .

له پروپاګندا څخه يې توپير دا دی چې استازندوی ژورنالېزم بايد پر رېښتينولۍ ټيکاو ولري . د دې ځېل د استازيتوب او ګوتنيونې لوبغالی د سرمقالې تر پولو نه وځي او نه هم دا اجازه لري . مثلاً خبر چې بايد تل په بې پرې توګه وليکل شي او لوستونکو ته وړاندې شي، استازندوی ژورنالېزم يې په اړه خپل نظر وړاندې کوي .

د مثال په توګه :

که خبر ورکړل شي چې په افغان حکومت کې په بې ساري ډول بډي خواره، خونيان او په جرمونو ککړ کسان شتون لري، نوخبريال کولای شي چې د دې خبر په باره کې خپل نظر ورکړي، دغه دولتي کارمن مجرم وګڼي او د دوی په اړه د نياوي پرېکړې کړن وغواړي .

## د خلکو ژورناليزم ياCivil Journalism

دغه ژورنالېزم د تمريني ژورنالېزم په نامه هم يادېږي او هغه ژورنالېزم ته وايي چې په هغه کې د ټولنې خلك په خپله د مالوماتو او خبرونو په راټولو، چاڼولو، او وړاندې کولو کې برخوال وي . په دغه ډول ژورنالېزم کې د خلکو برخواليتوب يوازې دا موخه لري چې سم، د باور وړ، کره او د وس تر بريده هغه مالومات راټول شي چې د ولسواکۍ بنسټ جوړوي او هغه لا نور هم ځواکمنوي .

د دغه ډول ژورنالېزم بېلګې اوسمهال په لويدېځه نړۍ کې ډېـــرې دي، خو د يادولو هغوی يې د جنوبي کورياOhmynews وېبپاڼه ده .

په همدې توګه BBC ، CNN او الجزيري هم د خلکو لپاره په خپلو وېـــبپاڼو کې داسې برخه لري چې هر سړی کولای شي د يوې پېښې په باره کې خــــبر ورکړي او د پېښې کوم انځور او يا وينيز فېلم ورولېږي .

## مدني ژورنالېزم یاCivic Journalism

د پــــروفیـــــسور دېـــــوېډ. ك . پـــــــــــــېريDavid K. Perry
په نظر مدني ژورنالېزم هڅه کوي چې ولسي وګړي په هره ټولنيزه او سياسي پرېکړه کې د لوستونکيو او نندارچيانو په څېر نه، بلکې د برخوالو په توګه ومني .

د دغه ډول ژورنالېزم موخې په لاندې ډول دي :

• په ټولنه کې د خبريالانو د يوې کاري او فعالې ډلې جوړول چې خلـــــك پر پېښنو خبر کړي .
• د ټولنې لپاره د چاپي، اوريزو، وينيزو او برېښنايي خپرونو جوړول چـــې هر څوك وکړای شي خپل نظر څرګند کړي .
• هغو ستونزو او وييـنو ته وړاندې والی ورکول چې د عادي ولسي خلکو لـمن يې نيولې وي .
• په وييـنه کې د ولسي وګړو پر ټوليز الواك او نظر غور کول .
• د ټولنې د ټوليزو وړتياوو ځواکمنول .

## سيمه ييز ژورنالېزم یاJournalism Community

هغه ژورنالېزم دی چې د خپرواي ډګر يې يوازې خپله نږدې سيمه اوشا و خوا وي . دغه ډول ژورنالېزم ان د ملك د نورو ښارونو په اړه خبر نه خپروي . په دې ډول ژورنالېزم کې هڅه کېږي چې يوازې پر هغو پېښنو او وييـنو خبرې وشي چې ارزښت او اغېزه يې سيمه ييزه وي . لکه د ښوونځي، پوهنتون يا هم نورو ټولنيزو سيمه ييزو بنيادونو .

## څېړندوی ژورنالېزم یا Investigative journalism

هغه ژورنالېزم دی چې خبریالان د سیاسي، جرمي او یا کومې بلې رسوایي سکالو په باره کې چې ولسي خلکو ته د لېوالتیا او ارزښت وړ وي، څېړنه کوي او پایله یې د خبري ارزښت په پام کې نیولو سره ولس ته وړاندې کوي .
د یادونې وړ ده چې دغه ډول څېړنې له هغو سره توپیر لري چې د څارندویو، ساتندویو، حقوقي وکیلانو، څارګرو ادارو او خصي کومیسار له خوا کېږي .

## نکلي ژورنالېزم یا Narrative Journalism

دغه ژورنالېزم له آره د پېښو په باره کې نکل کوي . مانا دا چې هر پېښه د کیسې په څېر وړاندې کوي او د کیسې په څېر یې شننه کوي . له همدې کبله ورته ادبي ژورنالېزم هم وایي . که څېرې ښه ولیکل شي، ډېر اړین مالومات په ډېره ښه او ادبي ژبه وړاندې کوي . په دغه ډول ژورنالېزم کې خبریال د هغو پېښو نکل کوي چې خورا له ډېره وخته یې څېړلې وي . او کله ناکله په خپله لیکوال هم په پېښه کې په سیده یا ناسیده ډول برخوال ګرځېدلی وي .

## وینیز ژورنالېزم یا Visual Journalism

هغه ژورنالېزم ته وایي چې مالومات د ویو او انځور په مټ لیدونکو ته وړاندې کوي .

## څارونکی ژورنالېزم یاWatchdog Journalism

هغه ژورنالېزم ته وایي چې په ټولنه کې هغه پېژندل شوې څېرې، بنسټونه او ادارې پازوال یا مسئول نیسي چې په کړو وړو سره یې ټولنیز یا سیاسي ژوند اغېزمن کېږي .

## کولتوري ژورنالېزم
هغه ژورنالېزم ته وايي چې د يوه ملك كلتوري اړخونه تر څېړنې لاندې نيسي او موخه يې د كلتور پرمختګ او خپراوی دی . دغه ډول ژورنالېزم خپلې ليكنې د كره كتنې، پارترې او څېړنو په وسيله خلكو ته رسوي .

## موزيك ژورنالېزم
له آره د کولتوري ژورنالېزم څېرمه څانګه ده چې د موزيك په برخه كې خپلې ځانګړې بوختياوې لري .

## رسنيز (د رسنيو) ژورنالېزم
هغه ژورنالېزم ته وايي چې پر خبري رسنيو راڅرخي .

## تخنيكي ژورنالېزم
دغه ډول ژورنالېزم ټولې هغه ژورنالېستي څانګې تر پوښښ لاندې نيسي چې تخنيك پكې يو رغنده رول لوبوي . لكه ترانسپورت، ټېلې كوميونېكېشن، انرژي او . . . او دا چې د تخنيك په برخه كې هر ورځ ډېر چټک پرمختګ روان دی، نو خبريالانو ته ښايي چې په دې اړه ولس ته مالومات وركړي او دوی ته د مسلكي كسانو پوهه څرګنده او ورسوي .

## د اقتصاد ژورنالېزم
هغه ژورنالېزم ته وايي چې پر اقتصاد او سوداګرۍ راڅرخي .

## روزنيز ژورنالېزم

دغه ژورنالېزم ته وايي چې د زده کړو اړوند د دولت، ښوونځي، پوهنتون او ټولو نور علمي بنسټونو پر وړتیاوو، ښېګڼو او ټولو هغو کړنلارو بحث کوي چې پوهنيز سيستم سيده يا ناسيده اغېزمنوي .

## علمي (ساينس) ژورنالېزم

هغه ژورنالېزم ته وايي چې چې علمي څېړنې، پېژندنې او رابرسېرونې خلـکو ته په ټول جاج او مانا وړاندې او څرګندوي .

## د ژورنالېزم خپرنيز ډولونه

ژورنالېزم د خپراوي له مخې پر درو ډولونو وېشنه مومي :

**چاپي ژورنالېزم**: لکه ورځپاڼې، اوونيزې او مياشتنۍ خپرونې

**اوريز او وينيز ژورنالېزم** : لکه راديو او تېلويزيون

**برښنايي يا پر کرښه ژورنالېزم** : لکه وېبپاڼې

(1) ډېر خبريالان د (ژورنالېستيك) ويی د انګرېزۍ او فرانسۍ ژبې له مخې د ستاينوم په توګه کاروي . خو په المان کې ژورنالېستيك يو ځانګړې څانـګه ده چې پېژند يې په لاندې ډول دی :

ژورنالېستيك د ژورنالېزم پوهه ده . دغه پوهه د ژورنالېزم قواعد، ټولنـــې ته يې جوړې او هغه اغېزه څېړي چې پر ټولنه يې لري .

# ژورنالېستي څېړنه

## خبريال ولې څېړنې ته اړ دی؟

يو خوا خبريالانو ته ډېره اړينه ده چې خبر يې پر رښتينولۍ ټيکاو ولري، بلخوا دا ډېره ستونزمنه ده چې يو خبريال دسل په سلو کې د يوې پېښې په باره کې ريښتيني مالومات لاسته راوړي . د وخت کموالی، بيړه او په خپله د خبري رسنۍ اقتصادي اکر د دې تر ټولو لوی لاملونه ګڼل کېږي . ډېر به داسې کسان پيدا شي چې له خبريال سره يوې مرکې ته حاظر شي، هغه مالومات به ورکړي چې څه يې ليدلي وي او په پوره ريښتينولۍ به هم خپل نظر هم ورته ووايي، خو آيا دغه کس به په ريښيتا سره د پېښې په باره کې هر اړخيز پوره مالومات ولري؟
آيا دی به خبريال ته سل په سلو کې ريښتيا ووايي؟
نو له همدې امله خبريال دې ته اړ دی چې د مالوماتو په باره کې څېړنه وکړي . ځکه چې نه يوازې سياستوال، لوی لوی سوداګر او دولتي کارمن، بلکې د هرې پېښې ښکېل غاړي هڅه کوي چې تل له خبري رسنيو څخه ناوړه ګټه واخلي .

که څه هم چې هېڅوك له خبريال څخه داتمه نه لري چې بايد ټول خبرونه يې د سل په سلو کې پر رښتينولۍ ټيکاو ولري، خو د دې لپاره چې خبريال خپله ځانګيزه يا مسلکي پازه سرته رسولې وي، او نه يوازې ټولنې ته، بلکې خپل مسلك ته هم په ناغېړۍ ګرم نه وي، نو بايد تر خپله وسه پورې مالومات وځېړي .

# څېړنه

څېړنه چې په ادبياتو کې د ژورنالېزم يوه لويه برخه ګڼل کېږي، له آره د ژورنالېستي ليکنو په باره کې د پلټنو، پوښتنو او ځوابونو يو بهير دی .
يوازې څېړنه د يوه خبر نويوالی، ريښتنيوالی او ارزښت څرګندولای شي، نو له همدې کبله د خبرونو په امرنه، ليکنه ، خپراوي او سمون کې رغنده رول لوبوي .
که پر لاندې پوښتنو غور وشي :

- ولې يو خبر بايد لوستونکيو ته وړاندې شي؟
- ولې دا خبر د ټولنې لپاره اړين دی؟
- ولې بايد دغه لاسته راوړل شوي مالومات د خبر، راپور، راپورتاژ، مرکې يا هم فيچر په توګه وليکل شي؟

د دغو پوښتنو راځوابولو ته خبريال اړ دی چې دې همدې لاسته راوړل شويو مالوماتو په باره کې څېړنه وکړي . او د همدې څېړنې له لارې ځان پوه کړي چې دغه مالومات لوستونکيو ته په کومه بڼه د ښه ترا لوست او پوهاي جوګه کېدای شي . څېړنه د خبريال لپاره هغه ننګونه ده چې هره شېبه به خبريال ورسره لاس اوګرېوان وي . هغه خبريال چې د يوې پېښې په باره کې د مالوماتو په راټولونه کې ناغېږي کوي، يا هم ګرد سره څېړنه نه کوي، د ژورنالېزم يو اساسي بنسټ له پامه غورځوي .

که خبريال په بې پرې توګه، پوره پاملرنه او له مسلکي ځانګړتياوو څخه کار واخلي، هم به څېړنه اسانه وي او هم به د خبر پر ارزښت ډېر ژر او سم پوه شي . خبريال کولای شي چې د يوه سياستوال په خبرو ځان کوڼ واچوي . ځکه

چې دغه سياستوال به په تېر وخت کې هم داسې خبرې په وار–وار کړې وي .
خبريال کولای شي چې د يوه خبر په باره کې لمړی سوچ وکړي چې ولې دغه خبرځای يا شخص داسې مالومات ورکړل . همداراز بايد سوچ وکړي چې آيا دغه خبر د دې وړتيا لري چې په اړه يې څېړنه وشي که نه . که مالومات څه ناڅه د څېړنې وړ وي، خبريال بايد سوچ وکړي چې په دې اړه لمړی له چا څخه نور مالومات وغواړي، له چا سره مرکه وکړي او آيا د مرکې لپاره به کوم کس مناسب وي .

خبرځای يا د خبر سرچينه بايد تل وپېژندل شي او له خبر سره يې جوخت نوم وليکل شي . هغه خبرونه چې خبرځای يې مالوم نه وي، ښه به دا وي چې خبريال يې له خپراوي ګرد سره تېر شي . او که د څېړنې ارزښت ولري، بايد لمړی وڅېړل شي .

هر خبر چې د دولتي سرچينو لخوا خبريال ته ورکول کېږي، کېدای شي چې پرته له څېړنې خپور شي . هر ګوره، بايد خبري ارزښت ولري . که چېرې خبر دروغ هم وي، خبريال پازوال نه نيول کېږي، بلکې اړوند دولتي ادارې .
خبريال همداراز کولای شي چې د خبري آژانسونو خبر هم د خبرځای له څېړنې پرته خپور کړي .

سربېره پر دې ډېر خبريالان په دې اند دي چې خبري آژانسونه هم پوره د باور وړ نه دي . که چېرې يوې خبري رسنۍ د کوم آژانس په وينا يو اړين خبر خپور کړی وي، خو خبريال ته شکمن ښکاري، نو ښه به دا وي چې خبر رېښتيا ونه ګڼل شي او خبريال يې د سپيناوي لپاره لږ تم شي . ځکه چې د خبري رسنۍ لپاره يې خپل باور ډېر اړين دی او بايد هېڅ وخت يې له لاسه ور نه کړي .

هر څومره چې يو خبر تود وي، همدوره يې مانا او اغېزه ډېره وي . نو ځکه بايد هغه خبرونه چې د کوم کس په باره کې وي، په بې پروايۍ سره خپاره نه شي . ځکه چې په داسې اکر کې د شخصي ګټو او عزت خبره ده . خبريال بايد تل له خپلې مسلکي ورتيا څخه ګټه واخلي او هر خبر په مسلکي توګه وڅېړي، وامري، وليکي او بيا يې خپور کړي .

## څېړندود

د هرې څېړنې موخه چې د رښتينولۍ د پيداکولو او د پېښو په باره کې وي د "څه شی، څوك، چا، چېرې، څه وخت، ولې، څنګه او خبرځای" پر پوښتنو راڅرخي . دغه پوښتنې سړی کولای شي چې د پېښې له ښکېل او مسلکي کسانو، پوهانو، بې پرې عالمانو، او پر پېښو پورې اړوند ادارو څخه لاسته راوړي . هر اداره د رسنيو د قانون له مخې بايد خبريال ته مالومات ورکړي . د نورو مالوماتو لپاره خبريال کولای شي په کتابخونو، اېنټرنېټ او له شخصي ملګرو څخه مرسته وغواړي .

پر دې سربېره هر خبريال بايد له ځان سره د هغو پوښتنو يو نوملړ هم جوړ کړي چې د پېښې په اړه نور مالومات راټولولای شي . دی کولای شي چې لمړی د پېښې د بانديونيو اړخونو يا څرګندو پايلو په باره کې څېړنه وکړي، لکه په يوه بمي چاودنه کې د مړو او زخميانو شمير . همداراز خبريال کولای شي چې د پېښې د شاليد، ښکېل کسانو او د هغوی د موخو په باره کې څېړنه وکړي . کېدای شي د پېښې په باره کې له ساتنديو او څارندويو سره خبرې وشي او له هغوی څخه د نورو خو همدا ډول پېښو په اړه مالومات واخېستل شي . په داسې اکر کې خبريال بايد د دوی نومونه، د مرکې نېټه او ځای له ځان سره يادښت کړي .

هغه لاسوندونه چې خبریال یې له دوی یا نورو دولتي او ملکي ادارو څخه لاسته راوړي، باید له ځان سره وساتي . داشوني ده چې د یوه خبر له خپراوي وروسته دولتي کارمن، ساتندویان او څارندویان په خپله خبر پښېمانه شي، خبریال پر دروغو تورن کړي . په داسې اکر کې همدغه لاسوندونه مرستندوي کېدای . همداراز کېدای شي له همدې لاسوندونو څخه په راتلونکې کې هم ګټه واخېستل شي .

هغه پېښې چې دوه غاړې پکې ښکېل وي، لکه د وردکو او د بهسودو په پېښه کې چې د کوچیانو او هزاره ګانو تر منځ او یا د تخار ناورین چې د سلو په شا اوخوا کې پښتني کورنۍ کلابند شوې دي . په داسې پېښو کې خبریال اړ دی چې له دواړو خواوو سره خبري وکړي . او د دواړو غاړو غوښتنې، دلائل او نظرونه واوري . خبریال کولای شي چې د دواړو خواوو د رسمي او غیر رسمي لاسوندونو کاپي هم واخلي او له ځان سره یې وساتي . همداراز ښایي چې د دواړو غاړو د مشرانو سره خبرې وشي او ثبت شي . د دې تر څنګ، خبریال ته ښایي چې د پېښو له لیدونکیو(شاهدانو) سره هم خبري وکړي، د هغوی نومونه، د مرکې نېټه او د ښار یا کلي نوم له ځان سره ولیکي . د اړتیا په اکر کې خبریال کولای شي چې له دغو کسانو سره په وار-وار خبري وکړي چې د ستونزې په باره کې لا ښه ترا مالومات تر لاسه کړي .

## انګازه

د څېړنې په وخت کې کېدای شي چې یو خبریال له انګازو سره مخ شي . یو خوا خبریال په بیړه کې وي چې ژر خبر ورکړي، بلخوا مالومات کره نه وي . د خبریال لپاره په داسې اکر کې لازمه ده چې دغه ډول انګازې ګرد سره په خپل

خبر کې ونه ليکي . انګازه کولای شي په لنډ وخت کې د يوه شخص شخصيت، پانګې ابرو او عزت ته زيان ورسوي .

خبريال بايد لمړی د دغې انګازې پر ارزښت او لوستونکيو ته يې د لېوالتيا پر لامل سوچ وکړي . که چېرې ټولنې ته د دغه انګازې اړينتيا او لېوالتيا د خبري ارزښت پر بنسټ لږ وي، او يا دا انګازه په خپله د دې ارزښت ونه لري چې خبريال د هغې په باره کې پلټنې وکړي، نو ښايي چې ګرد سره ترې تېر شي . خو که بياهم خبريال غوښتل چې خبر خپور کړي، نو بايد له خبر سره د انګازې ويی جوخت وليکي .

خو که چېرې د انګازې ارزښت ډېر وي او پر يوه خورا اړين سکالو راڅرخي، نو خبريال ته ښايي چې په اړه يې څېړنه وکړي . د څېړنې په بهير کې يوازې د يوه ساتندوی يا څارندوی، يوه دولتي کارمن، يو بل خبريال يا هم د خبريال د کوم ملګري خبره بس نه ده . خبريال بايد ډېر لاسوندونه پيدا کړي . که چېرې د انګازې له مخې په پېښه کې د ښکېل کسانو څه پته ولګېده، خبريال کولای شي له هغوی سره خبري وکړي . دا خو مالومه خبره ده چې هېڅ څوك به ځان په خپله رسوا نه کړي، خو خبريال کولای شي چې د پېښې له ښکېل کسانو سره په ملګريتوب خبرې اترې وکړي او له هغوی سره هغه وخت خبرې وکړي چې د دوی خوښه وي . خبريال نه څارنوال دی نه څارندوی . د خبريال دنده د تورن شخص نيول نه دي، بلکې يوازې او يوازې د پېښو ثبتول، د ښکېل کسانو د شتون او د هغو تورونو ثبتول دي چې دوی ته مخامخ کېږي .
د بېلګې په توګه، که لوې څارنوال يو څوك تورن ګڼي، نو خبريال ته ښايي چې د غه تور له خپلې خولې په خپلو ويو کې ونه ليکي، بلکې د څارنوال له خولې يې وليکي . او هېڅاته د مجرم خطاب ونه کړي .

# د ژورنالېزم ژبه

## په ژورنالېزم کې د روانې او ساده ژبې اړتيا

که د ادبياتو د ژبې ښکلا په عشقي، شعري، نثري، عصري، اوږدو او پېچلو غونډلو او ويو کې ده، د ژورنالېزم هغه په ساده ګۍ او روانۍ کې ده . د بې بې سي د يوه همکار په وينا ادبيات د يوه شي د ليکلو هنر دی چې ښايي د سم پوهاوي په موخه دوه ځلې ولوستل شي، خو پر ژورنالېستي ليکنو بايد سړی په بيړه کې هم پوه شي . ډېر خلك په دې اند چې د ادبياتو ژبه د ژورنالېزم له هغې څخه د ښه ترا وړتيا او څرنګوالي خاونده ده، خو بايد وويل شي چې په ژورنالېزم کې د ژبې وړتيا او څرنګوالی په ښکلا پورې اړه نه لري، بلکې په دې چې څومره ښه ترا د پوهاوي وړ ګرځي او لوستونکيو ته خپل پيغام رسولای شي که نه . نو له همدې کبله بايد د ادبياتو ژبه د ژورنالېزم له هغې سره پر تله نه شي .

د ژورنالېزم دنده خلکو ته د مالومات رسول دي . او دغه مالومات رسول د ژبې په ښکلا سره لکه ادبيات يې چې غواړي، نه کېږي، بلکې د ژبې په څرګند، سم او پر ځای کارولو سره . دا چې ژورنالېزم د ټولنې د ټولو خلکو لپاره خپرونې کوي نو بايد چې د خلکو ژبه وکاروي . او هر څومره چې دغه ژبه روانه او ساده وي، همدومره د ښه ترا پوهاوي وړ ګرځي .

په ادبياتو کې بيا د ژبې هنري او ادبي جوړښت ډېر اړين دی . ادبيات ټولنې ته هنري او خيالي پيغام وړاندې کوي، حال دا چې ژورنالېزم د رېښتينو پېښو په باره کې خبر ليکي او هڅه کوي چې هر څه بايد پر رېښتينولۍ

ټيکاو ولري . خو ادبيات هغه څه ليکي چې زړه يې وغواړي . له همدې امله
بايد په ژورنالېزم کې د ادبياتو له ژبې څخه تر وسه ډه ډه وشي .
د ښه او مناسب ليکلو لپاره نه کوم ځانګړی دوی (قاعده) شتون نه لري او نه
هم څوك کولای شي چې يو شی قاعده وګرځوي . د بي بي سي همکار،
هېنري ډبليو فوولر وايي :
"کله چې يو ليکوال پوه شي چې د ليك په وخت کې څه شي ونه کاروي، نو تر
ټولو ښه ليکلارښود يې خپل کړی دی ."

ښه ليکل يوه اړتيا ده، نه عصري توب . په ژورنالېزم کې ښه ليکل هغه ته
وايي چې لوستونکيو ته خپل پيغام ورسولای شي . يو خوا د مناسې ژبې
کارول اسانه نه دي، بلخوا خبريال بايد تل بيړه وکړي چې يو خبر ژر وليکي،
خو بيا هم دا د دې دليل نه شي کېدای او نه بايد وګرځي چې خبريال يو خبر
داسې وليکي چې وروسته له خپراوي څخه نه پرې لوستونکي پوه شي او نه
دی په خپله .

ژورنالېزم ځينې لارښوونې وړاندې کوي چې خورا ډېرې اړينې او مرستندويې
دي، خو پاملرنه :
دا لارښوونې دي، کومه قاعده نه ده!

## لنډ او څرګند ليکل

لنډ او څرګند ليکل د ژورنالېزم استازيتوب کوي . د بي بي سي د يوه
همکار مېتيو آرنولد په وينا، "که غواړئ چې څه شی ووایاست، نو تر
کېدونه يې څرګند ووایاست ."

نو خبريال ته ښايي چې خپلې ځانګې او لوستونکيو ته په درنښت او مينه سره خپله ليکنه تر وسه څرګنده او لنډه وليکي .
له بده مرغه چې زموږ ځينې ليکوال او خبريالان د ځان ښوونې په موخه خپله ليکنه دومره اوږده کړي لکه پر يوه ډېر پېچلي فلسفي سکالو چې خبرې کوي او يا لکه چې دی په خپله هم د سياست يا ادبياتو يا هم د فلسفې ستر پوه وي .

د بي بي سي همکار جان وېلکېنز وايي :
"په ليکنه کې خپوالی، تتوالی او خږوالی د تياره مغز نښه او لاسوند دی ."
نو خبريال او ليکوال ته ښايي چې په هره ليکنه کې يې موخه مالومه وي چې څه ويل غواړي . ډېر خبريالان او ليکوال د خپلې موخې پر شا او خوا راڅرخي، خو پر زړې يې يا پر آر سکالو خبرې نه کوي او نه هم په څرګند ډول ليکي چې خبره څه ده .

په هر ليکنه کې بايدتر کېدون پورې ويې ساده او غونډلې يې لنډې وي . د دې لپاره چې ټولې غونډلې په آهنګ او ښه کې يو ډول نه وي، خبريال کولای شي چې د لنډو غونډلو بهير په مناسبو اوږدو هغو هم غوڅ کړي، خو داسې نه چې په يوه اوږده غونډله سره د ټولې ليکنې موازنه له منځه يوسي . خبريال بايد هڅه وکړي چې اړين څېزونه په آر غونډله کې وليکي او لږ اړين هغه په څېرمه غونډله کې .

د دې لپاره چې ليکنه لنډه وي، ښايي چې تر وسه پورې د هر ويې اړتيا د غونډلې د رغښت، جاج او مانا پر بنسټ وکتل شي . او د اړتيا د نشت په اکر کې ترې ډډه وشي . د پردی ژبې د ويېو پر ځای يا بايد پښتو وکارول شي او يا هم تر وسه ډډه ترې وشي . خو د اړتيا په اکر کې بايد هر پردی ويی يو ځل څرګند او وشنل شي .

هر څومره چې يو ويی څو څپيز وي، همدومره يې وينګ ستونزمن دی . د دې لپاره چې يو ويی هم په اسان ډول ولوستل شي، او هم د ټولو لوستونکيو لپاره د پوهاوي وړ وي، نو ښايي چې پر ځای يې د کېدون تر بريده يو لنډ او ساده ويی وليکل شي .

بايد په هر پراګراف کې غونډلې له يو بل سره سوليزې (منطقي) اړيکې ولري او يوه پر بله پسې د متن مانا بشپړه کړي . خبريال بايد مخکې له ليکلو څخه هره غونډله يو ځل له ځان سره ولولي چې آيا روانه لوستل کېږي که نه . هره غونډله چې بايد د ښه ترا پوهاوي لپاره دوه ځلې ولوستل شي، بايد له سره او په نورو روانو ويو سره وليکل شي .

بايد تل هڅه وشي چې غونډلې په چارنومپېر (اکتيف) کې وليکل شي . دا ډول غونډلې ژوندی، اغېزمنې او ځواکمني وي، ژر– ژر لوستل کېږي او د پښوييزې (ګرامري) له ډېرو پېچليو جوړښتونو او فورمولونو څخه مخنيوی کوي .
دا چې د خبريالانو تل له پېښو سره کار وي چې چا څه شی وکړل، نو دغه ډول پوښتنې په چارنومپېر کې په ښه ترا ډول ځوابېږي .

بله دا چې بايد د کړن سرچينه مالومه شي . په دې مانا چې لوستونکي بايد ژر پوه شي چې د چا له خوا يو کار کړل شوی دی . نو د دې لپاره چې بايد د کړن (عمل) سرچينه يا کړند (فاعل) په خپله مالوم شي، ښايي چې غونډلې تر وسه په چارنومپېر وليکل شي . د مثال په توګه :
که يو وزير يا ولسوال په خپله دوره کې پر ولس کوم جوپړ پېرزو کړی وي، نو وايي چې :
"ما لس سړکونه جوړ کړل، دوه مې روغتونونه جوړ کړل او څو مې . . . "

خو که یو ناکام ولسوال وي، بیا وایي :
"هو، سهوې وشوې، خو موږ لګیا یو چې کارونه سم کړو ."

په لمړی غونډله کې ښاغلی ولسوال د (ما) نومځری راوړي . په دې سره غواړی چې خلك وپوهوي چې دا ټول "ښه کارونه" ده او یوازې ده کړي دي .
خو په دوهمه غونډله کې بیا هغه کس نه دی مالوم چې "سهوې" یې کړې دي . دی نه وایې چې "ما سهوې وکړې"، بلکې پرِه په یوه نامالوم کس اچوي .
همدرانګه د "سهوو سمولو" لپاره بیا د "موږ" نومځری راوړي . په دې سره بیا خلك غولوي چې دوی خو ریښتیا غلطۍ سموي .

یا هم :
(د بر کلي ګلاجان ماما ووایي چې) په وردکو کې لس پلونه جوړ شول .
که چېرې د غونډلې لمړیۍ برخه وغورځول شي یا هم ورسره ولیکل شي، کېداې چې لوستونکیو ته ډېره د منښت وړ نه وي چې ګواکي ریښتیا د لس پلونه جوړ شوي وي . خو که ولیکل شي چې :
د کلیو او پراختیا وزیر وایي چې په وردکو کې یې لس پلونه جوړ کړي دي .
په دغه چارنومېېر غونډله کې کړند مالوم دی او په دې سره د وینا سرچینه هم . باید لمړی وویل شي چې "چا" څه شی وکړل او وروسته له هغې "څه شی وشول" ځواب شي .

باید هڅه وشي چې د منفي غونډلو پر ځای مثبت غونډلې ولیکل شي .
لکه :
ښاغلی وزیر په خپل کار کې بریالی نه شو .
دغه غونډله د (نه) په کارولو سره منفي غونډله ده، خو که وویل شي چې :
ښاغلی وزیر ناکام شو .
دا یوه مثبه غونډله ده چې مانا یې منفي دی .

ځيني غونډلې کېداى شي چې لوستونکيو ته د سم پوهاوي جوګه نه شـــي او دوى ته شك پيدا کړي . لکه :
کورته له راتګ وروسته سپين ګل پينځوس روپۍ راکړې .

که څه هم چې د دې ډول غونډلې سم پوهاوى له متن څخه کېدونى دى، خو بيا هم ژورنالېزم وايي چې بايد تر وسه ترې ډه ډه وشي . ځکه چې دلته لوستونکي ته پوښتنه پيدا کېږي چې :
زما له راتګه وروسته سپين ګل پينځوس روپۍ راکړې که د سپين له راتګه وروسته .

لکه څنګه چې د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد(ص) فرمايلي دي چې له خلکو سره بايد د هغوى د پوهې په کچه خبرې اترې وشي ، نو هره ليکنه چې د هر چا لپاره وي، بايد داسې وليکل شي چې همغه ټولى خلك پوره پوه شي چې د ليکنې پيغام څه شى دى . په دې مانا چې که خبريال يا ليکوال د ماشومانو لپاره څه شى ليکي، د هغوى په ژبه يې بايد وليکي او که د بزګرانو لپاره څه شى ليکي، نو د هغوى د پوهې مناسبه ژبه د وکاروي . همداسې د نورو لوستونکيو لپاره .

# انځوريز ليکل

هر څومره چې يوه ليکنه انځوريزه وي، همدوره ژر به د پوهاوي وړ وګرځي .
په دې مانا نه چې له هر ويي سره سم د انځور هم وکښل شي، بلکې :
د يو شي لويوالی بايد د بل شي له لويوالي سره په مثال کې څرګند شي . د
بېلګې په توګه که د افغان دولت کوم بولنتون دېرش په دېرشو کې لوی وي،
نو ښايي چې وليکل شي :
د افغان دولت دغه بولنتون (قرارګا) دومره لوی دی چې له لسو څخه تر پنځه
لسو ټکسي ګاډي پکې ځايېږي .

که د افغان دولتي کارمنو رزمنه يا معاش پينځه څلوېښت ســــلنه ډېر شوی
وي، نو ښايې چې وليکل شي :
د افغان دولتي کارمنو رزمنه کابو دوه چنده شوې ده .

د انځوريزې ليکنې لپاره بايد خبريال له ستاينومونو څخه ډه ډه وکړي . ځکه
چې يوخوا ستاينومونه په ژورنالېزم کې د بې پرېوالي له امله ځای نه لري،
اوبلخوا پوهاوی ستونزمنوي . په دې مانا چې خبريال د نه وايي چې ښه، بد،
غمګين، ډارېدلې او . . . بلکې ښايي چې هر څه وسپړي او قضاوت خلکو ته
پرېږدي . د بېلګې په توګه که افغانان د امريکايانو پر ضد لاريون کوي، نو
خبريال د نه ليکي چې :
کليوالو په داسې حال کې لاريون وکړ چې ډېر قهرژلي ول .
يا : ماشومان ډير وېرېدلي ول .

په داسې غونډلو کې دا څرګنده نه ده چې کليوال څه ډول قهرژلي او ماشومان
څنګه ډارېدلي ول .
خبريال ته ښايي چې وليکي :

کليوالو لاريون وکړ . دوی د امريکا بيرغونه وسوزول، او مرګ پر امريکا او د غچ اخېستلو نارې يې وهلې .

ماشومان په خپلو کورونو کې د مور تر شا او د خونو په کنجونو کې پټ ول . دوی د بمبارد له وېرې نه شوی راوتلای .
په دې غونډلو کې په ښه ترا توګه څرګندېږي چې کليوال قهرژلي ول او ماشومان ډارېدلي . د دې ډول غونډلو په لوست سره لوستونکي پوهېږي چې د کليوالو او ماشومانو څه حال وو .

خبريال بايد هر شی په خپل نوم ونوموي . مانا دا چې د هرې ونې، ګاډي، دوکان او . . . نوم واخلي .
هر نوم چې په غونډله کې د کړند په توګه کارول شوی وي، او د دې اړتيا پيدا شي چې بايد بيا واخېستل شي، نو بايد چې تکرار شي . په دې مانا چې که په يوه متن کې د کندهار نوم څلور وارې اړين وي، نو بايد څلور وارې کندهار وليکل شي . هېڅ کله بايد داسې ونه شي چې يو ځل کندهار، دويم وار جنوب لويديز ښار، دريم وار د طالبانو سرچينه او څلورم ځل د ملا عمر پخوانی بولنتون وليکل شي .

## څانګيز او د پردۍ ژبې ويي

د نړۍ له نني چابك او ګړندي پرمختګ سره سم په هره څانګه کې د نويو وييو اړتيا ليدل شوې ده چې د همدې څانګو پوهانو په خپل وار سره مناسب ويي هم ورته جوړ يا له پردۍ ژبې څخه را اخپل کړي دي . دغه نوي ويي تر ډېره ځايه ژورنالېزم هم تر اغېزې لاندې راولي . خو له بده مرغه چې دغه نوي

ويي نه يوازې چې زموږ دوروسته پاتې وطن په اړوندو څانګو کې نه دي ژباړل شوي، بلکې خبريالان يې هم په خپله آره بڼه کاروي چې ډېرو لوستونکيو ته د پوهاي جوګه نه ګرځي . لکه د طب، تخنيك، يا د کومې خيريه ټولنې او ياهم د کوم بنياد د نوم لنډيز . خبريال ته ښايي چې لمړی له همغې اړوند اداري څخه ورته د مناسب ويي غوښتنه وکړي او بيا يې په خپل راپور کې وسپړي . خو که دا شونې نه وي، نو با يد يو ځل يې پوره نوم وليکل شي، بيا وسپړل شي چې موخه يې څه ده او د بيا-بيا کارولو څخه يې بايد تر وسه ډه ډه وشي .

د يادونې وړه ده چې د خبريالانو لپاره د بي بي سي د ليکلارښود په کتابګوټي کې ليکل شوي دي چې ګواکې خلك (انګرېزان) له بي بي سي څخه د دې تمه لري چې د دوی هويت يا "انګريزوالی" له امريکاييوالي څخه وساتي او تر وسه خپل آر انګريزي ويي وکاروي . په دې سره بي بي سي خپل ټولو خبريالانو ته لارښوونه کوي چې دغې غوښتنې ته بايد ډېر-ډېر پام وشي . خو له بده مرغه زموږ خبريالان هغې ويي کاروي چې افغان ټولنې ته پردي و ان د اساسي او د رسنيو د قانون ضد وي .

## خپلواك او په بې پرې توګه ليکل

له تبصرې پرته خبريال بايد تل خبر، رپوټ، راپورتاژ، فيچر او انځور په بې پرې توګه وليکي . خبريال بايد هېڅ وخت د بل چا خبره خپله ونه ګرځوي او هر ډول مالومات، انګازې، ويناوې او رښتينې پيښې په بې پرې توګه وسپړي . که څارنوال ووايي چې احمد يې د غلا په تور نيولی، نو خبريال اجازه نه لري چې احمد ته په "خپله ژبه او ليکنه " کې د مجرم لقب ورکړي .

ځکه چې دا نیاوي پرېکړه د نیاومن په لاس کې ده چې آیا احمد غل دی که نه .

هر خبریال چې د چا وینا رانکلوي ، نو باید چې د هغې نوم ورسره ولیکي . خبریال کولای شي چې وینا په سم سیده او ناسیده ډول رانکل کړي . په هر خبر کې د وینا نکل په ناسیده توګه غوره ده . ځکه چې په غیر مستقیمه وینا کې خبریال له وینا او د وینا له ریښتینولۍ څخه واټن نیولای شي . همداراز لوستونکي په خپله پوهېږي چې یوه ناسیده رانکل شوې وینا څنګه وارزوي .
د بېلګې په توګه که د کورنیو چارو وزیر وایي :
" د اختر ورځ د نمانځنې لپاره مو په پوره امنیتي لارو چارو لاس پورې کړی دی ."
دغه وینا ښایي چې په لاندې توګه رانکل شي :
د کورنیو چارو وزیر وایي چې د اخترورځ د نمانځنې لپاره یې په پوره امنیتي لارو چارو لاس پورې کړی دی .
دلته خبریال د وزیز له وینا څخه واټن ونیو، ځکه چې خبریال پوهېږي چې داسې به هم "پوره امنیتي لارې چارې" نه وي نیول شوې لکه دی چې وایي .
خو که ولیکل شي چې :
"د کورنیو چارو وزیر په پوره امنیتي لارو چارو لاس پورې کړی دی ."
دلته داسې ښکاري لکه خبریال چې پوره–پوره خبر وي چې په ریښتیا هم ښاغلي وزیر په پوره امنیتي لارو چارو لاس پورې کړی دی . خو دا په دې مانا نه چې هرومرو به یې دا کار کړی وي . نو ځکه خبریال اړ دی چې د کورنیو چارو د وزیر له وینا څخه واټن ونیسي او په ناسیده توګه یې رانکل کړي تر څو خلکو ته اشاره وکړي چې وزیر خو داسې وویل، نو که ربښتیا وي که دروغ، وزیر پوه شه او کار یې .

خبريال هېڅ وخت بايد په خپله ليکنه کې د وطن کوم توکم ته سپکاوی ونه کړي . او د دې ارتيا خو ګرد سره نشته چې د هر چا د نوم تر څنګه دې د هغه توکم هم وليکل . لکه :
افغان سفير غلام علي هزاره/تاجك/ازبك/ بلوڅ . . . . پښتون دی .

خبريال هغه وخت کولای شي چې د يوه کس توکم هم ورسره ياد کړي که چېرته د سکالو يو اړين اړوند اړخ وي .

## دوديزې ورځنۍ څرګندنې (اصطلاحات)

کله-کله هم خبريالان په خپلو ليکنو کې دوديزې څرګندې کاروي . دوی په دې اند دي چې ګواکې دا د خلکو ژبه ده او د دوی لپاره يې پوهاوی اسانه دی . خو د خبريالانو پام نه وي چې همدغه څرګندنې کېدای شي چې څو ماناوې ولري . د بېلګې په توګه :
ډېر داسې کسان شتون لري چې خپلو کوشنيو ماشومانو ته "حيوانان" هم وايي .
يا هم :
. . . خو احمد دوې پښې خپلې کړې دوې پردۍ .
ډېر لوستونکي پوهېږي چې احمد وتښتېده ، خو بيا هم د دې ډول څرګندنو کارول په ژورنالېزم کې غلط دي . همداراز دا لاندې مثال :

http://larawbar.net/detail.php?id=8492&date=2009-01-25
د خبرونو له مخې نا معلومو کسانو شاهد ملك ته ټلېفونونه او ايميلونه کړي او له هغه څخه يې غوښتي چې که له هندهU پښې سپکې نکړيU، وبه وژل سي .
" . . . د قانون منګلو ته وسپاري ."

دا هم ډېره په زړه پورې څرګندنه ده، خو پوښتنه دا ده چې :
د قانون منګولې څه ډول وي؟
که زموږ د قانون منګولې داسې وي لکه ننيو وران کاريو او مجريمينو چـــې زولنې وراچولې دي، نو بيا خو تر دې منګلو مات لاس ښه دی .
همداسې بايد نورو څرګندنو ته هم پام وشي لکه په لاندې خبر کې :
http://lifeinafghanistan.wordpress.com/2009/01/06/
. . . زرداری به نن شپه په کابل کی وی او د بيګا ډوډی به دګلخانـــــــې په ماڼۍ کې Uنوش جانU کړي .

آيا خبريال په ريښتيا هم دې ته اړ وو چې د خوړلو پر ځای "نوش جان" وليکي؟
ځينې خبريالان بيا د يوه ملك پلازمېنه د همغه ملك د دولت په مانــا کاروي .
لکه : کابل او مسکو دفاعي تړون لاسليك کړ .
دلته د افغان دولت د استازيتوب لپاره د کابل ويی کارول شوی دی او د روسيې د هغه لپاره مسکو . دا ښه کېدون لري چې په ټولنه کې ډېر کسان پوه نه شي، هغه هم که په همدې متن کې د کابل او مسکو ويي په خپل آره مانا بيا-بيا راشي . په داسې اکر کې به پوهاوی ګرد سره نور هم ګران شي .

بل پلو د متلونو کارول هم همداسې ستونزمن دي، ځکه چې متلونه يوه ټوليزه مانا لري، حال دا چې په ژورنالېزم کې بايد تر وسه ټوليزوالی په ځانګړيتوب بدل شي . متلونه همداراز له آره يوه تبصروي او ارزوونکي بڼه لري چې کيدای شي يوه خبر ته رنګ ورکړي . همداسې به شونې وي چې له يوه متل څخه ډول-ډول جاج او مانا واخېستل شي . نو له همدې کبله بايد په هغو ليکبڼو کې چې موخه يې خبرول وي، متلونه ونه کارول شي، خو په طنز او تبصره کې يې کارول سم دي، هر ګوره، هر شی په خپله اندازه سره .

## پرتله کول

په ژورنالېزم کې ځيني وخت د دې اړتيا پېښه شي چې يو څيز چې پوهاى يې خورا ګران وي، د بل شي سره پرتله او د هغه په رڼا کې وسپړل شي . خو بايد بې ځايه پرتله کول ونه شي . لکه :
مينا داسې ښکلې ده لکه د کوهې قاف څخه چې راغلې وي يا هم لکه د کوهې قاف ښاپېرۍ .
ډېر خلك پوهېږي چې د کوهې قاف خيالي نجونې ښکلې دي، خو کوهې قاف چېرته دى؟ آيا کوم ځل هلته څوك ورغلي دي؟ آيا کله هم چا د کوهې قاف پېغله ليدلې ده؟ که يې ليدلې وي، يو ځل خو د ووايي چې سترګو يې تورې دي که شنې .
يا هم :
احمد داسې څرك سړى دى لکه ګيدړه .

ډېر خلك پوهېږي چې دا غونډله څه مانا ورکوي، خو ښه دا ده چې د احمد کړه وړه وسپړل شي . قضاوت بايد خلکو ته پرېښوول شي چې آيا احمد رېښتيا هم څرك او وېښيار دى که نه .
له دې ډول پرتله کولو څخه بايد تل ډه ډه وشي .

له سکالو څخه د وتون په موخه د بي بي سي د همکار جانتن سوېفت وينا را اخلم چې وايي :
"ښه ليکلار هغه دى چې مناسب ويي په مناسب ځاى کې وکارول شي . "

ډېر داسې خبريالان شته چې پورتنيو څو ټکو ته هيڅ پاملرنه نه کوي . دوى د ساده او رواني ژبې پر ځاى له بده مرغه خپل ګړدود کاروي او نورخبريالان هم

دي ته هڅوي چې خپلې ليکنې په خپله سيمه ييزه ژبه وليکي . ښه بېلګه يې د ښاغلي سمون لاندې ګېله ده :

## افغان ليکوالانو کې سمت پرستي

http://www.benawa.com/fullstory.php?id=20062

څوځلي يې راته وويل ، ته خو څه د کندهار ولايت اوسېدونکی نه يې ، چـــي داډول ليکدود کاروې ، ماورته څو ځلي وويل داپه دې پوري اړه نه پيداکوي ، چـــي څوك . دکندهار اوسېدونکی وي ، او کندهاری ليکدود دي وکاروي دي

په هرصورت زه ،دننګرهار اوسېدونکی يم ، خو هغه څه چي راته مالومه او مـــنطق راسره مني ، هغه داده چي موږ هېواد کي هرڅوك ډول ډول ليکني کوي ، خو يـــې پکښې کاروي ، هغه ټول خپل دسيمي پوري اړوند ليکدود پکښې کوم ليکدود چي وروستيو کي د ليکدود پر سر ډېر بحثونه شوي دي ، چي کارول شوی وي ، پـه دې . تر ډېره يې کومه ګټه نه درلوده . . . .

سمون - ننګرهار

هو، په رښتيا سره هم چې زموږ ډېر ليکوال د سمت پالنې ښکار شوې دي چې نه يوازې يې پښتانه سره وېشلي، بلکې په يوويشتمه پېړۍ کې تر اوسه يوه ستندرد او ټول منلې پښويه هم نه لري . د ښاغلي زيار پښتو پښويه او ليکلارښود په لوی لاس ردوي .

# ژورنالېستي ليکبڼې

خبري رسنۍ او خبريالان تل هڅه کوي چې نوي او د ورځنيو پېښنو اړوند مالومات يا ټولې هغه ليکنې چې دوی يې خپروي، لوستونکيو ته په هغه بڼه وړاندې کړي چې د دوی د بڼه ترا پوهاوي وړ وګرځي . له همدې امله خبريالاڼو ان له پېړيو دا هڅه کړې ده چې د غوره جوپړ په موخه په ژورنالېزم کې ډول-ډول ليکبڼې جوړې کړي . دوی په دې اند دي چې د مناسبې ليکبڼې امرل يوازېنۍ لاره ده چې لوستونکي د يوې ليکنې لوست ته هڅولای شي . همداراز کېدای شي چې په هره ليکبڼه ډول-ډول پېښې په رنګارنګ اغېزو سره څرګندې شي . نو ځکه يې ټولې ژورنالېستي ليکبڼې پر درو ډولو وېشلې دي :

## مالوماتي ليکبڼې

خبر، رپورټ يا راپور، فيچر، راپورتاژ، پارترې يا انځوريزه ليکبڼه، انځور يا عکس او مرکه .

## تبصروي ليکبڼې

تبصره، سرمقاله، کالم يا د ورځپاڼې ستون، طنز، کاريکاتور، کتاب، تياتر، هنر، فېلم او کره کتنه .

## خيالي ليکبڼې
د ورځپاڼې ناول، اوريزه ډرامه او ننداراليك، لنډې کيسې او ټوکې ټکالې.

دا چې خبريالان ډېره هڅه کوي چې لوستونکيو ته ژر يا سم له لاسه مالومات ورکړي، نو د مالوماتي ليکبڼې څخه خبر غوره کوي . له همدې امله به لمړی خبر تر څېړنې لاندې ونيسو .

# خبـــــــــــر

## خبر څه شی دی؟

خبر نه یوازې په ورځنۍ وراشه یا خبرو اترو کې نوي احوال، زېري او یا مالوماتو ته وایي، بلکې په ژورنالېزم کې هغو مالوماتو ته هم وایي چې د ځانګیزو یا مسلکي قواعدو پر بنسټ او بې پرې توګه لیکل شوي وي او پر رښتینولۍ ټیکاو ولري . دغه مالومات باید خلك د خپل ملك او پر نړیوالو نویو او تازه پېښو خبر کړي . خبر باید همداراز د روانو پېښو اړوند، خو د تېرو هغو پر شالید رڼا واچوي، ټولنې ته اړین، ارزښتمن او د لېوالتیا وړ پیغام وړاندې کړي . سر بېره پر دې باید خبرځای هم د باور وړ وي، کنه بیا هم خبر نه دی .

خو په ژورنالېزم کې هم، هر خبر ته خبر نه شي ویل کېدای . د مثال په توګه : که چېرې له مزار شریف څخه یو بس ګاډی د تل په څېر کابل ته په ټاکلې وخت را ورسېږي او موټروان یې له مسافرو سره مخه ښه وکړي، د ژورنالېزم لپاره هېڅ خبر هم نه دی . څه شی چې په دغه خبر کې نشته، هغه خبري ارزښت دی . دغه خبر به د ژورنالېزم لپاره هغه وخت ارزښتمن وای، که چېرې نوموړی بس د سالنګ په غرونو کې په واوره کې بند، مسافرو یې دوه درې ورځې په منفي شل یاپینځه ویشت درجه یخنۍ کې په لوږه سره تېرې کړې وای، او وروسته له دوو- درو ورځو دولت په چورلکو کې کابل ته راوستلي وای . (یوځل بیا) نو ځکه ویلای شو چې :
په ژورنالېزم کې یو خبر هغه وخت خبر ګڼل کېږي، چې اړین، نوی، د ورځنیو پېښو اړوند، خو له تل پېښو هغو سره توپیر ولري . باید هر خبر د ټولنې ډېرو خلکو ته ارزښتمن او د لېوالتیا وړ وي . سر بېره پر دې باید هر خبر په بې

پرې توګه، پرته له شخصي ګټې، کوم بل فشار او بې له کومې هنري یا مطبعوي لاسوهنې څخه د مسلکي ژورنالېستي آرونو پر بنسټ او لیکدود ولیکل شي، کنه بیا هم دغه مالوماتو ته خبر نه شي ویل کېدای .

پر مالوماتي لیکبڼو سربېره نورې ژورنالېستي لیکبڼې هم شته چې لوستونکیو ته د ورځنیو پېښنو اړوند، نوي، تازه او اړین مالومات وړاندې کولای شي، خو هغوی له آره د تبصرې شکل لري . د دې ډول لیکبڼو دنده خبرول نه، بلکې پر پېښنو تبصره کول دي . نو ځکه ورته خبر نه شو ویلای .

یو لړ نورې ژورنالیستي لیکبڼې نه یوازې د تازه پېښنو په اړه مالومات ورکوي، بلکې پر هغوی تبصره او کله-کله ګوتنیونه هم کوي . همدارنګه خبریال پېښنه اغېزمنوي . مانا دا چې په پېښنه کې سیده یا نا سیده برخوال ګرځي، یا خبر دټوکو ټکالو په توګه لیکي . ځینې خبریالان ورته د یوه ارزښمن خبر په سترګه ګوري، خو د لویو خبري رسنیو په اند، لکه رویترز، ابي بي سي او الجزیره، دې ډول هغه ته هم خبر نه شي ویل کېدای .

د خبر د پېژند لپاره باید پر ډېرو هغو فکتورونو خبرې وشي چې په ژورنالېزم کې په ټولیزه توګه رغنده رول لوبوي . دا هغه فکتورونه دي چې د خبرچاڼ څخه نیولې تر نویوالي، ټولیزې لیوالتیا او له دې سره سره د هر ژورنالېست او خبري رسنۍ لیدګوټ او کړنلاره په خپله لمن کې رانغاړي . پامور دا ده چې همدغه فکتورونه د خبر په وړاندې کولو کې ځانګړې او دپام وړ اغېزه لري .

# خبرچاڼ

خبرچاڼ یوه خورا ستوزمنه دنده ده . ځکه چې باید هره ورځ له زښته ډېرو مالوماتو څخه یوازې هغه وامرل شي چې د ورځپاڼې په یو څو پاڼو کې چاپېږي . دلته خبریال یا هم د خبري رسنۍ مسئول مدیر چې په لویدیځ کې یې دروازه وان یا ګول ساتونکی نوم هم ورکړی دی، تصمیم نیسي چې له شتو مالوماتو څخه کوم د خپراوي وړ دي او کوم نه .

دا چې خبرچاڼ او د دوی د خپراوي واك ان له سره په خبریال یا مدیر پورې تړاو پیدا کړ، نو د دې ګواښ تل شته چې دواړه ښاغلي کېدای شي له ژورنالېستي آرونو انکار او د خپلې خوښې یا د نورو مخورو- زورورو شخصیتونو یا ادارو خوښې هم د خبر د خپراوي یو آړ (شرط) وګڼي . سر بېره پر دې، هره خبري رسنۍ پر یوه مالوم سیاسي لوري روانه ده چې د همغې سیاسي الواك، کړنلارې او تیوري پلوي کوي . ډېرې له دغو خبري رسنیو څخه هڅه کوي چې په خپلو پاڼو کې هغو خبرونو ته ډېر ځای ورکړي، یا پر هغو پېښو ډېر خبر وکړي چې د دوی سیاسي نظر پکې ښه ترا وځلېږي او ټولنې ته ډېر د منښت وړ وګرځي .

خو لکه مخکې چې د خبر په پېژند کې څرګند شول او لکه څنګه چې د ژورنالېستیك (1) پوهان وایي :

خبر هغه دی چې په بې پرې توګه، پرته له کومې شخصي ګټې، دولتي او اداري فشار، مطبعوي یا شخصي لاسوهنو څخه په رښتینې مسلکي توګه ولیکل شي .

# د خبر نويوالی

کله چې يوه پېښه وشي، نويوالی يې له ورايه ښکاري . د مثال په توګه که يو موټر چپه شي، که چېرته بمي چاودنه وشي، نوی ولسمشر، نوی وزير او يا نوی ولسوال وټاکل شي، ځانمرګی برید وشي، سېل راشي، خلك مړه شي او يا جګړه پيل شي . نو د داسې پېښو په باره کې خبر نوی او تازه دی .

خو که چېرې ګاونډي ملکونه په وار-وار بيا ووايي چې دوی به له افغانانو سره مرسته کوي او د دوی په منځ کې به اور نه بلوي، کوم نوی خبر نه دی . ځکه چې دوی تل دا وايي، خو په کړن کې بيا د دوی ژمنه د منافقانو هغه ده . همدرانګه که ښاغلی ولسمشر بيا په وار- وار ووايي چې په دولتي چوکاټ کې به د خپل سريو مخنيوی کوي، شخصي بنديخاني به ورکوي او د امنيت په برخه کې به پرېکنده ګامونه اوچتوي، بيا هم کوم نوی خبر نه دی. دولت يا دولتي کارمن، له ولسمشر څخه رانيولې، تر يوه واړه رييس پورې چې د دولت په چوکاټ کې دنده سرته رسوي، تل په دې هاندو هڅو کې دي چې د ملت د غولولو لپاره له خبري رسنيو څخه ناوړه ګټه واخلي .

دوی تل خپلې د مياشتنو زړې او تېرې ژمنې يو ځل بيا له خلکو سره تازه کوي . دوی غواړي چې خلکو ته وښيي چې دوی خو تهولنه او خلك نه دي هېر کړي او د تېرو ژمنو په پوره کولو کې تر خپله وسه کار کوي . خو خبريال بايد پوه وي چې سياستوال او دولتي کارمن په دې ډول ژمنو او ويناوو يوازې د خلکو سترګو ته خاورې شيندي . د تېرو او يخو ژمنو بيا- بيا تودول د ټولنې لپاره کوم نوی پيغام يا زېری نه لري .

دا هم د ژورنالېزم دنده ده چې د زړو، تېرو او بې پيغامه خبرونو د خپراوي مخنيوی وکړي .

د يادونې وړ ده چې هر پېښه چې په لمړي ليد سره نوې ښکاري، کېدای شي چې نوې او تازه نه وي، بلکې د تېرو پېښو د روان بهير يو بله کړی وي . په دې مانا ، که چېرې اوسني مالومات نوي، خو د يوې تېرې پېښې په باره کې وي، يا هم ولسي جرګه "يو ځل بيا" وزيران تورن کړي چې ګواکي لوستي نه دي، دا نوې پېښې ښکاري، خو له آره د "يوځل" بيا پر بنسټ له تېرو پېښو سره تړاو لري . دغه پېښې کېدای شي چې په خپله له آره اړينې هم نه وي، خو د دوی اړينتوب له تېرې پېښې سره په تړاو کې ځرګند ېږي .

د يوه خبريال لپاره ډېره اړينه ده چې تل د ټولنې پر هره پېښه خبر وي او بايد تل د نورو رسنيو خبرونه ولولي . خبريال به يوازې هغه وخت د خبر په نويوالي پوه شي که چېرې له ټولنې پوره خبر وي . ځکه چې دا خبريال دی چې په لمړي سر کې يوه خبر ته د نوي يا زاړه په سترګه ګوري .

## څه شی په زړه پورې او د ټوليزې لېوالتيا وړ دي ؟

په دې باره کې ژورنالېستيك پوهان او ژورنالېستان په يوه خوله نه دي . ډېر په دې اند دي چې ګواکي هر هغه څه چې د لوستونکو لپاره اړين دي، هغه د لېوالتيا وړ هم ګرځي . خو که دا وينا د آر په ډول ومنل شي، نو بيا خو ټولې ملي او نړيوالې سياسي پېښې، بازار، سوداګري، لويې– لوې فابريکې او کمپنۍ هم په ژوند کې ډېر اړين رول لوبوي، خو د ډېرو لوستونکيو لپاره دا ډول خبرونه ګرد سره په زړه پورې نه دي .

تر اوسه پورې خبري رسنيو هم پرېکړه نه ده کړې چې د لوستونکيو لپاره په ټوليزه توګه څه شی د لېوالتيا وړ ګرځېدای شي او هغه به کومې ځانګړتياوې ولري . د دې سکالو په اړه هېڅ وخت يوه ټول منلې پرېکړه نه شي کېدای . ځکه چې د يوه کس لپاره به د فوټبال خبر ډېر په زړه پورې او اړين وي، خو د بل چا لپاره د فرهاد دريا کنسرت . يو سوداګر به د ګرانۍ د خبر په تمه وي، خو يو ورځباړی د اوړو د ارزانۍ . سر بېره پر دې، يو څو نيمې يا پوره لاربښونې هم شته چې له خبريال سره مرسته کولای شي :

## الف- حيرانتيا

هر څومره چې يوه پېښه د حيرانتيا وړ وي، په هماغه کچه ورسره لېوالتيا ښوول کېږي . يو امريکايي ژورنالېست وايي، "خبر هغه دی چې له بل تل پېښې هغه څخه توپير ولري ." دی په دې اړوند داسې دك و دليل وايي :
که کوم سپی په سړي خوله ولګوي، خلك به وايي چې سپی دی، او سپی خوړل کوي . خو که چېرې سړی په سپي خوله ولګوي، نو طبعاً چې خلکو ته به د حيرانتيا وړ وي .

## ب- ډراماټيك

هر څومره چې يوه پېښه د وهم او ډار، يا هم د پارېدنې او جزباتو سبب وګرځي، همدومره د خلکو پاموړ ګرځي . لکه په نړۍ کې تر ټولو ستر ځناور، بې رحمه او خوني جنرال او واکدار، تر ټولو ستر ناورين لکه په افغانستان کې چې د يخنۍ له امله د ډېرو ماشومانو لاسونه غوڅ شول، يا هم د نېسمنتوب له امله د ماشومانو پلورل .

## ت–شخصي ښکېلتيا يا برخواليتوب

که چېرې د افغان سپناتورانو معاشونه ډېر شي، د کوم ولسي وګړي لپاره د حيرانتيا، خوښۍ يا هم خفګان ځای نه دی، او نه هم د دوی (سپناتورانو) په خوښۍ کې ځان برخوال ګڼي . ځکه چې دوی پوهېږي چې ډېر داسې دولتي کارمن شتون لري چې په سلګونو زرو ډالر يې هره مياشت جېب ته لوېږي . خو که چېرې خبر ورکړل شي چې کوم بهرني دولت د خوراکي توکو مرستې کړې دي، نو ډير ولسي وګړي به په دې تمه شي چې ګوندې دوی ته به يو څه ورکړل شي . له دې امله په دغه مرستو کې هر څوک ځان برخوال ګڼي او يا د دې تمه لري چې برخوال به يې شي . نو خلك له دغه ډول خبر سره يو ډول لېوالتيا ښيي .

## ج–پېژندويي (شهرت)

که دبر کلي ګلاجان له امريکا څخه افغانستان ته راشي، بې له خپلوانو به نور څوك خپل غوږ هم ونه ګروي . خو که فرهاد دريا يا مېرمن نغمه راشي او د دې تر څنګه د خپل کنسرت اعلان هم وکړي، تر خلکو به ژورنالېستان ډېر ورته لېواله وي . او په دې اړه به خبر په هره ورځپاڼه کې چاپ شي . په دې مانا چې د هر پېژندل شوې څېرې په باره کې خبر ټولنې ته د لېوالتيا وړ دی او ډېر خپرېږي .

## ح–احساسات ، روحي او فزيکي واټن

هر څومره چې يوې پېښې ته سړی نيږدې وي، همدومره ډېره يې پر احساساتو اغېزه شيندې، او دی به په هماغه کچه ياخوښ او يا هم خپه شي . په المان کې د ژورنالېزم د ښوونځي يو مدير وايي :

"زموږ د ښار يو مړی، د ايټاليا له لسو، او دچين له سلو مړيو سره يو برابر دی ."

دا په دې مانا چې نږدېوالی د غمشریکۍ، ولولې او احساس سبب ګرځي او احساس د نږدیوالي . نو په دې توګه به په کابل کې د یخنۍ له امله د ماشومانو مرګ پر افغانانو ډېره اغېزه وکړي،نه پر امریکایانو .

یا هم :

هر ورځ په لسهاوو افغانان وژل کېږي، خو دا چې دغه لړۍ له کابو څلورو لسیزو همداسې روانه ده، خپل ارزښت یې هم له لاسه ورکړی دی، او په لویدیځ کې څوك ډېر سر نه پرې خوږوي . خو که چېرې یوه ورځ په امریکا یا کوم اروپایي ملك کې دوه درې کسه د رېل ګاډي یا هم کوم بلې پېښې لکه بمي چاودنې له امله ومري، نو د نړۍ ډېرې هغه رسنۍ به پرې خبر ورکړي چې له امریکا او اروپا سره د خواخوږۍ او ملګرۍ اړیکې تودې ساتي . یا هم هغوی چې ځانونه د امریکا له ذاته، یا امریکا له خپله ذاته ګڼي .

ډېرې خبرې رسنۍ بیا کابو همدا برسېرن آرونو په نورو ویبو کې رانغاړي او په دې اند دي چې د لاندینیو پېښو په باره کې ښایي تر کېدون پورې خبر ورکړل شي :

- د ناڅاپي پېښو په باره کې باید د معمولي او تل پېښو هغو په پرتله خبر ولیکل شي . (د دولت پر ضد کودتا)
- ناوړه خبر د نېکو او ښو هغو په پر تله ډېر خپرېږي . (د ښونځیو او پلونو ویجاړول)
- هغه پېښې چې څرګندې وي، او خبریال ډېرو شننو ته اړ نه وي . (ځانمرګی بم)
- هغه پېښې چې په ځواکمنو ملتونو کې پېښېږي، د هغو په پر تله چې لږ ځواکمن دي . (په امریکا کې سېل)
- هغه خبرونه چې د شتمنو، ځواکمنو، او یا هم ډېر بدو خلکو په باره کې وي . (د بوش مړینه)

- هغه پېښې چې ژورنالېستان او يا هم خبري رسنۍ ورته تياری ولري . ( د افغانستان او عراق جګړه)
- هغه پېښې چې په خبري رسنيو کې له يو څه وخت راهيسې خپرېږي . ځکه چې له يوې خوا خبري رسنۍ په دې باره کې وار له وړاندې مالومات لري او بلخوا لوستونکي د نورو مالوماتو د اخېستلو لپاره هم تيار دي . ( د افغانستان راتلونکې ټولټاکنې)
- هغه بهرني خبرونه چې له ډېر لري ځايه وي، بايد دهغو کورنيو په پرتله خپل ارزښت زياد کړي چې په ورځپاڼه کې يې وار له وړاندې ځای نيولی وي. (د مصري ولسمشر مړينه)
- هغه خبر چې مخکې ليکل شوی وي، نظر هغه ته چې بايد له سره وليکل شي او د هغه په باره کې پلټنې وشي .
- که څه هم چې په اوسني وخت کې د خبر لېږد اسانتياوې په هر ځای کې شته، خو بيا هم هغه خبرونه ډېر خپرېږي چې لېږد يې اسانه وي .

# خبـــــري ارزښت

## خبري ارزښت او فکتورونه يې

ډېر ژورنالېستان او ژورنالیستیك پوهان په دې اند دي چې په ژورنالېزم کې خبري ارزښت کوم ځانګړی او مالوم بنسټ نه لري . ځکه چې خبر کېدای شي د يوه خبريال له خوا داسې وليکل شي چې د ډېر ارزښت ور وګرځي، که څه هم چې له آره به لوستونکيو ته هېڅ پيغام هم ونه لري . په دې مانا چې له آره دا خبريال او يا د خبري رسنۍ مدير مسئول دی چې يوه خبر ته ارزښت ورکوي ، خو بل بي ارزښته کوي . ښه بېلکه يې په لاندې ډول ده:

کله چې د پکتيکا ولايت د متاخان ولسوالۍ د کاريز پر کلي د 2008 کال د جون پر (30) دېرشمه اېتلافي ځواکونو بمباري وکړه، دري دېرش (33) ولسي وګړي يې ووژل . د دې شهيدانو له ټولي څخه ډېری ماشومان او مېرمنې وې . همداراز سپين ږېري او ځوانان هم پکي ول . سربېره پر دې اېتلافي ځواکونو څو مېرمنې په سپيو ډاړلې وې . دغه پېښه ښاغلي نذير احمد سهار په يوه راپورتاژ يا ګزارش کې له انځورنو سره داسې رانغښې وه چې هر لوستونکي ته يو زړه خوږينی خبر وو . ښاغلی سهار خپل راپورتاژ داسې ليکي :

**Tهلته، چې سپې هم په مرګ ويده شول...!!** ((ګزارش))
http://www.benawa.com/kandahar/fullstory.php?id=19316

درست دا هغه ساعت و، چې ماشومان د خوب او ارام لپاره د شپې په غېږ کې ويده کېدل .پر کلي سکوت خپور و او يوازې د سپيو غپا اورېدل کېده . د پکتيکا د متاخان ولسوالۍ دغه ختين کلی له مرکز ښرنې څخه شل کيلومتره لرې، د کوچنيو غونډيو په منځ کې پروت دی. دغلته شملور، خو ببوزلۍ ځپلي پښتانه ګرد په پوله او پټي ژوند تېروي. د ابراهيم کاريز کلي وګړو ته د ميلياردونو ډالرو مرستو له درکه نه د ملي پيوستون پروګرامونه پلي شوي او نه هم دلته د بيارغونې ننبې ننباني ترسترګو کيږي .

د ملا مُسلم اته کسيزه ډله:
کروندګر د نړيوالو ايتلافي ځواکونو تر بمبارۍ څو شيبې مخکې کورونو ته ننوتـــي وو .
نړيوال ځواکونه په ظاهره د ((ملا مُسلم)) او د هغه د ډلې په لټه راغلي وو. د هغـــوی هدف د متاخان د ((ابراهيم کاريز)) کلی و .

 

 

د کلي پر ډاګ او کښتونو د ایتلافي چورلکو د بمبارۍ غږ تر لرې سیمو اورېــــدل کــېده. په بمبارۍ کې د مېلمنو یو ټونس ډوله موټر او مېلمانه له منځه لاړل. ایتلاف پر همدغو مېلمنو د ملا مُسلم او د هغه د ملګرو شك کړی و .

د پکتیکا امنیه قوماندان نبي جان ملاخېل له خــبریالانو سره د خبرو پر مهال وویل، چې دوی له عملیاتو ناخبره وو: (( د ابراهیم کاریـــــز کلي ته، چې د ایتلاف کوم پوځیان تللي وو، هغه په پکتیکا کې میشت ایتلافي پوځیــان نه وو. هغوی ښایي له غزني یا خوست نه راغلي وي .))

ایتلاف په خپله خبرپاڼه کې د ځان سپیناوي په اړه وویل، چــې په وژل شویو کسانو کې د طالبانو دوه جګپوړي قوماندانان وو، چې یوه یې دوی ته ماینـــونه ښخول او بل هغه له طالبانو سره یوځای دوی ته لاره نیوله، خو ذبیح الله مجاهد د طالبـــانو د ویاند په توګه په (( ابراهیم کاریز)) کلي کې د خپلو جنګیالیــــو د حضــور رپوټونه چورلټ رد کړدي. ایتلاف په پېښه کې یوازې د یوه ماشوم او دریو ښځینه وو مړینه منلې ، خو پوښتنه داده، چې د ماشومانو او سپین ږیرو په ګډون دا **۳۳** تنه نور مړي

د چا وو؟ د پکتیکا د ولایتي شورا پخوانی رییس موسی خان یې ځواب وایـي: (( په مړو کې دوه ماشومان او درې ښځې دي. ۲۷ تنه نور ځوانان او سپین ږیـــري دي. د طالب او القاعدې په نامه هیڅوك پکې نشته. دولت وایي، د ملا مُسلم په نـــامه یې یو طالب قوماندان او د هغه اته کسیزه ډله وژلې، خو هغه زموږ د کلي د جومــــات ملا محمد نبي وو .))



د پکتیکا والي محمد اکرم خپلواك په وار وار پر بهرنیو ځواکونو نیوکه کړې، چې له دوی سره له همغږۍ پرته خپلسري پوځي عملیات کوي او دا دوی ته په سیمه کې ستونزې تړکوي. هغه له شپږو نورو افغان والیانو سره یوځای په سپینه ماڼۍ کې د امریکا ولسمشر جورج بوش ته هم دا شکایت وکړ، چې ایتلافي ځواکونه خلك له کورونو باسي او په نه ګناه یې زندانونو ته اچوي.
دا لومړی ځل نه دی، چې ایتلاف او ناټو ځواکونه ملکي وګړي په نښه کوي. پر ۲۰۰۱ ز کال چې حامد کرزي نوې د واك شنه چپنه پرغاړه کوله، د ارزګان په دهراووت کې د واده مراسم په جنازو واوښتل. د واده شنې جوړې د قبرونو بیرغونه

شول او يوازې سره او شنه بوټان وو، چې له ورايېځ نه د يادګار په توګه پاتې شوي وو .
دا يوه وړه بېلګه ده، خو په لسګونو نورې داسې پېښې شته، چې نه يې چا انځور خپور کړی او نه هم پرې د بشري حقونو نړيوالې مدافعې ټولنې وغږېدې .

له رسنيزې زاويې يو متفاوت تصوير :
))جسيکا لينچ)) او ((ريچل کوري)) دوه هغه امريکايۍ خوېندې، چې په عراق او فلسطين کې وژل کېدې، له سي اېن اېن او بي بي سي نه رانيولې ترګردو لويديزو رسنيو پورې ټولو تر اونيو اونيو پر هغوی رپوټونه خپرول .جسيکا لينچ ، چې په عراق کې له القاعدې او عراقي پوځ سره جنګېده، تر مصنوعي برمته نيونې وروسته ژوندۍ ووته، خو ريچل کوري، چې په فلسطين کې د مسلمانو ماشومانو د روزنې چارې پرمخ بېولې تر اسراييلي بلدوزرونو لاندې شوه. جسيکا په يوه ناروا جګړه کې اتله وګڼل شوه ، خو کوري له اسراييلي ځواکونو سره په مبارزه کې تر مړينې وروسته ترهګره ونومېده. له (ISM) غورځنګ پرته، د بشري حقونو د دفاع ټولنو او لويديزو رسنيو پام له ((ريچل کوري)) واوښت .
د لويديزو رسنيو له زاويو د افغانستان او عراق وضع همدغسې انځورېږي. دلته ((جسيکا لينچ)) اتله ده او ((ريچل کوري)) ترهګره .



خلك د مړو پر ښخون لګيا دي

سپي غلي شول او شپه رڼا شوه...
بمبارۍ کلی په دوړو او لوګیو کې پټ کړ، خو هدف یې یوازې دښته ، باغونه او یــو ټونس موټر و .
د کلي سپي د امریکایي پوځیانو د ټوپکو له شړکا سره جوخت د مرګ په خوب ویده شول. اوس یـــوازې درې غـــــږه اورېـــدل کېدل: د امریکایي ببر غوړو سپیو غږ، د امریکایي پوځیانو غږ او د کلي د ماشومانو او ښځو چیغې. خو دا درېواړه غږونه او چیغې د پرمختللو امریکایي ماشینګنو په ډزو کې چا نه اورېدل .
نړیوالو رسنیو او ایتلاف اعلان وکړ، چــې د طالبانو یوه اته کسیزه ډله وژل شوې او سیمه له ترهګرو پاکه شوې ده، خو د پردې ترشــــــا هیڅا څه ونه لیدل. هغوی، چې پېښنه لیدلې وه، پټه خوله پاتې شول او یوازې پر یوه خواشیني بسیا شول .



سپي هم د مرګ په خوب ویده شول

انسان د سپیو خوراك :
د ابوغریب زندان له منځه خپرو شویـــو تصویرونو نړۍ ولړزوله. هغه په عراق کې د امریکایي تمدن او ولسواکۍ جوتې بېـــلګــې وې .څو سپیــــو ، څو هغه (( بېوزله ترهګر)) داړل، چې نه خو یې د امریکا جګپوړې ودانۍ نړولې شوې او نه یې له دغو تورو سپیو د ځان ژغورنې توان درلود. چې مړشي، پړ شي :هغوی نور د همدغه متل مصداق وو .

د متاخان د ابراهیم کاریز په کلي کې هم انسان د سپیو خوراك شـــو. تور او اوږد غوږي سپیان په ښځو او ماشومانو ور ایله وو. ساندو او نارو ټول کلـــــی په سـر اخستــــی و. نارینه د امریکایي پلي ځواکونو د ماشینګنو خوراك شول او ښځې او ماشومان د سپیو.



ددغو ماشومانو ناسته کونډه مور ایتلافي سپیانو وداړله

د دریو کورونو دېوالونه، توشکې او بړستنې ټول د وینو بوی ورکوي. دوو کورونو تر لسو لسو ډېرغړي له لاسه ورکړي دي. د صندوقونو سرونه خلاص دي او کورنۍ میرات. یوه د څلورو ماشومانو مور د کوټې په وینلړلي غولي کې زګیروی کوي. سپي خوړلي ټپي لاسونه یې پټې شوي او څلور تازه یتیمان یې ګرد چاپېر ولاړ دي. هغه نور د کور د کفالت لپاره څوك نه لري او بزګر مېړه یې د طالب او القاعدې په تُهمت کې د نورو د غچ خوراك شوی دی.



دغه سړی وايي دلته له دوو مېرمنو سرونه پرې شويدي

په دوهم کور کې هيڅ ژوندی سری نشته. ۱۱ واړه په ډزو وژل شويدي .درېيم کور له خپلې ۱۷ کسيزې کورنۍ څخه په کابل پلتخنيك کې يوازې يو محصل((انجنير رحمت الله)) او د هغه سپين ږيری پلار په ميراث پرېښودل. هغه اوس پر کلي د پولتخنيك ليليې ته ترجيح ورکوي، ځکه لږ ترلږه خو به د ايتلاف او ناټو ځواکونو د چورلکو له ړندې بمبارۍ په امن کې وي .



ايا دغه زانګو به کونډه مور بيا ډکه کړای شي؟

د متهاخان د ابراهيم کاريز کلي ډلوژنه په داسې حال کې ترسره کيږي، چې په ملګرو ملتـونو کـې د افغانستان سفير ظاهر طنين امنيت شورا ته د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچې د ټيټيدا زيرى ورکـوي. هغه د ابراهيم کاريز کلي تر ډلوژنې يوه ورځ مخکې وويل: (( د افغان او سوله ســاتو ځواکونــو ترمنــځ د همکارۍ يو داسې ميکانيزم جوړ شوى ، چې د هغه پر بنسټ به د ملکي وګړو د مرګ ژوبـلې مخنيوى کيږي)). د ظاهر طنين د ادعاوو اپوټه، د ايتلافي پليو ځواکونو په لاس کوراکور ۳۳ کسيــزه ډلوژنه دا ښيي، چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مخنيوي لپاره د نــوي ميکانيزم په نامه څه نشته .

د يو شمېر نړيوالو ټولنو او ادارو د سروې ګانو له مخې، دا په ډاګه شوې ده، چــې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې هرې پيښې د تاوتريخوالي کچه او سلنه ډېره کړې ده.
پښتون چاته غچ نه پرېږدي او څومره، چې دغسې پيښې ډېريږي، د غچ لمبې ورسره لا ژبغړاندې کيږي .
د متهــاخان د(( ابراهيم کاريز کلي)) خلك د دولت او نړيوالې ټولنې د بي پري ځيرنو انتظار کــوي. که ښکيل اړخونه د هغوى پوښتنې ځواب نه کړي او د پيښې د پردې تر شا رازونــو سپيناوى ونه شي ، ښايي خپله چوپتيا په يوې ورته غچ اخستنې سره ماته کړي .



خلك د پيښې په اړه د جدي پلټنو غوښتنه کوي

د همدې پېښې اړوند پښتو بي بي سي خپرونې په لاندې ډول خبر خپور کړ:

http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/story/2008/07/080701_hf-khost-taliban-killing.shtml



ایتلافي ځواکونه وایي له دغو وسله والو سره د ار پي جي په ګډون درنې وسلې هم وې

د خوست په عملیاتو کې '۳۳' وسله وال وژل شوي'

په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ ایتلافي ځواکونه وایي د هېواد په سوېل ختیځ کې په هوایي برید کې ۳۳ وسله وال طالبان وژل شوي دي .

دغه خبره ایتلافي ځواکونو د یوې خپرې کړې خبرپاڼې له لارې کړې ده .

خبرپاڼه زیاتوي عملیات وروسته له هغه پیل شول کله چې دوی په خوست ولایت کې د وسله والو طالبانو پټنځایونه په نښه کړل او بیا یې تر خپل هوایي برید لاندې ونیول .

د ایتلافي ځواکونو د خبرپاڼې پروینا ، له دغو وسله والو کسانو سره د ار پي جي راکټ په شمول ځېنې درنې وسلې هم وې .
د خبرپاڼې تر مخه، دغه هوایي برید د جون پر ۳۰، د چنګاښ په لسمه تر سره شوی دی .
خو طالبانو له تراوسه په دې اړه خپل غبرګون نه دی ښودلی .

د ښاغلي سهار راپورتاژ او د بي بي سي خبر یو له بله ډېر توپیر لري . د بي بي سي خبر یوازې د اېتلافي ځواکونو د خبرپاڼې ژباړه ده . د ښاغلي سهار راپورتاژ یو د وېر او ناورین کیسه ده . ښاغلی سهار لیکي چې ناټو ځواکونو، سپي خو ګرد سره هیر کړئ، پر بې وزلو ماشومانو او مېرمنو هم رحم ونه کړ . خو د بي بي سي لپاره دغه د ملکي کسانو وژنه یوازې د څو تنو وسلوالو ترهګرو مړینه ده، او بس .

د ښاغلي سهار د راپورتاژ انځورونه د هر لوستونکي د اوښکو سبب ګرځي، خو د بي بي سي هغه بیا یوه خوني او یاغي ډله راپېژني چې پرته له وسلو او زورواکۍ بل څه نه پېژني . که دغه د بي بي سي خبر او د ښاغلي سهار راپورتاژ یو له بل سره په ژورنالېستي څانګیزه توګه سره پرتله کړو، د بي بي سي خبر د ښاغلي سهار د راپورتاژ پر وړاندې هېڅ د اهمیت وړ هم نه دی .

ټول خبریالان پوهېږي چې راپورتاژ یوازې پر هغه پېښه لیکل کېږي چې خبریال ته، د رسنۍ مدیر او ګرد سره ټولنې ته د خورا ډېر اهمیت وړ وي . خبریال کولای شي چې همدغه د بي بي سي لنډ خبر په ټېلېفون هم له کوم کلېواله واخلې . دا شونې ده چې پر رښتینولۍ به هم ټیکاو ولري . خو د یوه ګزارش یا راپورتاژ لپاره خبریال باید هرو مرو د پېښې ځای ته ورشي . یو لنډ "غلط" خبر لکه د بي بي سي به یوازې د خبریال پینځه دقیقې ونیسي، خو د

يوه راپورتاژ يا ګزارش ليکل-نظر په سکالو-کېدای شي چې ان مياشتې وغواړي . د يوه راپورتاژ لګښت د يوه لنډ خبر په کچه زښته ډېر لوړ دی .

د ياودنې وړه ده چې په همدې پېښې پسې دوه درې ورځې وروسته په کابل کې د مدافع وکيلانو يوه ټولنه جوړه شوه . پښتو اوبپاڼو په دې باره کې يوازې يو لنډ خبر ورکړ، خو پښتو بي بي سي راديو او اوبپاڼې ته دا اړينه، ارزښتمنه او د لېوالتيا وړ وه چې په کابل، جلال آباد، خوست، او کندهار کې له خلکو وپوښتي چې مدافع وکيل پېژني که نه . حال دا چې د متهاخان په پېښه کې يې له هېچا هم ونه پوښتل چې آيا په ريښتيا ملکي وګړي مړه دي که ياغي طالبان .
يو الماني متل وايي :
که د يوې پېښې په اړه خبر ور نه کړل شي، په دې مانا چې هېڅ پېښه شوې نه ده .

که خبري ارزښت د برسېرن مثال په پام کې نيولو سره د دې متل په رڼا کې وڅېړل شي، نو د خبريال او د خبري رسنۍ د مدير رول په خبري ارزښت کې ښه ترا څرګندېږي .

ژورناليستيک پوهان وايي چې خبري ارزښت نړيوال آر او معيار نه لري، بلکې د هر ملك او هڅوبي پر پولو پورې تړلی دی . همداسې ډېر خبر يالان په دې اند دي چې نور لاملونه لکه د دولت يا ځينو کړيو لخوا فشار او ګواښونه هم د خبريال او خبري رسنۍ پر کار پوره اغېزه لري . خو لويديځې رسنۍ، په تېره بي بي سي راديو تل د خپل دولت او د خپلو ملګرو پلوي کوي . همدا د دې لامل ګرځي چې خبريالان يوه خبر ته د ډول-ډول ارزښتونو منونکي شي .

# خبر څنګه ولیکو؟

کله چې په اتلسمه پېړۍ کې د ټېلیفون او تلګراف کرښې نوې جوړې شوې، د دې ورتیا یې نه درلوده چې یو خبر دې په بریا سره ولېږدوي . د دې ګواښ تل شتون درلود چې د خبر د دوه-درو کرښو له رسېدا وروسته د اړیکه غوڅه شي . نو له دې وېرې چې تېلېګراف به سم کار ونه کړي، خبریالانو خبرزړی یا د خبر آر برخه د خبر په لمړیو کرښو کې لیکله . دوی په دې اند ول، چې که خبر په بشپړ توګه ونه رسېږي، اړینه برخه خو به یې رسېدلې وي . او همدغه وېره وه چې د وخت په تېریدا سره په قاعده بدله شوه . نو ځکه په اوسني وخت کې هم خبریالان د خبر ډېره اړینه برخه د خبر په پیل یا لمړۍ برخه کې لیکي .

بلخوا ډېر ژورنالېستیك پوهان او خبریالان بیا له دې "خیالي کیسې" سره ناباندې دي او وایي چې دغه فورمول د وېرې او اړتیا له امله نه، بلکې د ژورنالېستي پوهې د څېړنو په پایله کې منځته راغی چې اوسمهال د یوې قاعدې په بڼه په ټوله نړۍ کې منل شوی دی . دوی په دې اړه وایي چې که چېرې یو لوستونکی د پوره خبر د لوستلو وخت ونه لري، نو کولای شي چې د خبر دوه درې کرښې ولولي . او دغه دوه درې کرښې باید لوستونکي ته د پېښې په باره کې هغه اړین مالومات ورسوي چې څه شی، چېرې او څه وخت پېښ شوي دي .

دغه فورمول یا قاعده چې د نسکور هرم یا منشور په نامه یادېږي، دا مانا لري چې د خبر ستړه، اړینه، مهمه یا آر برخه باید د خبر په پیل کې او لږ اړینه هغه یې په پای کې ولیکل شي . همداراز باید لمړی پرګراف د دویم، دویم د دریم او . . . په پرتله اړین وي .

د خبريال لپاره دا بې توپيره ده چې د كوم الواك (نظريې) پلوى دى، خو بايد تل په پام كې ولري چې د خبر زړى، د خبر اصلي يا اړينه برخه په لمړيو كرښو يا پيل كې وليكي .

## د خبر ليكدود

خبر بايد د كېدون تر بريده لنډ وليكل شي . خو بايد همدغه "لنډ ليكل" لوستونكيو ته يو پيغام ورسولاى شي . لوستونكى بايد پوه شي چې څه شي، چېرې څه وخت پېښ شوي دي . خو سر بېره پر دې ټينګار چې بايد خبر لنډ وليكل شي، خبريال كولاى شي چې د روانې او ساده ژبې د كارولو په موخه ان يوه يا دوې غونډلې ډېرې وليكي .
د ورځپاڼې لپاره خبر بايد د كيسې په شان -كرونولوژيكه يا نيتهه ييزه توګه (لمړى څه پېښ شول، دويم . . . بيا . . .)- و نه ليكل شي .
يو خبر كه بې له "سرليك" څخه په برخو وويشل شي، لاندې بڼه ځانته غوره كوي :

**لمړۍ برخه (د خبر پيل يا لنډيز) :**
دغه برخه بايد لوستونكي ته ډېر اړين مالومات وركړي، لوستونكى د پاتې خبر لوست ته وهڅوي، او لاندې پوښتنو ته ځواب ووايي :

څوك؟ څه شى؟ څه وخت؟
دغه برخه كېداى شي چې په يوه يا دوو غونډلو كې راونغښتل شي .

**دويمه يا سپړيزه برخه :**
دغه برخه د چېرې؟ څنګه؟ او خبرځاى پوښتنې راځوابوي . همداراز د پېښې پر نورو جزياتوراڅرخي لكه د پېښې د ښكېل كسانو، دولتي كارمنو او . . . چې كابو په دوو يا درو غونډلو كې به څرګنده شي .

**دريمه برخه يا شالېد:**
دغى برخه د (ولې ؟) سربېره د پېښې پر شاليد رڼا اچوي .

**څلورمه برخه يا راتلونكې**
ډېر وخت د يوې پېښې راتلونكې څرګنده وي . لكه بهرني ملك ته د ولسمشر سفر . په داسې اكر كې خبريال د پېښې پر راتلونكي پرمختګ او د راتلونكي پرمختګ پر جزياتو هم بايد خبرې وكړي . په دې مانا چې كه ښاغلى ولسمشر له كوم بل ملك سره كوم تړون لاسليكوي، نو دابه يو راتلونكى پرمختګ وي، خو د تړون پر جزياتو راڅرخېدل بيا د راتلونكي پرمختګ د جزياتو څرنګوالى دى .

**خبر ليكل د وخت پر بنسټ**
كه چېرې پېښنه لا پر مخ روانه وي، نو ښايي چې دغه غونډلې په نابشپړ وسمهال كې وليكل شي . لكه :
افغان ولسمشر له خپل مصري سيال سره پر سوداګريزو اړيكو خبري كوي .

كه يو پېښنه په تېرمهال كې شوې وي، خو چې په اوسمهال پورې تړاو ولري، نو ښايي چې دغه غونډلې په لنډ تېر مهال كې وليكل شي . لكه :
افغان ولسمشر مصر ته تللى دى .

دلته د ښاغلي ولسمشر سفر په تېر وخت کې پېښ شو، خو لا تر اوسه روان دی او په اوسمهال پورې اړه لري . په ټولیزه توګه د خبر لمړۍ برخه یا لنډیز په همدې دواړو وختونو یا زمانو کې (اوسمهال او لنډ تېرمهال) کې لیکل کېږي .

د پېښې دویمه یا سپړیزه برخه معمولاَ د نکل په ډول په نابشپړ، خو د اړتیا په اکر کې په بشپړ تېرمهال کې هم لیکل کېږي . لکه :
***ماشومانو ډوډۍ خوړه*** چې ناڅو ځواکونو پرې بمونه وغورځول .
***د سړك جوړونکې کمپنۍ کارمن کارځای ته تلل*** چې طالبانو پرې برید وکړ .

د پېښې دریمه برخه یا شالید چې ډېر وخت پر هغو مالوماتو راڅرخي چې په تېرمهال کې پیښ شوي وي، نو د هغوی لپاره ښایي چې لرتېرمهال وکارول شي . لکه :
***مشرف له ولسمشر کرزي سره ژمنه کړې وه*** چې افغانستان ته به ترهګر نه رالېږي .

د څلورمې برخې لپاره وسترمهال یا راتلونکې زمانه کارول کېږي .

**پاملرنه :**
خبرلیکنه د وخت پر بنسټ، لکه برسېره چې څرګنده شوه، هېڅ وخت قاعده ګرځېدلای نه شي، بلکې یوازې یوه لارښوونه ده . ځکه چې که چېرې د خبر لمړۍ برخه یا لنډیز د پېښې د راتلونکي پرمختګ په اړه وي، نو ښایي چې وسترمهال یا راتلونکې زمانه ورته وکارول شي . همداراز کېدای شي چې په یوه خبر کې هېڅ لرتېرمهال ته خبریال اړ نه شي .

د سکالو د ښه ترا پوهاوی لپاره به لاندې خبر تر کتنې لاندې ونیسو . خو پر دغه خبر د کتنې موخه پر لیکوال ګوتنیونه او یا خدای مه کړه لیکوال ته سپکاوی نه دی، بلکې یوازې او یوازې د سکالو د روښانولو لپاره غوره شوی دی!

http://www.benawa.com/details.php?id=19433
جمعه د ۱۳۸۷ لمریز کال د چنګاښ ۱۴

*Tد افغانستان په کندهار ولایت کې د یوې امنیتي پوستې اته تنه پولیس وژل شوي او یو بل*
*یې ټپي شوی دی دا پېښه بېګا شپه د کندهار ولایت پنجوایي ولسوالۍ په مربوطاتو کې*
*شویده او په هکله یې دا د ولایت نوي امنیه قومندان مطیع الله وه ویل چې پدې پېښه*
*کې د یوې امنیتي پوستې اته تنه پولیس وژل شوي یو یې ټپي شوی دی،*
*د ده په خبره تراوسه پورې د پېښې بشپړ جزیات ندي په ډاګه شوي، چې د چا لخوا څنګه رامینځ ته شوي*
*ده٠ پدې اړوند داسې راپورونه هم شته چې دوه تنه پولیس بې درکه شوي هم دي،مګرقومندان مطیع الله نور څه وه نه ویل، خو وسلوالو طالبانو یې مسولیت په غاړه اخیستی دي*

دغه خبر نه یوازې دا چې په ګړدود لیکل شوی، بلکې نورې غلطۍ هم لري . دلته به یوازې یو څو په ګوته کړو .

دا چې دغه خبر د افغانانو لپاره دی، نو دلته د "افغانستان" د ویي راوړل بې ځایه دي . ځکه چې افغانان پوهېږي چې کندهار د افغانستان ښار دی او بل ملك د کندهار په نامه کوم ښار نه لري .

د پولیسو وژنه دوه ځلې لیکل شوې ده . په خبر کې تکرار یوازې او یوازې د لوستونکیو لپاره یو بې ځایه بار دی .

دغه غونډله (( پدې اړوند داسې راپورونه هم شته چې دوه تنه پولیس بې درکه شوي )) له آره یوه انګازه ده چې انګازه په خبر کې ځای نه لري . که څه هم چې خبریال لیکلي دي چې "داسې راپورونه هم شته "، خو پوښتنه دا ده چې خبریال دغه راپورونه له کومه ځایه په لاس راوړي دي . که رېښتیا یې په لاس راوړي وي، نو باید چې د لاسوند نوم او ځای یې هم ورسره یاد کړی وای . یا باید خبریال لیکلي وای چې د چا په وینا یې دا خبر لیکلی دی چې دوه پولیس بې درکه دي . دغه انګازه ښاغلي خبریال له چا څخه چېرته واورېده؟
د خبریال وینا ((مګرقومندان مطیع الله نور څه وه نه ویل ))، دا خبر چې ګواکي پولیس ورك دي، نوره هم خپله رېښتینولي له لاسه ورکړه .
د خبریال وینا: (( پدې اړوند داسې راپورونه هم شته چې دوه تنه پولیس بې درکه شوي هم
دي، مګرقومندان مطیع الله نور څه وه نه ویل، خو وسلوالو طالبانو یې مسولیت په غاړه اخیستی دي)) .

دغه غونډله لوستونکیو ته یو نامالوم او یا نابشپړ پیغام رسوي . په دغه غونډله کې یو خوا د ورك شویو پولیسو یادونه شوې ده، بلخوا د قومندان مطیع الله ناخبري څرګندوي . سربېره پر دې، له دوهمی کامې وروسته بیا طالبانو د پېښې پړه پر غاړه اخېستې ده . دغه غونډله ګرد سره د وران پوهاوي سبب ګرځي . لمړی پوښتنه دا ده چې :
آیا طالبانو یوازې د پېښې پازوالي پر غاړه اخېستې ده که یې په رېښتیا سره هم دوه نور پولیس تښتولي دي ؟

که دغه غونډله په دې مانا چې د پولیسو د تښتونې پړه هم رانغاړي، نو بیا د لادرکه پولیسو په باره کې خو باید د طالب جنګیالیو وینا په ډېره ځرګنده توګه لیکل شوی وای چې دوی په ریښتیا سره دا کار کړی دی .

ځینې غلطۍ چې د لیکلار په برخه کې دي، خورا ځرګندې دي، خو یو څو بېلګې یې په لاندې ډول دي :

وه ویل » وویل
شوۍ دۍ » شوی دی
اخیستۍ دي » اخېستی دی
. . . نورې غلطۍ هم لرې، خو همدا درې یې د بېلګې په توګه بس دي .

موږ کولای شو دغه خبر په لاندې توګه هم ولیکو :

تېره شپه د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ په اړوند سیمه کې اته ساتندویان وژل شوي دي او یو ټپي شوی دی . د پېښې پخلی د کندهار امنیه قومندان مطیع ا . . . کړی دی . ده په دې اړوند نور مالومات په ډاګه نه کړل چې پېښه د چا له خوا او ځنګه رامنځته شوې ده .

که چېرې د پېښې پړه ریښتیا هم طالبانو پر غاړه اخېستې وي، نو بیا خبریال کولای شي چې ورسره ولیکي :
طالب ویاند . . . . د پېښې پړه پر غاړه اخیستې ده .
که چېرې رښتیا هم دوه پولیس طالبانو تښتولې وي، نو بیا کېدای شي چې خبریال ولیکي:
طالب ویاند . . . . زیاتوي چې دوه ساتندوی یې ژوندي نیولي دي، خو قومندان مطیع الله په دې اړه ناخبري ځرګنده کړه .

یا هم لاندې خبر :

http://www.larawbar.com/

د کندهار د برېښنا ریاست مرستیال حاجي نظر محمد اغا د کندهارپه ښار کې د نامعلومو وسله والو لخوا ووژل شو . د کندهار یوه امنیتي چارواکي دنوموړي وژنه تایید کړې او ویلي یې دي چې حاجي نظر محمد اغا تېره شپه د کندهار ښار په شپږمه ناحیه کې دنامعلومو وسله والو لخوا ووژل شو .

په دغه خبر کې د خبر زړې یوازې وژنه ده چې دوه ځلې په اوږدو غونډلو کې تکرار شوې ده . امنیتي چارواکی چې د پېښې پخلی یې کړی دی، هم نه دی مالوم . خبریال کولای شي چې په لاندې ډول یې رالنډ کړي :

د کندهار ښار د برېښنا ریاست مرستیال حاجي محمد نظر اغا د کندهار ښار په شپږمه ناحیه کې تېره شپه د نامالومو وسله والو لخوا ووژل شو . د کندهار ښار یوه امنیتي چارواکي د پېښې پخلی کړی دی .

پاملرنه : لمړۍ غونډله مې ځکه په مفعولي حالت ولیکله ځکه چې په خپله کړند (فاعل) نه دی مالوم او دلته د خدای ښېلي مړینه د "نامالومو کسانو" څخه ډېره اړینه . که چېرې کړند هم مالوم وي، خو د مفعول یادول اړین ګڼل کېږي، بیا هم له برسېرنې قاعدې څخه ګټه اخېستل کېدای شي .

## د مجلې خبر

که څه هم چې د مجلې او ورځپاڼې خبر دواړه د مالوماتو د لېږد لپاره کارول کېږي، خو د مجلې خبر د ورځپاڼې هغه په څېر نه ليکل کېږي . سربېره پر دې چې د مجلې په خبر کې پيل (لنډيز)، سپړيزه برخه او شاليد هم شتون لري، خو پېښه په کرونولوژيك يا په نېټه ييز ډول او يا هم د کيسې په ډول ليکل کېږي .

د ورځپاڼې د خبر په لمړۍ برخه (پيل يا لنډيز) کې د پېښې اړين ټکي (څوك، څه شی، څه وخت) ليکل کېږي، خو په مجله کې د دې پر ځای داسې يوه غونډله ليکل کېږي چې لوستونکي د خبر لوست ته وهڅوي . له همدې کبله د مجلې د خبر لمړۍ غونډله د "کش غونډله" په نامه يادېږي .

د مجلې خبر د ستونزې سپړنه کوي، د يوې نوې ستونزې د زېږد او يا هم د موضوع يا پېښې په باره کې نورو پوښتنو ته اشاره کوي، د پېښې پر پرمختګ او د هغې پر راتلونکې مالومات ورکوي . په دې مانا چې د مجلې د خبر په لوست سره بايد لوستونکی پوه شي چې :
ستونزه چېرې وه او اوس چېرې ده؟
په کومو لارو چارو لاس پورې شو، او په کومو بايد لاس پورې شي؟
د حل لاره څه ده؟
دغه ډول پوښتنې هغه وخت په ښه ترا توګه ځوابېدای شي چې خبر د کيسې په توګه وليکل شي .

د مجلې د خبر په ليکلو کې له صحنې او همدارنګه له وينا يا نقل قول څخه هم ګټه اخستل کېږي چې دا د مجلې د خبر په ليکلو کې اړين رول لوبوي .

# راپور (راپورت، رپوټ)

راپور له لاتین ویي "رېپورترې" څخه اخېستل شوی دی چې د بېرته راوړلو یا یوځای راړلو یا هم یوځای کېښلو جاج او مانا ترې اخېستل کېږي . خو نه یوازې ساینس بلکې ادبیاتو هم ونه کړای شول چې په څرګنده ژبه ووایي چې راپور څه شی دی . له همدې امله ډېر خلك راپور هغې لیکنې ته هم وایي چې د یوې څېړنې، سپړنې او پوښتنې ګروېږنې پایلې روانغاړي .

په ژورنالېزم کې راپور هغه لیکنې یا مقالې ته وایي چې پر ربښتینولۍ ټیکاو ولري او د یوې پېښې، یا د یوه سکالو څرنګوالی او یاهم یو کړن (عمل) په بې پرې او ځانګیزه توګه څرګند کړي . موخه یې یوازې خبر ورکول یا خبرول دي .

راپور او خبر دواړه په یوه ژورنالېستي ځېل پورې اړه لري او دواړه د مالوماتو د لېږد لپاره کارول کېږي . له همدې امله راپور هم د خبر په څېر لیکل کېږي . د دوی تر منځ کوم لوی توپیر نشته . یوازېنی توپیر یې په څومره والي یا کچه کې دی :
راپور له خبره اوږد وي .

د خبر په پرتله په راپور کې یو سکالو د هغه له ټولو اړخونو او ټولو هغو حقیقتونو سره په ژوره توګه څېړل او لیکل کېږي چې د سکالو په لا روښانولو کې رغنده رول لوبولی شي .

د ژورنالېستیك پوهانو او ډېرو خبریالانو په اند راپور د هغو پېښو او سکالووې په باره کې لیکل کېږي چې په تېر وخت کې پېښې شوې وي، خو اوسمهال او په راتلونکي وخت کې به په ولس کې ډېري خبري اترې پرې وشي . یا پر هغو

موضوعاتو چې له ورځنۍ پېښو سره کوم تړاو ونه لري، خو بيا يې هم ټولنې ته ارزښت په ټوليزه توګه ډېر وي . همداسې کېداى شي چې د يوې پېښې سره په تړاو نورې پېښې هم رامنځته شي، چې د ټولو نغښتل به په يوه راپور کې د خبر په پر تله مالوماتي او د سم پوهاوي وړ وي .
ښه بېلګه يې د تخار د ګډوالو ناورين دى چې خبريال يې بايد د بهسودو د پېښې سره په تړاو کې وڅېړي . خبريال کولى شي چې د تخار ناورين د بهسودو د هغه په هېنداره کې روښانه کړي او له هغې پېښې سره يې پرتله کړي چې ولې د پښتنو پر وړاندې داسې کرکجنې تګلارې ته لمن وهل کېږي .

هغه وخت چې يو خبر د يوه اړين سکالو يا پېښې په اړه وي، خو چې پر انګازه ټيکاو ولري او نورو څېړنو ته اړ وي، نو ښايي چې خبريال د خبر له خپراوي څخه د لنډ وخت لپاره ډه ډه وکړي . کله يې چې په دې اړه پوره مالومات راټول کړل، کولاى شي چې په يوه راپور کې يې راونغاړي . بې له شکه چې داسې راپور به د يوه خبر په پرتله چې پر انګازه ټيکاو ولري، ډېر مالوماتي وي . خو بايد په هر راپور کې هغه د پېښې يا د سکالو ځانګړې او ارزښتمنه برخه ډېره څرګنده او رابرسېرنه شي .

راپور کېداى شي چې په ټوليزه توګه پر درو برخو ووېشل شي :
د حقيقت يا ريښتينولۍ، کړن (عمل) او د وينا راپور .

**د حقيقت** په راپور کې د راپور زړې يا آر برخه د حقيقتونو راټولول، چاڼول او يو ځاى کول دي . په دا ډول راپور کې بنسټيزه او اړينه برخه د راپور په سر کې ليکل کېږي او هغه واقيعتونه چې د ډېر وزن درلودونکي نه دي يا د

لوستونکيو لپاره د ځانګړې لېوالتيا او اړينتيا وړتيا نه لري، بايد د راپور په پای کې وليکل شي .

**د کړن راپور** چې له آره د پېښنو بهير څرګندوي، ښايې چې د پېښې پايله يا آخر د راپور په پيل کې وليکل شي او هغه برخې يې چې ډېر ې د ارزښت وړ نه دي، د راپور په پای يا آخر کې .

**د وينا راپور** چې له آره د يوې مرکې، وينې او خبرو اترو په باره کې ليکل کېږي، بايد د سکالو زړی يا د مرکې هغه برخه چې راپور پرې را څرخي او د خورا ډېر ارزښت وړ وي، د راپور په پيل کې وليکل شي . او هغه لږ اړينه د راپور په پای کې .

## د راپور ليکدود

لکه مخې چې وويل شول، راپور هم د خبر په څېر ليکل کېږي :
لمړی بايد د خبر پوښتنو ته ځواب وويل شي . خو د يادونې وړ ده، چې د راپور په ليکلو کې بايد د ډېر اړين، اړين او لږ اړين قاعده نه يوازې د خبر پر پيل، منځ او آخر وويشل شي، بلکې پر هر پرګراف . مانا دا چې لمړی پرګراف بايد تر دويمه ډېر اړين وي، دويم تر دريمه او په همدې توګه تر پايه .

لمړی پرګراف (پيل يا لنډيز) بايد د څوك، څه شی، څه وخت، چېرې، څنګه، ولې او د خبرځای پوښتنې راځواب کړي . دغه برخه بايد داسې وليکل شي چې د لوستونکي لېوالتيا او پام ځانته راواړوي .

دويمه برخه د راپور تشرېحي يا سپړېزه برخه ده چې بايد د سکالو يا د پېښې ځرنګوالی، لاملونه او په دې اړه د ښکېل کسانو ويناوې، د ځانګيزو يا مسلکي کسانو اندوواند، د سياستوالو خبرې او . . . ويناوې ځرګندې شي .

په بل هر راتلونکي پرګراف کې لوستونکي ته بايد د سکالو په اړه د هغه پر شاليد، پرمختګ او د پرمختګ د ځرنګوالي په باره کې مالومات وړاندې شي .

د خبر په څېر په راپور کې هم د خبريال شخصي نظر او تبصرې ته ځای نشته . په راپور کې شعر، لنډۍ او نورې ژبنۍ دوديزې ځرګندنې (اصطلاحات) ځای نه لري . ځکه چې کېدای شي يو شعر يا لنډۍ ډول–ډول وشنل شي . او يا هم کېدای شي چې لوستونکي يې په موخه پوه نه شي . د دې ګواښ هم شته چې خبريال به له سکالو سره سم او مناسب شعر، لنډۍ او يا متل غوره نه کړي . نو ځکه بايد وويل شي چې په راپور کې ژبنۍ ښکلا هغه وخت منځته راځي چې ساده، روانه او ټولو ته د پوهاوي وړ وي . د راپور اوږدوالی د مالوماتو په کچه او پر سکالو پورې اړه لري .

## د مجلې راپور

د مجلې راپور د مجلې د خبر په څېر د ورځپاڼې له خبر او راپور سره سيالي نه شي کولای . لامل يې وخت دی . ځکه چې يو خوا مجله اوونيزه، دوه اوونيزه يا مياشتېنۍ وي، نو ډېر خلك يې په اسانۍ سره لوست ته زړه نه ښه کوي . بلخوا اوسمهال په دې وړه نړۍ کې او په دې ټوليزو رسنيو کې دومره پېښې او د هغوی په باره کې دومره مالومات وړاندې کېږي، چې د پرون خبر د لوستونکيو هېرېږي .

د دې لپاره چې لوستونکي مجله ولولي، نو اړينه ده چې په مجله کې داسې خبرونه يا راپورونه راټول شي او دومره وخت او زيار په کار واچول شي، چې لوستونکيو ته داسې ارزښتمن، مالوماتي او د لېوالتيا وړ وګرځي چې د ننۍ ورځپاڼې تر څنګ يې هم ولولي . د مجلې په راپور کې بايد ټول هغه مالومات راټول شي چې د پېښې پر شاليد، لاملونو، بهير، او د پېښې سره په تړاو هر هغه څه چې د سکالو په لا ښه ترا څرګندونه کې رغنده رول لوبوي .

د مجلې د راپور يو توپير له اخبار سره دا هم دی چې د مجلې راپور يو سکالو په ډېره ښه ترا توګه څرګندوي او د يوه ډېر څرګند او روښانه تېزې درلودونکی وي . د مجلې د راپور تېزې د څېړنې پر بنسټ د راپور په پيل کې ليکل کېږي . د راپور متن بيا له شمېرو، صحنو او ويناوو څخه ډك وي . کله-کله داسې هم کېږي چې راپور دخپلې تېزې پر بنسټ د پېښې راتلونکی بهير مالوموي .

د دې لپاره چې راپور لوستونکو ته د لېوالتيا وړ وګرځي، ډېر ليکوال او خبريالان په دې اند چې بايد راپور ته شخصي څېره يا جنبه ورکړل شي . په دې مانا چې :
ټولې پېښې له کسانو سره تړلي دي چې بايد د کړن (عمل) په توګه وښوول شي . پېښه بايد له هغو اړخونو سره وڅېړل شي چې هغو ستونزو نه يوازې د څو مالومو کسانو لمن نيولې وي، بلکې په ټولنه کې د ډېرو کسانو . او تر وسه د هغو کسانو يادونه وشي چې په ټولنه کې پېژندل شوې څېرې وي او له دې ډول ستونزو سره لاس او ګرېوان وي .

د مجلې په راپور کې يو پېښه بايد ډېر په کره او پوره توګه وڅېړل شي او په ډېر څرګند ډول وليکل شي . لوستونکي بايد احساس کړي چې که څه هم چې

پېښنه موده وړاندې او د لیکوال په نشت کې شوي وه، خو راپور یې داسې ښکاره او څرګند وي، لکه خبریال چې د پېښې په وخت کې همغلته شتون درلودلای وي .

د دې تر څنګه نن سبا د مجلې په راپور کې ډېر ګرافیك،انځورونه، چارټ او جدولونه هم لیدل کېږي چې موخه یې یوازې او یوازې د پېچلې سکالو لا روښانول او اسانول دي . د مجلې د راپور اوږدوالی د مالوماتو په کچه او سکالو پورې اړه لري .

## د مجلې د راپور لېکدود

د مجلې راپور د اخبار راپور په څېر جوړښت نه لري چې په لمړۍ برخه کې یې پیل یا لنډیز او همداسې، تشرېح، شالید او راتلونکې وڅېړل شي، بلکې د داسې یوې په زړه پورې کیسې په ډول لیکل کېږي چې پر ریښتینولۍ ټیکاو ولري . نو ځکه د راپور پیل باید لوستونکی د راپور لوست ته وهڅوي او وروسته له دې د راپور مالومات داسې ورته وړاندې شي چې لوستونکي یې تر پایه ولولي .

### سرلیك

د مجلې د راپور سرلیك د اخبار د سرلیك په څېر نه لیکل کېږي چې هغه د خبر اړین ټکي په کې یاد شي . د مجلې په راپور کې باید سرلیك داسې ولیکل شي چې لوستونکي ته د هېښتیا، لېوالتیا، او حیرانتیا سبب وګرځي . خو

ښايي چې د راپور په اوږدو کې د کېدون تر برېده د راپور په پايله کې د سرليك دغه حيرانوونکي ټکي بيان شي .

## پيل

په دې برخه کې د راپور تېزې يا حکم ليکل کېږي . د مجلې د راپور په پيل کې د اخبار د خبر يا راپور په څېر د هغه ډېر اړين او تازه مالومات نه ليکل کېږي چې لوستونکي يې په لوست سره وکړای شي د پاتې راپور له لوست څخه ډډه وکړي، بلکې هغه مالومات او لنډې څرګندونې چې لوستونکيو ته نورو پوښتنو لامل وګرځي او دوی د راپور لوست ته نور هم وهڅوي .

## سکالو ته ننوت

دغه برخه په راپور کې يوې خونې ته د وره په مانا ده چې د نورو ژورنالېستي ليکبڼو په څېر لکه فيچر او راپورتاژ ننداريزه يا صحنه يې جوړېږي . په دغه نندارېځونو يا صحنو کې ډېرى وخت په لنډه توګه د پېښې يا سکالو ښکېل کسان څرګندېږي او په دې وسيله سره لوستونکي ته کيسه پيلېږي . په دې کيسه کې په لنډه توګه د راپور پر آر سکالو رڼا اچول کېږي، لوستونکيو ته د سکالو نويتوب او اړتيا څرګندېږي، اړين ځنګونه او نور هغه مالومات ورکول کېږي چې د هغې له مخې د راپور تېزې ليکل شوی وي .

## آر برخه

کله چې د راپور پر سکالو رڼا واچول شي، په آر برخه کې يې د پرمختګ په اړه خبرې کېږي چې څه شی د داسې يوه تېزې سبب ګرځېدلی دی چې دا راپور يې ورکوي . دغه برخه د کېسې په څېر ليکل کېږي او د پېښې بهير په

کرونولژيك يا نېټه ييز ډول څرګندوي . په دې برخه کې د پېښې د لاملونو او د هغو ښکېل کسانو په باره کې مالومات ورکول کېږي چې پېښه يې اوسني اکر ته رارسولې وي . لوستونکي بايد دلته ټول هغه اړين مالومات لاسته راوړي چې له پېښې سره تړاو ولري . په دغه برخه کې د ښکېل کسانو ويناوې، شمېرې او ټولې نندارېزې برخې ليکل کېږي . همدا برخه ده چې د پېښې د آر لوبغاړو په باره کې بايد په پوره کچه مالومات ورکړل شي .

**وتون**

کله چې د راپور په پای کې د راپور تېزې څرګنده او زباد شي، لوستونکيو ته ټول مالومات وړاندې شي، نو له راپور څخه وتون ته اړتيا پېښېږي . د وتون لپار کله- کله په پېښه کې آر لوبغاړی يا ښکېل کسان يو ځل بيا په صحنه کې راڅرګندېږي، يا هم د هغوی کومه وينا او يا د راپور تېزې يو ځل بيا ليکل کېږي . په دې برخه کې اړينه دا ده چې لوستونکيو ته د پېښې د راتلونکې په باره کې د اند او سوچ يو لامل پيدا شي او همدارنګه راتلونکيو ستونزو ته نغوته وشي . په راپور کې ستونزه او د سوچ لامل يو له هغو برخو څخه دي چې د راپور ټول متن او برخې سره تړي او راپور د يوې يوازېنۍ کيسې په څېر رانغاړي .

# مــــــرکه

مرکه له آره يو څېړندود يا د هغو پوښتنو ګروېږنو او ځوابونو بهير ته وايي چې خبريال يې د مالوماتو د راټولولو په موخه کوي . په ژورنالېزم کې يوه ليکبڼه ده چې له نورو ليکبڼو څخه په دې توپيربږي چې په مرکه کې مالومات د سوال او ځواب په توګه وړاندې کېږي . او يوازې په همدې توګه خپرو شويو مالوماتو ته مرکه ويل کېداى شي . خو هره مرکه بايد يوه موخه ولري . د پښتونخوا په څرګندنه هسې بې ځايه "ګپ و شپ" ته مرکه نه شي ويل کېداى .

د ډېرو خبريالانو په اند مرکه کېداى شي چې د موخې له پلوه په درو ډولو سره ووېشل شي . لمړى ډول به د يوه کارپوه سره وي چې د يوې ځانګيز يا مسلکي سکالو په اړه به د ده نظر غوښتل کېږي . دويمه هغه به يوازې د يوه کس د شخصيت او ځانګړتياوو د څرګندولو په موخه کېږي . په دې ډول مرکه کې موخيز کس د هر ډول سکالو په اړه پوښتل کېداى شي . دريم ډول مرکه بيا د ټولپوښتنې په څېر د يوې مالومې پېښې يا سکالو په اړه د ډېرو خلکو ويناوې په لنډه توګه رانغاړي .

په مرکه کې خبريال نه يوازې لوستونکيو ته مالومات وړاندې کوي، بلکې همدراز کولاى شي چې د مرکه شوي کس غبرګون هم وښيي . په دې سره لوستونکي کولاى شي چې د مرکې په لوست نه يوازې د خلکو اندواند وپېژني او د يوه سکالو يا پېښې په ټولو اړخونو پوه شي، بلکې همداراز د مرکه شوي کس په شخصيت هم . د مرکې بل ښه والى دا دى چې که چېرې وخت او روپۍ د يوه راپور، راپورتاژ يا فيچر لپاره شتون ونه لري، نو خبريال

کولای شي چې د همدې سکالو په اړه یوه لنډه مرکه له مناسب کس سره وکړي .

ډېر خبریالان له یوه شخص سره د یوه سکالو په باره کې مرکه کوي، خو وروسته دغه ځوابونه په یوه خبر یا راپور کې د سیده یا ناسیده وینا په ډول رانکلوي . ښه بېلګه یې د بي بي سي پښتو خپرونې لاندې خبر دی چې په کابل کې د روسیې د سفیر ضمیر کابلوف مرکه یې پکې رانغښتې ده .

http://www.bbc.co.uk/pashto/news/story/2008/09/080918_rusian_embisador.shtml
گرينويچ 2008 ,18 سپتمبر 07:30 :Tد خپريدو وخت

کابلوف : امریکا زموږ او افغانستان اړیکي خرابوي
په کابل کې د روسیې سفیر امریکا او د هغې متحدین په دې تورن کړل چې ګواکي غواړي د روسیې اړیکي له افغانستان سره خراب کړي.
په افغانستان کې د روسیې سفیر ضمیر کابلوف له بي بي سي سره په یوه ځانګړې مرکه کې د شمالي اتلانتیك (ناټو) د یو شمېر غړیو هېوادونو بهرني سیاستونه د روسیې پر وړاندې له دښمنۍ ډك وبلل.
هغه ګواښ وکړ چې که دغه هېوادونه د روسېې پروړاندې په خپلو سیاستونو کې بدلون رانه ولي، روسیه به افغانستان کې ناټو ته د راتلونکو توکو لارې په خپل هیواد کې وتړي.
دغه خبرې د روسیې سفیر په داسې مهال کړي چې د روسیې سفارت په افغانستان کې د یوې خبرپاڼې په خپرولو د افغان حکومت په ځینو بهرنیو سلاکارانوهم نیوکه کړې چې د هغوی په وینا روسیې ته د روزنې لپاره د نشه یي توکو پر ضد د مبارزې د افسرانو د تګ مخنیوی کوي.
دا په څو وروستیو میاشتو کې په کابل کې د افغانستان پر سر لوېدیځ ته د روسیې د یوه استازي دویمې سختې خبرې دي. . . .

که څه هم چې له کارپوه يا سياستوال سره مرکه د يوه مالوم او موخيز څيز په باره کې شوې وي، خو دا چې د پوښتنو او ځوابونو په بڼه نه، بلکې د يوه راپور يا خبر په بڼه خپره شوې وي، نو له همدې امله ورته مرکه نه شي ويل کېدای .

لکه مخکې چې وويل شول :

مرکه هغه ليکنه ده چې د پوښتتو او ځوابونو په بڼه خپره شي .

## لنډه مرکه

لنډه مرکه ډېر وخت يوازې د کارپوهانو سره کېدای شي چې منځپانګه يې درې څلور پوښتنې او ځوابونه وي . بايد ډېره هڅه وشي چې پوښتنې او ځوابونه تر کېدون پورې لنډ وي . د دې ډول مرکې لپاره مالوماتي پوښتنې يا هغه پوښتنې چې پر هو او نه ځواب نه شي، بايد وکارول شي . لکه :

په افغانستان کې کوم ډول ټوخی شتون لري؟

د کابل پوهنتون زده کړيالان له کومو ستونزو سره مخ دي؟

له دې ډول مرکې سره ډېری وخت دمرکه کېدونکي شخص يو کوشنی انځور هم شتون خپرېږي .

لنډ مرکه کېدای شي چې په ليکلې بڼه هم سرته ورسول شي . په دې مانا چې خبريال ليکل شوې پوښتنې ټاکل شوي کس ته ورلېږي او هغه يې په ليکلې بڼه ځوابوي . د خپراوي په وخت کې خبريال کولای شي چې مرکه بې له لاسوهنې او کوم ونجون (تغير) څخه خپره کړي .

## اوږده مرکه

اوږده مرکه نه يوازې په کچه کې، بلکې په سم جوړښت، پيل، بهير، او يوه سوليز وتون سره له لنډې مرکې څخه توپيرېدای شي . لکه مخکې چې هم يادونه وشوه :
لنډه مرکه بايد له کارپوهانو سره وشي، نه له سياستوالو سره .
اوږده مرکه همداراز د ليك په وخت کې د ځينو ونجونونو (تغيرونو) منونکې ده :
خبريال کولای شي د پوښتنو بهير ته ونجون ورکړي . په دې مانا که خبريال يوه پوښتنه د مرکې په وخت کې د مرکې په پای کې کړې وي، کولای شي چې نومورې پوښتنه د مرکې په پيل يا منځ کې وليکي . خو په دې آړ (شرط) چې ځواب يې هم ورسره راواخلي . بل آړ يې دا دی چې بايد پوښتنه او ځواب د خپل آر ځای په بدلون سره خپل آر جاج او مانا له لاسه ور نه کړي .

کله-کله داسې هم کېږي چې يوې لنډې پوښتنې ته ډېر اوږد ځواب وويل شي . په دې اکر کې خبريال کولای شي چې دغه اوږد ځواب ته د مرکې د ليك په وخت کې دوه يا درې پوښتنې نورې وليکل شي، که څه هم چې دغه ټول ځواب به د يوې پوښتنې لپاره وي . خو خبريال بايد دغه ونجون په دې آړ رامنځته کړي چې د ځواب جاج او مانا، موخه او مطلب به هماغسې پاتې کېږي . له دې بدلون څخه موخه يوازې دا ده چې مرکه روانه او ګړندۍ ولوستل شي . بله دا چې لنډ ځواب د اوږده او پېچلې هغه په پرتله د ښه پوهاوي وړ ګرځي .
ښه بېلګه يې د لراوبار د مرکې لاندې برخه ده :

http://www.larawbar.net/detail.php?id=4601
لراوبر : په دې وروستيو کې د خوراکو توکو بيې جگې شوي دي ، که د خوست په اړه مالومات راکړئ ، دلته د خوراکي توکو بيې د پخوا په پرتله څنگه دي ؟
ًقادرشا : د بيو لوړوالی سره له دې چې نړيواله ستونزه ده خو افغانستان د ډيرو هيوادونو په پرتله له دې ستونزې ډير ربړيږي ، چې خوست هم د افغانستان يو ولايت دی او بيې پکې د پخوا په پر تله څو برابره زياتې شوي دي.
خوست ولايت چې د پاکستان له ځينو قابيلي سيمو سره گډه پوله لري نو ډير کله به د دې ولايت سوادگرو خپل مالونه په ځانگړي ډول غالې او دانې له دې قابيلي لارو خوست ولايت په غير قانوني ډول را وړلې . خو اوس چې د قابيلي سيمو امنيت حالات وران شوي او بلخوا د دواړو هيوادونو سرحدي ځواکونه پياوړي شوي، همدارنگه پاکستان د سوداگرۍ په برخه کې له افغانستان سره ځيني چارې سختې قانوني کړي چې له امله يې د دې ډول مالونو راوړل بند شول د دغه سوداگريزو توکو بنديدل په خوست کې د بيو د لوړوالي لامل شو. . . .

د دغې پوښتنې ځواب لا نور هم اوږدېږي، خو يوازې دغه برخه به يې تر څېړنې لاندې ونيسو . خبريال کولای شي چې د دويم پرگراف لپاره يوه نوې پوښتنه وليکي، که څه هم چې د مرکې په وخت کې يې نه ده کړي . خو دا چې په دې نوي پوښتنه سره د ځواب جاج او مانا او آر موخه له منځه نه ځي، نو کولای شو چې د دويم پرگراف لپاره لاندې پوښتنه وليکو :
پوښتنه : په ځانگړې توگه په خوست کې د بيې د لوړوالي لامل څه دی؟
که دغه پوښتنه د دويم پرگراف سره وليکل شي، نو د لوستونکيو لپاره به ځواب لږ رالنډ او د ښه پوهاوي وړ وگرځي .

په اوږده مرکه کې کله-کله د پوښتنو او ځوابونو بهیر په دې سره هم غوڅېدای شي چې مرکاوو (مرکه چي) د مرکه کېدونکي شخص، د مرکې د فضا او مرکې د ځای په باره کې څه ولیکي. د بېلګې په توګه :

پوښتنه : تاسې ولې شمالي ټلوالې او هزاره ګانو ته وسلې ورکوئ او په دې سره د افغانانو په منځ کې نور هم جنګ جګړې تازه کوئ؟

((دغه پوښتنه د ایراني سفیر نه خوښېږي او عکس العمل ښیي))

(خیالي ځواب) : لمړی دی چې دا د پښتنو تبلیغات دي چې زموږ په وړاندې يې کوي . خو پښتانه باید د ګاونډیو ګټې هم په نظر کې ونیسي . دویم دا چې دا په خپله امریکا ده چې طالب وسلوالو ته وسلې ورکوي او د جنګ لمن نوره هم پراخوي . موږ هېچا ته هم وسلې نه ورکوو .

خبریال کولای شي چې دلته د سفیر د عکس العمل په باره کې یا د مرکې د فضا په باره کې یو څه ولیکي .
د بلې پوښتنې څخه مخکې خبریال کولای شي چې د سفیر غبرګون په لاندې توګه لوستونکیو ته وړاندې کړي :
((مخکې له دې چې زه د همدې پوښتنې اړوند نورې پوښتنې وکړم، سفیر د پسخند په توګه شونډې بوکې کړې . د لاس په خوځولو يې ژر زما خبره ونیوه . او راته ویې ویل چې "دی نور وخت نه لري . مرکه پای ته ورسېده ."
خو کله چې ما امریکا یاده کړه، ښاغلي سفیر د همغږۍ په مانا سره خپل سر وخوځوه او ماته يې داسې ښکاره کړه چې دی د مرکې لپاره نور وخت هم لري .))

په دې توګه خبريال کولای شي چې لوستونکيو ته د مرکې د اتموسفير يا په پورتني مثال کې د سفير د طبعيت په اړه مالومات وليکي .

## دمرکي لپاره تياري :

د هرې مرکې څخه وړاندې بايد خبريال نه يوازې په سکالو ښه پوه وي بلکې همدرانګه د لوستونکي پر اړتيا چې دوی کومو مالوماتو ته اړ دي او دغه مالومات بايد دی له چا څخه واخلي . هر خبريال بايد د خپلې مرکې موخه وپېژني . په دې مانا چې خبريال بايد دا يقيني کړي چې د مرکې په پای کې يې بايد کوم مالومات لاس ته راوړي وي . بايد هر مرکه له پازوال شخص سره وشي نه د هغه له مرستيال سره .

لنډه مرکه برسېره وسپړل شوه، خو د اوږدې مرکې لپاره به تياري په يوه مثال کې څرګنده کړو .

که کوم خبريال له ښاغلي ولسمشر سره د ده د بيا نوماندۍ په باره کې مرکه کوي، نو له مرکې وړاندې بايد سوچ وکړي چې که دی په خپله لوستونکی وای، نو له ښاغلي ولسمشر څخه به يې په ټوليزه توګه کومې پوښتنې او په ځانګړې توګه د ده د تېرو ناپوره شويو ژمنو په باره کې څه پوښتنې کولې . خبريال کولای شي چې د دې"خيالي پوښتنو" لپاره خيالي ځوابونه هم جوړ کړي . که په همدې ډول خبريال له ځان سره د پوښتنو ګروپونو او ځوابونو يوه لړۍ جوړه کړي، نو دا ډول تياري به خبريال ته داسې وي لکه يو ځل يې چې له ښاغلي ولسمشر سره په همدې اړه مرکه کړې وي .
دا ډېره څرګنده چې د خبريال پوښتنې به کټ مټ د لوستونکيو پوښتنې نه وي، او نه به هم ځوابونه د ښاغلي ولسمشر له ځوابونو سره يو شان وي، خو

دا ډېره ښه شونې ده چې يو څه ناڅه ورته والی به سره ولري . بلخوا به خبريال هغه پوښتنې چې له آره د لوستونکيو لپاره څه پيغام نه لري، له هغو پوښتنو څخه توپير کړای شي چې د مرکې په وخت کې يې ناڅاپه پر زړه راګرځي .

خبريال بايد مخکې له مرکې څخه ځان نه يوازې د سکالو په اړه ښه پوه کړی وي، بلکې همداراز د مرکه کېدونکي کس پر شخصيت هم . هر څومره چې خبريال ښه ترا پوه وي، همدومره به يې مرکه مسلکي او ښه سر ته ورسرېږي . پر سکالو پوهاوی او د مرکه کېدونکي کس په شخصيت پوهېدل د مرکې د ښې فضا موکه برابروي .

خبريال بايد تل له ځانه سره تر هغو ډېرې پوښتنې وليکي چې له مرکه کېدونکي شخص څخه يې پوښتلای شي . خبريال ته ښايي چې له سياستوالو سره په مرکه کې لږ له سپين سترګۍ څخه هم کار واخلي . په دې مانا که چېرې خبريال له سياستوال سره يوازې د نيمې ګړۍ وخت ټاکلی وي، کولای شي چې لږ تر لږه خو يې لس دقيقې نور هم تم کړي . ځکه چې سياستوال ډېری پوښتنې بې ځوابه پرېږدي چې بايد ځواب يې کړي .

خبريال بايد پام وکړي چې د مرکه کېدونکي کس خبرې بې د ده له اجازې څخه ثبت يا ټيپ نه کړي . نه يوازې دا چې دا کار د ژورنالېستي اخلاقو سره ناباندې دی، بلکې په ډېرو ملکونو کې جرم هم ګڼل کېږي . نو ځکه خبريال ته ښايي چې له مرکه کېدونکي شخص سره د مرکې په پيل کې د خبرو د ثبت يادونه وکړي . مرکه کېدونکی شخص دا رښتنه (حق) لري چې د خبرو له ثبت څخه انکار وکړي . د مرکې وخت او ځای هم کېدای شي چې د خبرو په وخت کې ثبت شي . خو که سياستوال يا د دولت ضد ګروپ نه غواړي چې د مرکې وخت او ځای د ثبت شي، نو خبريال بايد د وخت او ځای له مالومولو څخه ډډه وکړي .

په دې برخه کې د رویټرز خبري رسنۍ له خوا د یوې لارښوونې یادول هرو مرو ګڼم چې ژباړه یې په لر او بر کې په لاندې ډول ده :

http://larawbar.net/detail.php?id=8527&date=2009-01-27

ریکارډ او یادښتونه :
اجازه واخلئ چې له ریکارډ څخه کار واخلئ که ریکارډ کوئ هغه د مرکه کونکي مخې ته مه ږدئ یوې خوا ته یې کړئ ځکه مرکه کونکی به داسې فکر کوي چې غږیې ریکارډ کیږي او په ویلو کې به له احتیاط څخه کار واخلي. . .

لکه څنګه چې څرګنده ده، یو خوا د ثبت کولو په اجازه ټینګار شوی دی، خو بل خوا لارښونه شوې ده چې باید د ثبت آله یوې خواته کېښوول شي چې مرکه کېدونکی یې ونهویني چې ګواکي له احتیاطه به کار واخلي . دا په دې مانا چې خبریال د خبرې په پټه ثبت کړي . یا به په ژباړه کې کومه سهوه رامنځته شوې وي او یا به هم د رویټرز کړنلاره همدا وي چې خبرې به پرته له اجازې ثبتوي . خو د دې خبرې تکرارول غواړم چې د خبرو ثبت پرته له اجازې څخه جرم دی .

که چېرې د یوې مرکې په وخت کې خبریال د مرکه کېدونکي شخص خولې ته میکروفون یا د دثبت آله ونیسي، او مرکه کېدونکی د خبریال پوښتنو ته ځواب ووایي، نو په داسې اکر کې د ثبت اجازه خپله اړتیا له لاسه ورکوي . ځکه چې مرکه کېدونکی کس میکروفون یا ټیپ ویني چې خولې ته یې نیول شوی دی .

## مرکه کول

د ادبیاتو سپارښتنه دا ده چې هر خبریال باید د مرکې په پیل کې لمړۍ د سکالو په اړه داسې یوه پوښتنه وکړي چې یوازې هغه د چا خبره مجلس لښ تود یا ګرم شي . دا به داسې یوه پوښتنه وي چې ډېره د آر سکالو په اړه نه، خو له هغې څخه لرې هم نه وي . ځکه چې کېدای شي د مرکې په پیل کې یوه ډېره سیده پوښتنه د مرکه کېدونکي کس لپاره نامناسبه، ډېره ترخه یا ډېره سخته وي یا هم دی تر اغېزې لاندې راولي . خو په خپله ډېر خبریالان په دې اند دي چې یوه ناسیده پوښتنه او د هغې ځواب کېدای شي ډېر وخت ونیسي . په ځانګړې توګه کله چې خبریال په رادیو یا تېلوېزیون کې له چا سره مرکه کوي .

ډېر وخت مرکه کېدونکی شخص د خبریال پوښتنې ته سم یا د پوښتنې اړوند ځواب نه وایي، او هڅه کوي چې له پوښتنې څخه ځان وباسي . په داسې اکر کې خبریال کولای شي چې دی بیا-بیا وپوښتي . د پوښتنې تکرارول ګرد سره د ژورنالیستي اخلاقو ضد کار نه دی، بلکې د خبریالۍ یوه اړتیا او د خبریال پازالي ده چې خپله پوښتنه د دویم، دریم ان لسم ځل لپاره تکرار کړي . بیا هم، باید خبریال پوه وي چې د پوښتنې ارزښت همدومره ډېر دی چې باید ځواب یې ولسي خلکو ته وړاندې شي . که چېرې مرکه کېدونکی کس بیا هم پوښتنه نه ځوابوي او ځان وباسي، نو خبریال کولای شي چې دی وپوښتي :

تاسې ولې زما پوښتنې ته ځواب نه وایاست؟

یا : ولې هڅه کوئ چې ځان تېر کړئ او له سکالو څخه لرې شئ؟

یا هم : زما پوښتنه بل شی وه، خو تاسې ګرد سره زما د پوښتنې اړوند ځواب رانه کړ . زه به خپله پوښتنه یو ځل بیا تکرار کړم .

د مرکې په وخت کې خبريال بايد ډېره هڅه وکړي چې د مرکه کېدونکي کس باور تر لاسه کړي . هيڅ وخت بايد داسې څه ونه وايي چې ده ته سپکاوی وي او يا هم د ده د شك لامل وګرځي . خبريال بايد تل هڅه وکړي چې هغه ډېرې اړيني پوښتنې د لږ اړينو په پرتله لمړی وپوښتي . ځکه کېدای شي چې مرکه کېدونکی کس د مرکې په اوږدو کې ستړی شي، د مرکې فضا خرابه شي او يا له مرکې څخه انکار وکړي . کيدای شي چې يو بل شی د دې لامل شي چې مرکه نيمګړې پاتې شي .

که چېرې مرکه کېدونکی شخص ډېر لنډ ځوابونه وايي، خبريال ته ښايي چې د همدې پوښتنې په باره کې نورې پوښتنې وکړي . د بېلګې په توګه :

پ : تاسې د افغانستان اوسنی اکر څنګه ارزوئ؟
ځ : ښه دی .
خبريال کولای شي چې په همدې اړوند لاندې پوښتنې وکړي :
مطلب مو څه دی؟
يا: ښه والی يې په څه کې دی؟
يا هم : افغان ولس هر ورځ کړېږي، او تاسې واياست چې ښه دی . تاسې کولای شئ چې په دې اړه نور مالومات هم ورکړئ؟

که چېرته مرکه کېدونکی کس د يوه سکالو په اړه اړوپېچ ځوابونه وايي، خبريال ته ښايي چې ژر ګوته ورته ونيسي . خبريال کولای شي چې د مرکه کېدونکي کس ځواب په خپله وشني او بېرته ده ته وايي چې آيا د ده ځواب همدا مانا لري که نه . په دې سره خبريال مرکه کېدونکی کس يوه بشپړ ځواب ته او د نورو مالوماتو ورکولو مجبوري . د مثال په توګه :

ځواب : هو، ریښتیا هم باید افغان دولت د ښه امنیت په موخه په کورنیو چارو کې ځینې لوی بدلونونه راولي .

خبریال دا ځواب شني او مرکه کېدونکی نورو مالوماتو ته مجبوروي .
پوښتنه : په کورنیو چارو کې لوی بدلون نو باید دا وي چې وزیر او امنیه قومندان لرې کړل شي، همداراز باید هغه مافیایي ډلې چې د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې دندې لرې، بې وسلې او څارنوالۍ ته وسپارل شي . او دغه څوکۍ باید مسلکي کسانو ته وسپارل شي . . . که څنګه؟ او دا کار باید څنګه وشي؟

دلته مرکه کېدونکی مجبورېږي چې یا خپل ځواب بشپړ کړي او د خپل نظر چې باید په کورنیو چارو وزارت کې بدلون راشي، نور هم په څرګنده توګه ووايي .

خبریال باید پوه وي چې ډیر کسان په ځانګړي توګه سیاستوال تل هڅه کوي چې خبریال په خبرواترو او بحث کې داسې راښکېل کړي چې خبریال باید تر خپلو پوښتنو تېر شي او له ده سره په ځینو موضوعاتو دلیل ووايي او ان شخړه وکړي . خبریال ته ښايي چې په داسې اکر کې دا ډول شخص ته په خوږه ژبه ووايي چې د ده د مرکې موخه بحث نه دی، بلکې هغه پوښتنې دي چې ولس یې ځوابونه د مرکه کېدونکي کس له خولې څخه اورېدل غواړي . خو بیا هم خبریال کولای شي چې د ده د هڅونې په موخه خپل نظر هم ووايي او په وینه کې ځان ورګډ کړي، خو ډېر لنډ او ګنډ .

که چېرې مرکه کېدونکی یو څانګیز کارپوه وي او د خپلې مسلکي ژبې ویې کاروي، خبریال ته ښايي چې ده ته ووايي چې خپل ځوابونه په ساده ژبه ووايي چې ټول ولسي خلك پوه شي .

د پوښتنو په وخت کې خبريال ته ښايي چې مرکه کېدونکی کس پر هغو لاسوندونو ونګوي چې د ده له اوسنيو ځوابونو سره په ټکر کې راځي . خبريال ته ښايي چې هيڅ وخت د خبرو مهار يا موټيوی د مرکه کېدونکي په لاس کې ورنه کړي . هر کله چې خبريال پوه شي چې مرکه کېدونکی کس له آر سکالو څخه واټن نيسي، بايد ژر يې خبره ونيسي .

## د مرکې ليکل

ډېر وخت خبريالان د هر سوال په مخکې خپل نوم يا هم د خبري رسنۍ نوم ليکي چې دواړه بې ځايه دي . (د مثال لپاره د لراوبر برسېرنې مرکه وګورئ) .
کله کله هم پوښتنه پنډه يا په بل رنګ ليکي چې دا دواړه هم کومه ځانګړې ګټه نه لري .
خبريال کولای شي چې پوښتنه يوازې په (پ=پوښتنه) يا (س=سوال) نښه کړي . خو بايد د هر ځواب په مخکې د مرکه کېدونکي کس نوم وليکل شي، ځکه چې ډېر وخت له لوستونکيو څخه يې نوم هېر شي .

په لنډه مرکه کې له آره د مرکې منځپانګه ډېره اړينه ده . خبريال اړ نه دی چې په خپله د شخص په اړه، د مرکې د بهير او فضا په اړ څه وليکي .
خو اوږده مرکه بايد مالوماتي، په زړه پورې او خلکو ته يو ګټور پيغام ولري . اوږده مرکه بايد تلوسه ولري . د مرکې د ليك په وخت کې بايد مرکه داسې ونه ليکل شي لکه څنګه چې شوې ده . په مرکه کې تل داسې پېښېږي چې يو کس د يوه خبره دوه ځلې تکرار کړي، يا په يوه خبره کې غلط شي، خبره نيمايي پرېږدي او غونډله بيا له سره پيل کړي . خبريال بايد د مرکې د

لیك په وخت کې دغه ډول غونډلې، او همدارنګه زاړه او اظافي مالومات لرې کړي . ډېر خبریالان داسې انګېري چې که د یوې اوږدې مرکې پنځوس سلنه برخه لوستونکیو ته د وړاندې کولو وړتیا ولري، په دې مانا چې خبریال خپله موخه لاسته راوړې ده .

په مرکه کې د ښه او اساسي جوړښت بنسټ یوازې د مرکې آر ټکي لکه د مرکې سکالو، د مرکې ډېره اړینه وینا ، مرکې ته ننوت او د مرکې تېزي (چې ځومره ژر–ژر او روانه لوستل کېږي) جوړولای شي . د مرکې سرلیك او پیل باید داسې ولیکل شي چې لوستونکي ته پوښتنې پیدا کړي . د سرلیك لپاره کېدای چې سړی د مرکه کېدونکي شخص کوم ځواب وکاروي .
د مرکه کېدونکي شخص هغه وینا چې خبریال یې د مرکې په سرلیك کې رانغاړي، بایدد ویناليږدنښه (") ورسره کېښوول شي . په دې سره باید لوستونکي وپوهول شي چې دغه وینا په مرکه کېدونکي شخص پورې اړه لري .

د مرکې په پیل کې باید د مرکه کېدونکي نوم، د مرکې سکالو او د مرکې موخه ولیکل شي . په ډېرو مرکو کې خبریال یو ځل د لنډیز په توګه د مرکه کېدونکي کس نوم، دنده، د مرکې سکالو او موخه لیکي، او بیا یې له مرکه کېدونکي شخص څخه پوښتې چې لوستونکیو او خبري رسنۍ ته ځان ورپېژني . همدغه مالومات چې یو ځل په لنډیز کې خبریال لیکلي وي، یو ځل بیا یې د مرکه کېدونکي شخص له خولې لیکي . دغه تکرار د لوستونکیو لپاره یو اظافي بار دی . لکه په لاندې مرکه کې :

له شاعر او سندرغاړي درویش کاکړ سره مرکه
http://www.larawbar.net/detail.php?id=3199

عبدالخالیق درویش چې د سهیلي پښتونخوا د کلا سیف الله د سیمې اسېدونکی دی او په ختېه کاکړ پښتون دی له ډېرې مودې راهسې سندرې وایي چې خدای پاک ډېر ښکی ږغ ورړی دی هغه تر حده زیاتې انقلابي ترانې ویلې دي [ هلئ پښتنو زلمو دا وطن ګټېل غواړي ] دې ترانې درویش کاکړ ته یو نوی نوم ورکړ او له سندرو سره سره ډېره خوږه شاعري هم کوي ما له هغه سره په رېډیو پاکستان ږوب کې یوه مرکه کړې ده ، دا مرکه دوې میاشتې مخکې په لراوبر ویبپاڼه کي تر خپرېدو وروسته د تخنیکي ستونزي له امله اوس په دوهم ځل بیاخپروم. تاثیر –کوټه
پوښتنه – د مرکې د دستور سره سم باید لومړی ما او ګرانو لوستونکو ته خپل ځان را وپېژنې .
ځواب– ګران تاثیره! زه درویش کاکړ، په قبیلوي لحاظ کاکړ سنزرخېل میرزی قوم سره تړاو لرم اصلي نوم مې عبدالخالق دی د سهیلي پښتونخوا کلا سیف الله اوسېدونکی یم ، د موسیقي او شاعري له دنیا او له خپلې ګرانې پښتو ژبې سره ډېره مینه لرم . . .

د مرکې د لیك په وخت کې باید د مرکې په پیل کې یوه څرګنده، په سکالو پورې اړوند پوښتنه او د مرکې په پای کې باید یوه داسې پوښتنه وکړل شي چې لوستونکیو ته یو نظر ورکړي او دواړه پوښتنې باید د مرکې پیل او پای یو له بل سره وتړي . د مرکې په پیل کې کیدای شي چې خبریال یوه داسې پوښتنه ولیکي چې د لوستونکي لپاره په زړه پورې، ولولیزه او پاروونکې وي . یا هم داسې یوه پوښتنه چې د سکالو لپاره ډیره اړینه وي .

ډېر اوږد پيل د لوستونکيو لپاره په زړه پورې نه وي . خبريال بايد ژر په آر سکالوخبرې پيل کړي او ژر يوه پوښتنه وليکي . که څه هم چې ډېرې خبري رسنۍ ټينګار کوي چې بايد د مرکې بهير ته ونجون ورنه کړل شي، او لکه څنګه چې شوې ده، همداسې بايد وليکل شي . خو بايد وويل شي دا ډول مرکه ډېره ستومانه وونکې وي او لوستونکي ژر تنګوي . ځکه چې هر سړی چې هر څومره پوه هم وي، بيا هم ځينې خبرې تکراروي يا يوه غونډله نيمګړې پرېږدي، بله پيل کړي .
خبريال کولای شي چې ان پوښتنې د مرکې د ليك په وخت کې لږ نورې هم ساده کړي، خو په دې آړ چې جاج او مانا به يې بدلون نه مومي .

خبريال بايد هڅه وکړي چې مرکه داسې وليکي چې پوښتنې يې يو له بله سره سوليز تړاو ولري . خبريال ته نه ښايي چې له يوه سکالو څخه بل سکالو ته ډېر ژر ولاړ شي، ځکه چې په دې سره د مرکې روان والی له منځه ځي او د لوستونکيو لپاره پوهاوی ستونزمن کېږي .
هره مرکه چې پوښتنې يې اوږدې او ځوابونو يې اوږده وي، لوستونکی ژر ستومانه کوي . نو که چېرې په مرکه کې يوه اوږده پوښتنه شتون ولري، خبريال کولای شي چې د ليك په وخت کې يې رالنډه کړي . مانا دا چې له اوږدې پوښتنې دوه درې پوښتنې جوړې کړي او له اوږده ځواب څخه دوه درې ځوابونه جوړ کړي . هر څومره چې پوښتنې لنډې وي، همدومره څرګندې او همدومره د سم پوهاوي وړ ګرځي او همدومره يې ځوابونه څرګند وي . خو دغه ونجونونه بايد په دې آړ رامنځته شي چې د پوښتنې يا ځواب په مانا کې کوم تغير را نه شي .

د يادونې وړ ده چې پوښتنې په څلور ډوله دي :

**خلاصې يا مالوماتې پوښتنې** چې د ځواب لپاره يې بايد مالومات وړاندې شي .
**تړلې يا هو او نه پوښتنې** چې په هو او نه ځوابېږي .
**بلونج يا الټېرنټيف پوښتنې** چې په منښت يا ناباندېتوب ځوابېږي .
**انتخابي پوښتنې** چې له الف، ب، ت ځوابونو څخه يې يو امرل کېږي .

# تبصروي ليکبنې

د ډېرو خبريالانو په اند تبصرې د ژورنالېزم هغه اړينه برخه ده چې هېڅ وخت له پامه نه شي غورځېدلی . لوستونکيو ته نه يوازې خبر اړين دی، بلکې همدارنګه د ليکوالو او خبريالانو اندوواند هم . که خبريال ريښتيا هم ولس ته هغه مالومات ورکول غواړي چې د ټولنې سياسي، ټولنيز او سوداګريز جوړښت اغېزمنوي، نو بايدچې د سياسي، علمي، ټولنيزو او سوداګريزو پرېکړو شننه هم وکړي او خلکو ته يې اړتيا ، وړتيا ، ګټه، ښېګڼه او بدوالی وارزوي . دوی بايد د ټولنې وګړي د خپل نظر څرګندلو ته وهڅوي او له دوی سره د وس تر بريده د دوی د اند په جوړولو کې مرستندوی شي .

هر تبصره بايد د ټولنې د اړتيا پر بنسټ وشي . خو له بده مرغه ډېر خبريالان او ليکوال د لوستونکيو اړتيا په پام کې نه نيسي . دوی پر هغو پېښو او موضوع ګانو خپل نظر او تبصره ليکي چې خوښه يې وي . له دغو تبصرو څخه ډېرې يې د خبر په څېر پرته له ارزونې، شننې او کوم مالوم او څرګند نظره څخه وي . په تبصره کې چې پېښه يا سکالو ارزول شوی نه وي، له خبر سره هېڅ توپير نه لري . نو ځکه ورته هېڅ اړتيا هم نه ليدل کېږي . خو پاموړ دا ده چې هر پېښه بايد په ځانګيز (مسلکي) ډول وارزول شي . داسې نه چې په چا باندې شخصي تېری وشي او يا بې ځای ګوتنيونه .

په خبر کې د خبريال تبصره او نظر ځای نه لري، خو هره تبصره بيا د خبريال او ليکوال شخصي نظر دی . د تبصرې يا نظر څرګندولو لپاره ځانګړې ژورنالېستي ليکبنې شتون لري او بايد چې له خبري برخې څخه جلا وليکل شي . دوی بايد د "تبصرې" په ويي سره په نښه شي . خبريالان کولای شي چې خپل نظر د تبصرې په بڼه په تبصره، طنز، کالم، سرمقاله او کره کتنه کې خلکو ته وړاندې کړي .

يو ځل بيا په لنډه او ساده ژبه :
د تبصرې موخه تېرو او ورځنيو پېښو، خو په ټوليزه توګه د هغو پېښو او سکالووې شنل او ارزول دي چې يو ټولنيز اړين پيغام ولري او تر وسته پر روانو پېښو وي . ليکوال يا خبريال خپل نظر خلکو ته وړاندې کوي، او له خلکو سره د هغوې د نظر په جوړولو کې مرسته کوي .

تبصروي ليکبڼې په لاندې توګه دي :

**تبصره :**
تبصره ورځنۍ پېښې ارزوي او له لوستونکيو سره د دوی د نظر په جوړولو کې مرسته کوي .

**سرمقاله :**
سر مقاله هم يو ډول تبصره ده چې نه يوازې د ليکوال نظر، بلکې په خپله د خپرونې نظر او کړنلار يا تګ لوری هم څرګندوي . په دې مانا چې آيا ولسواکه، اسلامپاله که چپی ده . سرمقاله يوازې او يوازې پر روانو پېښو تبصره کوي او د سکالو د ارزونې سره سم راتلونکو ستونزو ته نغوته کوي .
سرمقاله پر پېښو يواځې په خپل اند قضاوت کوي او د نورو ټولو نظريو څخه يوازې خپله د منبنت وړ ګڼي . سرمقاله د تبصرې په پر تله اوږده وي .

## طنز :

طنز د ښاغلي پوهنمل محمود نظري په وينا په هنرى ډول دټولنيزو ښويېدنو،کمبوتيو، نقصونو ، فسادونو او عيبونو رټنه ده . يا په لنډه توګه د ځينو لوديځ ليکوالو په وينا طنز پر ورځنيو پېښنو د ټوکو ټکالو په شان تبصره کوي چې کېداى شي اغېزه يې تر تبصرې هم ډېره وي .

## کره کتنه :

کره کتنه له آره د کتاب، تياتر، ډرامې، چاپي، اوريزو او وينيزو خپرونو نقدول او پر هغوى نظر ورکول دي . په دې مانا چې د دوى پر ښېګڼه، ګټه، سمون او غلطيو خبرې کوي .

## کالم :

کالم هم د تبصرې يو ډول دى چې په ورځپاڼه کې خپرېږي او د يوه پېژندلي يا مشهور ليکوال لخوا ليکل کېږي . په کالم کې چې پر موخيزو پېښنو يا سکالووې کوم نظر ورکړل شوى وي، يوازې او يوازې د ليکوال خپل نظر دى . د ده له اند سره د رسنۍ د نظر يووالى آړ نه دى . کالم د تبصرې او سرمقالې په پرتله ډېر په عصري، نثري او هنري ژبه ليکل کېږي .

## کاريکاتور :

کاريکاتور يوه انځوريزه تبصره ده چې ليکوال پر موخيز څيز د ټوکو او پسخند په توګه تبصره کوي .

د تبصرې لپاره بايد لاندې ټکي په نظر کې ونيول شي :

دا چې پر هره پېښه د خبريال وران پوهاوی د ميليونونو لوستونکيو د وران پوهاوي سبب ګرځي، نو خبريال بايد لمړی ځان پر هره پېښه يا پر موخيز سکالو پوره پوه کړي . دی بايد په تبصره کې د پېښې پر ټولو اړخونو وغږېږي . له شکمنو، نامالومو او بې پيغامه مالوماتو بايد ډه ډه وکړي .

خبريال بايد تل هڅه وکړي چې د خلکو ژبه (ساده، روانه او ټولو ته د پوهېدا وړ ژبه) وکاروي او له ژبيزو يا ګړدودي څرګندنو (اصطلاحاتو) څخه ډډه وکړي . مبصر، هر ګوره کولای شي چې په طنز، کالم او کاريکاتور کې له شعر، متل، لنډۍ او دوديزو څرګندنو څخه هم کار واخلي، هر ګوره د اړتيا پر کچه .

خبريال بايدتل د تبصرې لپاره څېړنه وکړي . دا څېړنه د خبر په څېر يوازې د (څه شی، څوك، څه وخت، څنګه، چېرته) په پوښتنو نه شي ځوابېدلای . د تبصرې آر برخه د (څنګه، ولې او څه شی به لا نور پېښېږي) په پوښتنو راڅرخي . خبريال کولای شي چې د خپل دك و دليل لپاره د نورو ليکنو، خپرونو او کتابونو څخه هم ګټه واخلي او له مسلکي کسانو سره وغږېږي . په تبصره کې بايد خبريال او ليکوال هڅه وکړي چې يو سکالو د هغه د ټول جاج او مانا سره وشني او وارزوي . هر خبريال بايد خپل نظر څرګند وليکي او هره تبصره بايد له تلوسې ډکه وليکي .

# د تبصرې ليكدود

**سرليك :**
د تبصرې سرليك بايد زړه راکښونکی وي او د تبصرې اړوند خو يوې ټوليزې نظريې ته نغوته شوې وي . ځينې خبريالان ان هڅه کوي چې په سرليك کې د تبصرې د سکالو يادونه وکړي . لکه :

امريکا خپله خپلواکي په خپله بې بنسټه کوي (برسېرن سرليك) .
نورو ملتونو ته د خپلواکۍ په انکار سره د امريکا امنيت نه شي ټينګېدلای (لاندېنی سرليك) .

**پيل :**
په دې برخه کې بايد لوستونکيو ته وويل شي چې تبصره د څه شي په باره کې ده . خبريال کولای شي چې ان په دې برخه کې دتبصرې لوری مالوم يا خپل نظر او قضاوت څرګند کړي . لکه :

| |
|---|
| د امريکا ولسمشر بوش د لبناني حکومت غوښتنه چې بايد اسرائيلي فوځونه يې له خاورې ووځي، يوه نه منونکې غوښتنه وګڼله . بوش په دې سره نه يوازې د لبنانيانو حق تر پښو لاندې کړ، بلکې همدرانګه يې د امريکايانو د رښتو او سولې ته د هيلو څخه انکار وکړ . |

**آربرخه :**
د تبصرې دغه برخه معمولاََ په ادبياتو کې د دك ودليل برخه بلل کېږي . په دې برخه کې بايد د سکالو په اړه ليکوال خپل نظر وليکي . دغه دك و دليل کېدای شي چې په درو ډولونو څرګند شي :

**د داوې په څېر تبصره :**

که ليکوال په دې اند وي چې په افغانستان کې د ناټوځواکونو شتون اړين دی، نو دی بايد لمړی خپل نظر څرګند کړي او هڅه وکړي چې لوستونکي له خپل الواکه قانع کړي . مبصر په دغه برخه کې خپل دليلونه وړاندې کوي او په ناسيده توګه پر هغو اړينو نظريو هم غږيږي چې څه ناڅه د خلکو په منځ کې شتون لري يا يې څه ناڅه خلك پلوي کوي . خبريال د خپل دليل د ځواکمنولو په موخه ناباندې (مخالف) نظرونه هم راوړي او په خپل دليل سره يې ضعيفوي . په دې سره د مبصر دليل نور هم د منبنت وړ ګرځي .

**يو لوری تبصره :**

په دې ډول تبصره کې ليکوال يو شی يا بنه ګڼي يا بد . که برسېرن مثال يو ځل بيا رواخلو، نو مبصر به د ناټوځواکونو يا بنه وايي يا بد . دا کېدون نه لري چې هم يې د پر بنو اړخونو وغږېږي هم پر بدو .

**يوخوا- بلخوا تبصره :**

په دې ډول تبصره کې ليکوال د مثال په توګه د ناټو ځواکونو پر شتون خپل نظر او همدارنګه د نورو کسانو نظر وړاندې کوي، ټول اړخونه يې څېړې او يو له بل سره يې پرتله او ارزوي . په دې مانا چې ليکوال به ليکي :

"خلکو، يوخوا ناټو ځواکونو د افغانستان د تجزيې او مرتدو ګاونډيو مخنيوی کړی دی، خو بلخوا مو هره ورځ ماشومان راوژني . دا ستونزه ډيره سخته ده . زه په خپله تر اوسه زما د څېړنې پر بنسټ په دې اند يم چې بايد دوی يو سم افغان حکومت رامنځته کړي او خپل ځواکونه ورو-ورو له افغانستان وباسي . خو بياهم ما يې اړين اړخونه وڅېړل، تاسې ته مې د حل لارو څېړنه او ارزونه وکړه . نو تاسې چې هر يوه بنه ګڼئ، ستاسې خوبنه ."

د يادونې وړ ده چې اوسمهال د تبصرو ډولونو ته ګرد سره ارزښت نه ورکول کېږي . هر ليکوال د پېښې په باره کې خپل نظر وړاندې کوي . د هغه تبصره کېدای شي چې لږ د يو لوري تبصرې په ډول، او لږ هم د يوخوا–بلخوا تبصرې په شان وي او لږ هم د داوې په څېر وي . اړينه دا ده چې لوستونکيو ته بايد پېښه وارزول شي، او د يوې سياسې پرېکړې په باره کې د نظر په جوړولو کې ورسره مرسته وشي .

مبصر اړ نه دی چې د موخيزې پېښې يا سکالو په اړه ټول مالومات وليکي، بلکې يوازې يې د تبصرې لپاره بايد د هغو اړينو ټکو يادونه وکړي چې لوستونکي د تبصرې پر سکالو پوه شي . د برسېرنې تبصرې پاتې برخه :

د امريکا پخوانی ولسمشر ابرهم لينکن وايي :
"پرېږدئ چې هر امريکايي، هر د خپلواکۍ مين، هر يو چې د خپلې ښېرازۍ لپاره هيله من وي، چې د انقلاب په وينه سره لوړه وکړي، چې هېڅ وخت به د خپل ملك قانون په خپله نه ماتوي او نه به هم د بل چا له خوا د قانون ماتول وزغمي ."

د بوش اداره د امريکا بنسټيز آرونه ردوي او د نورو ملتونو کولتور او دين ته سپکاوی کوي . د بوش اداره په دې سره په لبنان، اسرائيلو، فلسطين عراق او افغانستان کې د سولې او ټيکاو مخالفت کوي چې ان د اور دود يې امريکا ته رسېږي .

د امريکا ځناور نظامي ځواکونه په افغانستان کې واك جګړه مارانو ته ورکوي، خو د ولسي وکړو پر ضد جنګېږي . د عراق ملي شتمني يې له خاور

سره برابره کړه او ټول يې رنګ کړ . بده لادا چې همدا يو عراق يې اوس ټوټې کړ او خلك يې په کورنۍ جګړه اخته کړل .
امريکا د وينزويلا په ضد په توطئو لګيا ده، د کيوبا ملت د خپل حکومت په ضد پاڅون ته هڅوي (يوازې تېره مياشت يې د کاسترو مخالفو ټوليو ته اتيا ميليونه ډالره ورکړل)، د شمالي کوريا مځکنۍ بشپړتيا ګواښي او پر سوريه د يرغل پلان جوړوي .
امريکا د ولسواکۍ غوښتنه کوي، خو د افغانستان، فلسطين، الجزائر، مصر، سوډان او سومالیا دېموکراسي نه مني، د دوی حق تر پښو لاندې کوي او د وی امنيت ګواښي .

**وتون**

د دك و دليل له برخې وروسته بايد له تبصرې څخه وتون په داسې غونډلو وشي چې لوستونکيو ته يو ځل بيا د تبصرې سکالو او موخه ور پر زړه شي .
خو خبريال بايد په وتون کې خپل نظر څرګند کړي چې خلکو ته د سوچ او غور لامل وګرځي .

کېدای شي چې د امريکا او اسرائيلو پر ضد د جګړو لپاره يو څو شمېرلي لاملونه شتون ولري، خو له آره امريکا په خپله خپل امينت له ګواښ سره مخ کوي او هغه هم د خپل پخواني ولسمشر د وينا پر بنسټ چې وايي :
"څوك چې چاته د خپلواکۍ په ورکولو انکار کوي، په خپله هم د خپلواکۍ رښتنه نه لري او د يوه حق خدای په شتون کې به يې هېڅ وخت هم لاسته رانه وړي ."

همدا لامل دی چې نه به امريکايان په خپل کور کې او نه هم د باندې په امن وي . يوه اوږده او تل پاتې وېره به يې په برخه وي .

# کره کتنه

هغه راپورونه او تبصرې چې پر هنري او ادبي پنځونو لکه شعري ټولګه، کتاب، ناول، لنډې کیسې فېلم، تیاتر او . . . راڅرخي او د هغوي شننه او ارزونه کوي او پر پای کې یې ډېر ښه، ښه یا لږ ښه او یا هم بې ګټې ګڼي، کره کتنه بلل کېږي .
په لوېديځ کې کره کتنې ته د يوې پنځونې د ارزونې هنر هم ويل کېږي چې پر پوهه، سول، ټولیزو او ټولنیزو حقیقتونو ټیکاو ولري .

کره کتنه هممهال یوه تبصره ده، ځکه چې د کتاب، تیاتر، فېلم او . . . منځپانګه شني او ارزونه یې کوي . کره کتونکی هره ادبي او هنري پنځونه او د هغوی منځپانګې له نورو هغو او په خپله پوهه او دك و دلیل سره پرتله او اندازه کوي، نیوکه پرې کوي، هغه څېړي او د دوی په اړه پرېکړه کوي .
د کره کتونکي کتنه او قضاوت د لوستونکیو او نندارچیانو لپاره یو ډول جوپړ هم دی . په دې مانا چې دوی به د کتاب د پېرلو، یا نه پېرلو یا هم د تیاتر یا فېلم د لیدو یا نه لیدو تابیا کوي . خو ډېر لوستونکي د کره کتونکي نظر او قضاوت ته یوازې د ده د شخصي نظر په سترګه ګوري .

کره کتنه د مجلې په پر تله په اخبار کې ډېره لیکل کېږي . که څه هم چې په لویدیځو هېوادو کې د ادبیاتو ځانګړې مجلې وي، خو بیا هم په ورځپاڼو کې ډېر ځای ورکول کېږي . د کره کتنې ژبه د ورځپاڼې په څېر روانه او ساده نه وي . د دې لامل د کره کتنې جوړښت کېدای شي . ځکه چې په کره کتنه کې کابو له ټولو ژورنالېستي لیکبڼو څخه کار اخېستل کېږي . لکه، راپور، تبصره، فیچر او راپورتاژ .

کره کتونکی کولای شي چې پر کتاب، تیاتر، موسیقي، هنرتوکو، فېلم، لرغړون (رادیو) او لروینون (تېلوېزیون) کره کتنه ولیکي .

د دوی د کره کتنې په لیکلو کوم ستر توپیر نشته . هر موخیز ځیز شنل، سپړل او ارزول کېږي . خو د تېلویزیون او رادیو کره کتنه د نورو هغو په څېر ژوره نه وي . په دې مانا چې کره کتونکی یوازې خپل نظر لیکي او د خپل اند د زبادولو لپاره د تېلویزیون او رادیو د خپرونې هغه ډېرې اړینې څو صحنې یا ننداریځونه یا هم خبرې لیکي . ځکه چې د رادیو او لروینون خپرونه ډېر لیدونکیو او اورېدونکیو لیدلي او اورېدلي وي . د هرې خبرې او هرې صحنې په باره کې بیا–بیا لیکل او د هغوی په باره کې رپوټ ورکول د لیکوال او لوستونکیو لپاره یو اظافي بار دی .

## د کره کتنې ژبه او لیکدود

مخکې له دې چې کره کتونکی خپله کره کتنه ولیکي، نو باید چې موخیز کتاب، تیاتر، فېلم، تېلوېزیوني او رادیویي خپرونه یې لیدلي، لوستلې یا اورېدلې وي او په دې اړه یې پوره څېړنه کړې وي . همدارنګه باید د موخیز ځیز په اړه یوه څرګنده ارزونه او نظر ولري . د موخیز ځیز ارزښت (ښه والی یا بد والی) او په دې اړه باید یو څرګند نظر په یوه تېزې کې راونغښتل شي . د کره کتنې تېزې د ټولې کره کتنې جوړښت او د دك ودلیل برخه اغېزمنوي او کره کتنې ته پر یوه لوري ماتوالی ورکوي . دا چې همدغه ارزونه او یا د کره کتنې تېزې پر ټوله کره کتنه راڅرخي، نو ځکه تل د کره کتنې په سرلیك کې وړاندې کېږي . د بېلګې په توګه د کره کتنې سرلیك او تېزې :

د ګوانتانامو انځور، د بشريت د حقوقو د مدعيانو يو رېښتونی انځور

سرليك ("د ګوانتانامو انځور" د بشريت دحقوقو د مدعيانو يو رېښتينی انځور) او تېزې (د بشريت د ساتونکيو يو رېښتينی انځور) .

سرليك او تېزې بايد په پوره غور، څېړنه او سمو مالوماتو پر بنسټ وامرل شي او هېڅکله يو لوری قضاوت ونه شي .

هر کره کتنه نه يوازې د موخيز څيز منځپانګه سپړي، بلکې د دوی پر شاليد هم پوره رڼا اچوي . که څه هم چې د ځينو فېلمونو او تياتر ټوټو په باره کې د مطبعې يا د فېلم کمپنۍ له خوا هم ځينې مالومات د کتابګوټي په شکل وړاندې کېږي، خو دا يوازې د دوی د خپلو موادو لپاره تبليغ ګڼل کېږي . نو ځکه لوستونکي تل د يوه بې پرې خبريال يا کره کتونکي نظر او مالوماتو ته اړ دي . بلخوا لوستونکي کولای شي چې د شاليد د مالوماتو پر بنسټ د کره کتونکي پر نظر او پيغام هم پوره پو شي چې دا په خپل وار د کتاب، فېلم يا تياتر پوهاوی نور هم اسانه کوي .

د شاليد په باره کې مالومات دومره اړين دي چې ان ډېر ليکوال خپله کره کتنه د شاليد پر مالوماتو پيلوي . او په دې وسيله سره دوی خپل لوستونکي د نويو مالوماتو لپاره سمبالوي . د بېلګې په توګه :

ښاغلی ملا عبدالسلام ضيف په 2000 دوه زرم کال کې په پاکستان کې د طالبانو د امارت استازی وو . سربېره پر دې چې ښاغلي ضعيف په پاکستان کې د افغانستان منلی سفير وو، وروسته د امارت له ړنګېدا يې قانوي ويزه هم درلوده . خو پاکستان بيا هم د ملګرو ملتونو له قانون څخه سرغړاوی وکړ او ښاغلی ضعيف يې د ترهګرۍ په پلمه ونيو . وروسته له څو ورځو

پاکستاني جنرالانو د ده کالي، ګړۍ، روپۍ او بوټ ترې وشکول او لوڅ بربنډ یې امریکایانو ته وسپاره . امریکایي ځواکونو ښاغلی ضعیف لمړی د افغانستان په بندیخانو کې وکړاوه او وروسته یې ګوانتانامو بندیخانې ته یووړ . دوی ښاغلی ضعیف له دوه زره دویم څخه تر دوه زره پینځم پورې په ګوانتانامو کې بندي کړ او هغه سزاوې یې ورکړې چې د انسانیت په پېر کې یې بېلګې نه لیدل کېږي . . . .

ښاغلي ضعیف په دوه زره او پینځم کال کې له خپل خلاصون ورسته په افغانستان کې د ګوانتانامو د بندیخانې په باره کې یو ډېر مالوماتي کتاب ولیك چې د نوموړې بندیخانې یو هر اړخیز انځور دی .

وروسته د شالید له مالوماتو لیکوال ته ښايي چې د موخیز څیز منځپانګه وسپړي او همهال یې وارزوي . د بېلګې په توګه :

د ښاغلي ضعیف کتاب "د ګوانتانامو انځور" د ده له نیولو څخه تر خلاصون پورې ټول هغه مالومات په خپله لمن کې رانغاړي چې د هرې کرښې په لوست به یې د لوستونکیو اوښکي راشي . دی د پاکستاني چارواکو دوښمني له افغانانو سره، د دوی آره څېره او اسلامي ضد کړنلاره، غیر انساني، سپکه او غېر دېپلوماتي چلند د یوه لوړ پوړي دولتي کارمن په یوه لنډه وینا سره داسې څرګندوي :
"(یور ایکسلیسني یوار نو مور ایکسلیسني)
( your Excellency you are no more Excellency)
یعني ډېر محترمه ته نور محترم نه یې دا هغه الفاظ دي چې دډېرې دښمنۍ او تعصب له مخې استعمالیږی اود ډېر بې عقلو ترخولو وزي او کله یې هم ضرورت نه لیده کیده، او یواځې یې دتعصب او دښمني څرګندونه کوله ."

ښاغلی ضعیف له دیپلوماسۍ څخه کار اخلي، خو چارواکي ته نه اسلام مهم دی او نه هم د ملګرو ملتونو قانون، بلکې تر ټولو لمړی پنجابي ګټې او دویم خپل بادار امریکا . ښاغلی ضعیف په داسې اکر کې له کوره وباسي چې ماشومان يې پسې ژاړي . پر لارو ان د لمانځه د ادا کولو موکه نه ورکوي . د غلو په څېر يې ډېجېټل قاموس، لاسي ګړانه ګړۍ او ان د قرانکریم نسخه ترې اخلي . کالي يې ورځیري، په لغتو او سوکانو يې وهي، او امریکایانو ته یې په داسې حال کې سپاري چې پاکستاني جنرالان امریکايي سرتېرو ته په تشریفاتي دود د تیار سئ په حال کې ولاړ دي . ښاغلی ضیعف چې په خپله یو غیرتي او دروند سړی دی، د پنجابیانو په بې احترامۍ او د امریکایانو په ځناروې او سپکې رويې دومره ځورېږي چې ان د مرګ هیله کوي . دی لیکي :
"په دي مي تسلي کوله چې ګوندي په هم دي حالت کې مي له بدنه روح جلا شي، او دراتلونکي بي عزتیو او تکالیفو څخه به خلاص شم، خو زما دا هیلي په ناهیلي بدلي شوي ."

ښاغلی ضعیف په خپله انځوریزه سپړنه سره نه یوازې لوستونکی هغه دردوونکي صحنې ته له ځان سره بیایي، بلکې په خپله هم د لیك په وخت کې درد ورځي او له پنجابه خپله ګیله کوي :
"څلور پنځه نفره سربېره راباندي ناست و ، او خپل مجلس یې کاوه!!! لکه په یوه ډېره یالرګی چی ناست وی، او زه به همیش دمرګ په انتظار وم، چې کله به می ساه خیژی، او کله به عزرائیل چمبي راباندي ایږدي، اي پاکستانه!"

دا ټولې هغه صحنې دي چې نه یوازې د ښاغلي ضعیف په کتاب کې رابرسېره شوې، بلکې ډېرو بندیانو وروسته له ګوانتانامو څخه په وار وار په مرکو کې ویلي دي او په خپلو کتابونو کې یې ځای ورکړی دی . سربېره پر دې، تر ډېره د ښنني نړیوالې موسسې او د بشر ي حقوقو ساتونکیو په خپلو راپورونو کې کښلې دي . . .

ښاغلی ضعيف نه يوازې دا چې د خپل سترګو ليدلی حال څرګندوي، بلکې همداراز يې د نورو هغو بنديانو کيسې هم رانغښتې دي چې په شمال کې اسير شوي ول . دی د نورو بنديانو له خولي ليکي چې له اتو زرو اسيرو طالبانو څخه پينځه زره څنګه چا او په څه ډول شهيدان کړل . چا ژوندي ښخ کړل، څنګه وويشتل شول، ولې په برچو ووهل شول، او څنګه په کانتينرونو کې واچول شول ، څنګه له بنديانو څخه د تسليمۍ په وخت کې روپۍ، ښه بوټ، صدرۍ، لونګۍاو ان د يوه له خولې د ژړو غاښ چې دوستميانو فکر کاوه چې سره زر به وي، چا په پلاس ايستل . په کتاب کې د کلای جنګي د پاڅون په هلکه هم مالومات راټول شوي دې چې سبب او لامل يې د دوستميانو ځناوره رويه ګڼل شوې ده . . .

ښاغلی ضعيف همداسې د ګوانتانامو سفر سپړي چې خورا له کړاوه ډک دی . دی د ګوانتانامو قفسونه داسې انځوري :

"قفسونه يو دبل په څنګ و چې شپږ پوټه يې اوږدوالي درلود ، او څلورنيم پوټه يې بر و،يوه دچادر تخته يې دقفس په منځ ويلډينګ کړي وه چې ده خوب لپاره يې کار ځيني اخست ،کموډ او يو کوچني داوبو نل په قفس کې دننه جوړشوي و چې دا قفس مو دخوب، خوراک،لمانځه، او دحاجت ځای و، ديوه او بل قفس په منځ کې اوسپنيزې جالۍ وي، خو دحاجت په
وخت کې به ډېر مشکل و، يوائې ستر به مو په پټو سره کاوه خو بيا هم ضرورت وو ."

دا نه يوازې هغه انځوريزه سپړنه ده چې ډېر کم ناول ليکوال به يې وکړای شي، بلکې هغه حقيقتونه دي چې په تېلوېزيون کې به ډېرو خلکو ليدلي وي . ښاغلی ضعيف وړاندې ځي او ليکي چې په دغه قفسونو کې نه يوازې عسکرو وهل ډبول کول، بلکې ډاکترانو هم . په دې بنديخانه کې تر ټولو د وهم او ډار ځای پينځم بلاک دی چې قفسونه يې نه کړکۍ لري، نه بندي ته کالي ورکول کېږي، نه کټ شته او نه هم د خوب لپاره کومه کمپله . دا هغه بلاك دی چې د ژونديو لپاره قبر دی . په ټوليزه توګه د کتاب په پاڼو کې بنديانو ته د سپکاوي کيسې ډېرې دي . بنديان نه

يوازې بايد د سپي په څېر وغاپي او په څلورو ولاړ شي، بلکې همداسې يې سترګې ورترړل کېږي او په ديوالونو باندې ور وهل کېږي . همداراز رواني جزواي ورکول کېږي لکه د خپلوانو د نيولو خبر، د قرآن کريم څيرول او په ککړو اوبو کې غورځول .

دا ټولې هغه پېښې دي چې نه يوازې د ګوانتانامو په انځور کې بلکې په نورو کتابونو کې لکه د "ګوانتانامو ماتې زولنې" او ان په لويديځو خبري رسنيو کې يې کټ مټ نکل شوی دی . د دغې انځوريزې او بې پرې سپړنې پر وړاندې به هېڅوک هم ونه شي کړای چې ښاغلی ضعيف په تبليغاتو ګرم وګڼي . . .

په ګوانتانامو کې دريو بنديانو د جزا له امله ځان وژلی دی، ډېرو يې د ځانوژنې تابيا کړې وه او ډېرو يې د لوږې اعتصاب وکړ . دا ټول د دې لامل شول چې د ټولې نړۍ په ورځپاڼو او مجلو کې يې نکل وشو، خو داسې بشپړه سپړنه لکه د ښاغلي ضعيف بيا ډېرو ليکوالو نه ده کړې . . .

ښاغلی ضعيف نه يوازې د ځان د بېګناهۍ په موخه يو ډېر ښه دليل وايي، بلکې همداراز د نورو بنديانو په باره کې . ښاغلی ضعيف د ترهګرۍ په جرم نيول شوی دی، خو پوښتنې بايد د يورانيمو، ګاز، ګرانو ډبرو، ميس، سپينو او سرو زرو د کانونو په باره کې ورځواب کړي . ډېر بنديان بايد د خپلو نيولو لامل څرګند کړي چې ولې امريکايي ځواکونو نيولي دي . په دې سره لوستونکي پوهېږي چې امريکا په ريښتيا سره څه غواړي . له هر بندي څخه همدا يو رنګې پوښتنې په وار وار کېږي . . .

ترکي الاصله المانی مراد کورناځ چې په دوه زره دويم کال کې پاکستاني چارواکو په امريکايي ځواکونو پلورلی وو، په خپلو مرکو کې د المان په تېلوېزيون کې په وار وار همداسې کيسې وکړې لکه د ښاغلي ضعيف کتاب چې پرې ډک دی . دی وايي چې د مستنطيقينو پوښتنې به هر وار ګرد سره يو ډول وې، نو ښاغلي کورناځ په

پای کې له ځوابولو ډه ډه کړې وه او دوی ته یې ویلي ول چې هغه ویدویي پټه د له سره وغړوي چې د ده تحقیق پرې ثبت شوی دی . . .

ښاغلی ضعیف خپلې تجربې په نېټه ییز ډول لیکلي دي او تر ډېره یې ان مالومه نېټه هم ورسره لیکلې ده . دی د خپل کتاب په پای کې افغانستان ته د سولې او هوساینې په هیله دی او وړاندیز کوي چې د افغان ولس قومونه د دې اسلام د مبارك دین په رڼا کې یو پر بل باور وکړي او د خپلو اسلامي عقیدې او دودونو پر بنسټ یو بل ته سره لاس ورکړي .

د وتون په برخه کې باید کره کتنه یوه ځرګنده ارزونه ولري . لکه :

د ښاغلي ضعیف کتاب "د ګوانتانامو انځور" به یوازځې انځور نومېږي، خو له آره ټولې هغه پېښې او حقیقتونه پکې سپړل شوي دي چې د امریکایي ځواکونو آره ځېره او د دوی موخې ځرګندوي . د ګوانتانامو انځور هغه مالومات وړاندې کوي چې امریکایې حکومت به یې په پر پېړیو پېړیو هم خپاره نه کړي . او نه به د داسې مالوماتو په راټولو او لیك سره د کوم خبریال او یا لیکوال وس ورسېږي . په دې کتاب کې ټول هغه مواد شتون لري چې د تاریخ لیکلو لپاره به ډېر اړین وي . دغه کتاب ډېرو هغو پوښتنو ته ځواب وایي چې د ګوانتانامو بندیخانې په اړه یې نه یوازې د بندیانو خپلوان پوښتي،بلکې هر هغه ځوك چې د انساني فطرت خاوند وي او د حقیقتونو په لټه کې وي . . .

د فېلم، کتاب، تیاتر، رادیو او تېلوېزیون او ډرامې منځپانګه باید وسپړل شي، خو د کنسرت په باره کې باید د رپوټ په ځېر یوه لیکنه وشي . دغه ډول رپوټونه د اخبار د رپوټونو په ځېر په بې پرې توګه نه لیکل کېږي . په دې

ډول رپوټونو کې هر لیکوال اجازه لري چې د لیکنې په اوږدو کې د خپل دك و دلیل پر بنسټ مطلوب ځیز وارزوي، هغه ښه، ډېر ښه او یا هم لږ ښه وګڼي یا یې ګرد سره بد وګڼي .

د کره کتنې اوږدوالی په سکالو پورې اړه لري . کله هم کېدای شي چې یوازې د مطلوب ځیز په باره کې یوه ګوتنیونه او یا هم د ځینو برخو تشرېح یې وشي، خو داسې هم کېږي چې د ټول کتاب منځپانګه او یا هم د ټول تیاتر په باره کې مالومات ورکړل شي . همداسې باید د کره کتنې د رپوټ په برخه کې د ننداړچیانو د غبرګون په اړه هم مالومات ورکړل شي .

کره کتنه د لوستونکیو لپاره ډېرې دندې تر سره کوي :
د ادب د نړۍ خبرونه وړاندې کېږي .لکه :
په تیاتر کې څه شی، څه وخت، څنګه، چېرته او د چا له خوا ولوبول شول؟
د ننداړچیانو غبرګون څه وو؟
په ټولیزه توګه د دې تیاتر پیغام څه وو؟
په ټولیزه توګه یې ارزونه څنګه وه؟

د دې تر څنګه کره کتونکی باید د لوستونکیو لپاره د فېلم، تیاتر او ننداړتون پته او وخت او همدارنګه د کتاب پېرلو ځای څرګند کړي . دغه ډول مالومات د کره کتنې په پای کې لیکل کېږي .

# د راديو او تېلويزيون کره کتنه

لکه چې مخکې وويل شول : د راديو او تېلويزيون کره کتنه د کتاب، فېلم، او تياتر په پرتله ډېره لنډه او خورا ستونزمنه وي . بلخوا يې ډېره برخه له تبصرې څخه جوړه وي . دا ډول کره کتنه له آره د تبصرې شکل لري چې له لوستونکيو سره د هغوی د نظر په جوړولو کې مرسته کوي . او همدا لامل دی چې د تبصرې ليکلو له قاعدې څخه کار اخېستل کېږي .

## ليکدود

دغه ډول کره کتنه د تبصرې په څېر بايدمخکې له ليکلو څخه يوه مالومه او ځرګنده ارزونه ولري . په همدې توګه بايد آخري غونډله چې د تبصرې قضاوت پکې ځرکندېږي، د کره کتنې په پيل کې وليکل شي . کره کتونکی کولای شي چې ان په سرليك کې خپل نظر وړاندې کړي .

## د کرته کتنې پيل

ليکوال د ارزونې سره سم يا هم د تېزې لپاره د خپرونې يوه اړينه صحنه داسې سپړي لکه څنګه چې پېښه شوې وي . همدارنګهد د انځورونو يا صحنو يوه لړۍ او د خپرونې، لروينون او يا لرغږون نوم ورسره ليکي .

## آر برخه

سر بېره پر دې چې کره کتنه او په ځانګړي توګه د تېلويزيوني او راديويي خپرونو کره کته د تبصرې په ډول ليکل کېږي، خو بيا هم د کره کتنې آرې برخې ته د "دك و دليل" برخه نه ويل کېږي . يو يا دوه دليله او د هغوي

اړوند نندارېځونه (صحنې) ګرد سره بس دي . په دې ډول کره کتنه کې دلیل په آخري غونډله کې د تېزې او قضاوت لپاره سیده ویل کېږي،بې له دې چې خبریال د سکالو پر شاوخوا راوڅرخي . دی داسې دلیل وايي چې ژر په موخیز څیز قضاوت وشي او بس . د یادونې وړ ده چې هر صحنه چې تر کره کتنې لاندې نیول کېږي، باید څرګنده وي او د ارزونې په موخه یې د صحنې اړوند دلیل ولیکل شي .

## د کره کتنې پای

دغه ډول کره کتنه باید یوه پایله ولري او باید مطلوب څیز پکې ارزول شوی وي . په سرلیك کې همدغه پایله څرګنده، په آره برخه کې دك و دلیل پرې ویل شوی او د بېلګو په مټ روښانه شوې وي . ډېر لیکوال هڅه کوي چې د کره کتنې پای یو ځل بیا په هغو غونډلو ولیکي چې په پیل کې یې لیکلې وي، خو د ځای د کموالي له امله په دې ډول کره کتنه کې ترې ډډه کول ښه دي .

# ببلګيزه ليکښه (فيچر)

فيچر انګريزي ويی دی چې د بڼې، ځانګړتيا يا خاصيت مانا ورکوي . په ژورنالېزم کې هغه ليکښې ته وايي چې يو سکالو د بېلګو او مثالونو په مټ روښانوي . په دغه ډول ليکښه کې ځانګېزې او يا هم ډېرې پېچلې سکالووې د لنډو کيسو په څېر څرګندېږي . خو دا کېدون نه لري چې سرې يوه قاعده جوړه کړي چې بايد کومې ځانګېزې او پيچلې سکالووې په فيچر سره څرګندېږي . ځکه چې ډېر ې سکالووې د خبر په پرتله په يوه راپور کې ښه ترا څرګندېږي، خو ځېنې هغوی بيا په فيچر کې ډېرې په زړه پورې رانغښتل کېدای شي او د ځينو موضوعاتو لپاره بايد راپورتاژ وکارول شي . خو په هر اکر کې د مناسبې ليکښې امرل يوازېنۍ وسيله ده چې لوستونکي د يوې ليکنې لوست ته هڅولی شي .

کله-کله خبريال اړ شي چې ځينې پېچلې سکالووې په ژوره توګه وڅېړي، وسپړي او د سم او ښه ترا پوهاوي په موخه يې بېلګې راوړي . ځکه چې دوی په لنډ خبر يا راپور کې سمې نه شي څرګندېدلای . دغه سکالووې کېدای شي چې د يوه شي پر څرنګوالي راوڅرخي .
لکه :
احمد څنګه موټر جوړوي؟
د بزګرانو راتلونکي به څنګه وي؟

يا پر هغو پېښو چې په ټولنه کې يې دود و مود ډېر شوی وي . لکه :
ډېر خلك هڅه کوي چې بهر ملکونو ته ولاړ شي .
يا هم :
په لويديځ کې د افغانانو د طلاق ډېرښت او له نجونو سره د سپين ږيرو سړيو ودونه .

خبريال کولای شي چې د دغه دود او موډ بېلګې راوړي او ټول اړخونه، لاملونه او پايلې يې په يوه فيچري ليکبڼه کې راونغاړي .

که فيچر په نورو ويو وسپړل شي :
ټول هغه مالومات چې د ټولنيزو، سوداګريزو، کلتوري او تخنيکي سکالووې په باره کې وي، او څرګندول يې په راپور کې ګران او پېچلي وي ياهم لوستونکيو ته د سم پوهاوي وړ نه ګرځي، نو بايد فيچري ليکبڼه ورته وکارول شي . په دې ليکبڼه کې د يوه سکالو ځانګړتياوې په ژوره توګه څېړل کېږي او د څرګندو بېلګو په راوړلو سره بيانېږي .

فيچر په خپل جوړښت کې ډېرې ننداريزې برخې لري . د همدې نندارېځونو په کارولو سره سکالو نور هم روښانه کېږي او د سم پوهاوي وړ ګرځي . په فيچر کې ټوليزې پېښې د ځانګړو هغو په مرسته سپړل کېږي او په يوه په زړه پورې ژبه ليکل کېږي . کله-کله يې د مجلې له راپور سره توپير کم يا ورک شي . ځکه چې د جوړښت له پلوه دواړه يو ډول دي او دواړه بايد يو پېچلې سکالو روښانه کړي . په دواړو ليکبڼو کې بايد د صحنو تر منځ يوه اړيکه شتون ولري او بايد د اړتيا پر بنسټ پکې تر وسه ويناوې او شمېرې وکارول شي .

د مجلې راپور پر يوه تازه پېښه او د هغې پر شاليد او پايلو نظر اچوي، حال دا چې فيچر بيا پېچلې موضوعاګانې په بېلګو سره روښانوي . فيچر بايد هر سکالو د کړن، انځورونو، ويناوو او نندارېځونو (صحنو) له لارې روښانه او څرګند کړي . خو د مجلې راپور بيا يو سکالو په بېلګو سره نه څرګندوي .

د مثال په توګه :
که دولت ووايي چې سږ کال دوه زره افغانان له ملکه ووتل؛ نو که راپور ترې ولیکو :

• د ورځپاڼې په راپور کې به خبریال د مهاجرینو شمېر او د وزارت د کارمنو ویناوې راوړي .
• د مجلې په راپور کې به د ځینې مهاجرینو غږ، د مهاجرت لاملو او پایلې به یې وښوول شي .
• په راپورتاژ کې خبریال له یوې کورنۍ سره ځي چې دوی څنګه خپلې خېمې رنګوي او په بل وطن کې یې جوړوي .
• په فیچر کې به خبریال دغه ګډوالي لمړی په ژوره توګه وڅېړي او د ښه ترا پوهاوي لپاره به یې په مثالونو کې څرګندې کړي .

## د فیچر څېړنه

هر فیچر باید دوه ځلې وڅېړل شي . لمړی باید په خپله د سکالو یا د پېښې ځانګړتیاوې، لاملونه، پایلې او اغېزه وسپړل شي . له دې وروسته باید د سکالو اړوند مناسبې بېلګې پېدا شي چې دغه لاملونه، اغېزې او پایلې لا نورې هم روښانه کړي .

د څېړنې په پیل کې د هر لیکنې په څېر خبریال باید لمړی پوه وي چې دی څه غواړي او موخه یې څه ده . او باید د یوه سکالو پر څرنګوالي ځان پوه کړي . که یو خبریال پوه نه شي چې د کوم ځای څخه دېر خلك ولې، چېرته او څنګه ګډوالېږي، نو دی به هیڅکله مناسبې بېلګې راپیدا نه کړي او نه به هم پوه شي چې خپله لیکنه له کومه ځایه څنګه پیل کړي . د دې لپاره باید دی لمړی له هغو کسانو سره خبرې وکړي چې د ګډوالۍ په چارو کې پازوال دي .

وروسته له دې خبريال پوهېږي چې د سکالو اړوند مناسب مثالونه څنګه او چېرې پيدا کړي چې د پېښې يا سکالو ځانګړېتوب ښه ترا څرګند کړي .

ځينې خبريالان بيا په دې اند دي چې که د سکالو يا يوې پېښې په اړه ځانګيز مالومات لاسته راوړي، نو کولای شي چې د ريښتينو ببلګو پر ځای ناريښتيني يا خيالي مثالونه وکاروي . د دوی په اند لوستونکيو ته دا اړينه نه ده چې بايد هرو مرو د يو مثال پر ريښتينولۍ ټيکاو ولري، بلکې دا مهمه ده چې لوستونکيو ته سکالو روښانه شي . خو دا چې ژورنالېزم او ريښتينولي يو له بله نه شي جلا کېدای، نو دا اړينه ده چې بايد ببلګې هم پر ريښتينولۍ ټيکاو ولري . يوازې ريښتيني مثالونه يو سکالو روښانولای شي . ځکه چې څرګندوالی د يوې پېښې په رښتينولۍ کې دی .

## د فيچر ليکدود

لکه چې مخکې وويل شول، فيچري ليکښه پېچلې يا هم ځانګيزې سکالووې په ژور توګه څېړي او د کيسې په ډول يې په ببلګو کې څرګندوي، نو ځکه بايد ډير زور په آر سکالو واچول شي . د ځانګيزو مالومات د وړاندې کولو وروسته، بايد د سکالو مناسب ببلګې يوازې دغه ځانګيز او پيچلي مالومات نور هم څرګند کړي . ببلګې او انځورونه يوازې دا دنده لري چې لوستونکيو ته د موضوع پوهاوی اسانه او مالومات نور هم د غور وړ وګرځوي . نو يوازې هغه سپړنه چې د سکالو په څرګندولو کې رول لوبوي، د ليکلو وړتيا لري .

د فيچر په پيل کې وروسته له سرليك څخه پر سکالو په ځانګيزه توګه خبرې کېږي، سکالو لوستونکيو ته ورپېژندل کېږي، اړين اړخونه يې وړاندې

کېږي، او د فيچر په سرټکو کې چې کومې تېزې ته لمن وهل شوې وي، نور مالومات وړاندې کېږي .

## سرليك :

د فيچر په سرليك او لنډيز کې د سکالو تېزې ليکل کېږي او پيل يې په يوه صحنه وي . د فيچر تېزې د تلوسې سبب ګرځي . دغه تلوسه د فيچر په پيل کې نوره هم زياتېږي . لکه :

| |
|---|
| **بختور سپين ږيري افغانان**<br><br>په لويديځ کې ميشت افغانان چې زاړه يا شپېتو کلونو ته ورسېږي، د نوي واده تابيا کوي .<br>"د ژوند پر خوند اوس پوهېږم، ځکه چې اصلاً خو اوس ځوان يم ."<br>دغه ډول ويناوې ډول- ډول لاملونه لري : پر چا لويديځ چاپېريال ډېره اغېزه کړې وي، ځوك په ريښتيا ځوان پاتې وي او د پېغلو نجونو شوق اخېستي وي او له چا څخه يې زړه مېرمن تللې وي او يوازې ژوند نه شي کولای . |

## آر برخه

وروسته له پيل څخه د فیچر آر برخه لیکل کېږي . په دې برخه کې لوستونکیو ته کیسه داسې بیانېږي چې دوی سم پوه شي چې خبره څه ده . په دغه برخه کې باید دوه کاره وشي :
یو خوا باید د موضوع څرنګوالی بیان شي، او بلخوا باید د موضوع اړوند مثالونه ورکړل شي . کله چې د سکالو د څرنګوالي او یا هم د دود او موډ په باره کې مالومات وړاندې شي، باید د موضوع پر نورو اړخونو خبرې وشي . دواړه خواوې باید تشریح شي . مانا دا چې لږ مسلکي موضوع او بیا د مثال برخه . له مثال سره د موضوع بدلون د فیچر یوه ښه د پېژندنې نښه ده . هېره د نه وي چې د مثالونو شمېر په سکالو پورې اړه لري .

"د سوسیال د دوتر کارمنې کوشني ماشوم ته وکتل او په ناز یې ورته وویل .
"ښکلیه له بابا سره د راغلی یې؟ "
احمد پر برېتو لاس را تېر کړ، کارمنې ته یې وکتل او ورته موسك شو .
"دا زما لور ده ."
دا لمړی ځل نه دی چې احمد ته په دوترو کې دا خبره کېږي، بلکې ګاونډي یې هم ګومان کوي چې احمد د نیلاب بابا دی . دا خو لا پرېږدئ چې ډېر ځله احمد ته ویل شوي دي چې ګواکي رونا یې لور ده . رونا که څه هم چې شل کنله ده، خو داسې ښکاري لکه چې د پینځه لسو کالو وي ، حال دا چې احمد اته پینځوس کلن دی او له کابو څلورو کالو راهیسې یې له رونا سره واده کړی دی . خو لا تر اوسه هم ده ته ځان سپین ږیری نه ښکارېږي . یوازې هغه وخت زړتوب ته غاړه کېږدي چې څوك ورته ووایي چې نور کار نه شي کولای او باید چې د سوسیال مرستې وغواړي .

المان چې يوه خپلواکه ولسواکه ټولنه ده، شخصي آزادۍ ته ډېر ارزښت ورکوي . دلته له چا څخه پوښتنه نه کېږي چې ولې د مېرمن تر تا شل يا دېرش کاله ځوانه ده . خو د پوليسو او د خبري رسنيو له راپورونو څخه داسې ځرګندېږي چې ډېری دغه ځوانې نجونې چې له سپين ږيرو سره يې ودونه کړي دي، يا د نجلۍ د مور او پلار لخوا پلورل شوې دي او يا هم دوی په خپله له سپين ږيرو څخه ناوړه ګټه اخلي او واده کول المان ته د راتګ يوه ښه لاره ګڼي . ډيرې داسې پېښې شوې دي چې نجلۍ المان ته له راتګ وروسته له خپل سپين ږيري مېړه څخه په دې پلمه طلاق اخېستی دی چې ګواکي په افغانستان کې يې پېرلې ده او دلته ورسره بد چلند کوي .

ځينې افغانان بيا د لويديځ کلتور تر اغېزې لاندې راغلي وي . دوی دا بده ګڼي چې له يوې مېرمنې سره ټول ژوند پای ته ورسوي . له دې کسانو څخه چې کوم لږ شتمن شي او يا هم المانی پاسپورت تر لاسه کړي، مېرمنه يې طلاق کړي او د يوه نوي پېغلې نجلې په فکر شي . لکه سميع الـ . . . چې کله پاسپورت واخېست، لمړی يې دوکان جوړ کړ، بيا يې له مېرمن طلاق کړه او يو نيم کال وروسته يې له افغانستانه يوه دوه ويشت کلنه نجلۍ راوسته . دی شين شي وخاندي .
"ژوند خو هغه دی چې سړی خوښ وي، او زه اوس خوښ يم ."

خو داسې مېرمنې هم پيدا کېږي چې له خپلو مېړنو سره د افغاني دودونو سره سم ژوند نه کوي . لکه سيما چې ويښتان يې تك ژېړ رنګ کړي وي او سور يا تور چرمي پتلون يې اغوستی وي . سيما دومره نری يخن قاق اغوندي چې ان د تيو سرونه يې پکې ښکاري . له هرې خبرې سره ويښتان څټ ته وغورځي .
"دا خو څه افغانستان نه دی چې هر څه مېړه وايي، ښځه به يې ورسره مني! دلته حقوق مساوي دي!"

د سیما مېړه عبدالولي ډېر خفه دی چې ښځې یې طلاق ترې واخیست، خو ځان بختور ګڼي چې اوس یې بل واده کړی دی . د عبدالولي نوې مېرمن پینځه ویشت کلنه ده، حال دا چې له مشرې ښځې څخه یې کشره لور اته ویشت کلنه ده . له دې مېرمنې څخه یې حامد زوی پینځه کلن . ده ته تر دې بله ستره خوښي نشته چې زوی یې ورته رامنډه کړي او په غېږ کې یې ځان ورواچوي . عبدالولي یې په غېږ کې ټینګ ونیسي او څو ځلې یې مچې کړي .
"کله مې چې زوی په غېږ کې واخلم، نو فکر کوم چې ټوله دونیا زما ده .
لعنت د وي پر هغه کس چې د چا اولاد وژني ."
عبدالولي دري شپېته کلن دی . له مشرې مېرمنې څخه شپږ اولاده لري، خو دی اوس په دې ګومان دی چې هېڅکله یې ځان د پلار په توګه نه وو احساس کړی . اوس وایي :
"زه فکر کوم چې اصلاً خو اوس د اولاد وخت دی، که سړی ریښتیا هم غواړي چې له ماشومانو سره یې د پلار په توګه ښه وخت تېر شي . او زه مې له دې ماشوم سره نه یوازې ځوان شوم، بلکې بختور هم شوم ."

**وتون**

د وتون لپاره کېدای شي چې یو ښه مثال راوړل شي، یوه صحنه او یا هم یوه وینا ولیکل شي . کله-کله هم په وتون کې د سکالو د راتلونکي پر مختګ په باره کې یو لنډ نظر ورکول کېږي . په دې مانا چې په دودیزو موضوعاتو یا هم د "څرنګه" پر سکالووې یو کارپوه خبرې او راتلونکیو ستونزو ته نغوته کوي . خو ښه به دا وي چې د موضوع په پیل کې چې څه شی لیکل شوي وي، پر هغه یو ځل بیا خبرې وشي او یا هغه کس یا هم انځور یو ځل بیا وښوول شي . لکه :

لا تر اوسه پوره نه ده څرګنده شي ځومره ځوانو نجونو به له سپين ږيرو سره واده کړی وي، خو تاوتريخوالی يې د پوليسو د راپور له مخې په هر کال کې شل سلنه برخه ډېرېږي . خو دغه سپين ږيري به ځان ريښتيا هم بختور ګڼي چې ګواکي شل کلنې پېغلې ورته ناستې دي . همداسې به هغه زړې مېرمنې چې له مېړه څخه يې په خپله خوښه طلاق اخيستی دی، هم ځان بختور ګڼي چې اوس، د دوی په څرګندنه، آزادې دي او خپل حقوق يې لاسته راوړي دي . خو د دوی ماشومان بيا د تور بخت ښکار ګرځي . ډېر يې نه پوهېږي چې افغانان دي که المانان . دوی نه افغان دود سم پېژني او نه پوره المانان دي . دوی نه پوهېږي چې کوم دود ورته ګټور دی . له بده مرغه چې ډېرې کورنۍ همداسې ويجاړې شي او اولادونه يې پر هغه لار ولاړ شي چې په هره ټولنه، کلتور او دين کې بد مرغه ګڼل کېږي .

پاموړا دا ده چې نه يوازې د افغانانو دا حال دی، بلکې د ډېرو بهرنيانو هم .

## د فيچر ژبه

ډېر ليکوالان او خبريالان په دې اند دي چې په فيچر کې ليکوال د هر ډول ژبې د کارولو رښته لري . کېدای شي چې دا ژبه ډېره- ډېره عصري او هنري وي . خو پاموړ دا ده چې فيچر مسلکي او خورا پېچلي سکالووې سپړي، نو ځکه يې بايد ژبه د سکالو مناسب وي . غونډلې يې بايد څرګندې او انځوريزې وي . په فيچر کې د يوه مثال په راوړلو سره بايد ليکوال تر وسه په ټولنه کې د همدې ډول پېښو سلنه برخه هم څرګنده کړي .

# راپـورتـاژ

راپورتاژ د راپور په څېر له لاتین ویي "راپورترې" څخه اخېستل شوی دی چې د یو ځای راوړلو او یو ځای کښلو مانا ترې اخېستل کېږي . په ژورنالېزم کې هغې لیکنې ته وایي چې د کیسې په څېر وي او خبریال د خپلو سترګو لیدلی حال څرګند کړی وي . که څه هم چې راپورتاژ باید په هر اکر کې پر ریښتینولۍ ټیکاو ولري، خو خبریال یې د خپل شخصي جاج او برداشت پر بنسټ لیکي . په دې مانا چې خبریال یا لیکوال پېښې داسې سپړي لکه څنګه چې ده تجربه کړې او لکه څنګه یې چې جاج اخېستی دی .
د بېلګې په توګه :
یوه پېښه به ډېره د وهم او ډار وړ وي، خو کېدای شي چې خبریال دومره ترې اغېزمن نه شي . نو ځکه به دی پېښه دومره ژوره ونه سپړي لکه څنګه چې باید وسپړل شي . خو دا په دې مانا نه چې ګواکي د ده راپورتاژ غلط دی، بلکې په دې مانا چې خبریال پېښه د خپل شخصي لیدګوټ او جاج پر بنسټ سپړلې ده .

دا چې راپورتاژ له پېښې څخه د شخصي جاج او برداشت نکل دی، نو ډېر لیکوال او خبریالان په دې اند دي چې دا ښه شونې ده چې ډېر پر ریښتینولۍ ټیکاو ونه لري . او ریښتیا هم کله-کله خبریالان او خبري رسنۍ له خپله ځانه ریښتیا او دروغ ګډ کړي، خو یوازې هغه راپورتاژ سم ګڼل کېدای شي چې پر ریښتینولۍ ټیکاو ولري .

په راپورتاژ کې لیکوال د لیدوني (شاهد) په توګه د پېښې داسې نکل کوي لکه په همغه اکر کې چې پېښه ژوندۍ د لوستونکیو په مخ کې رامنځته

کېږي یا هم داسې چې دوی یې د لوست په وخت کې په خپلو سترګو ویني او احساس یې کړي . د بېلګې په توګه :

که په کور کوم بم پرېوتی وي، نو خبریال په بشپړه توګه لیکي چې دغه کور څنګه رنګ دی، د ننه څنګه ښکارېږي، د کور لرګي ، ور او کړکۍ څنګه مات او سوځېدلي دي . په دې ډول سپړنه سره خبریال د لوستونکیو لپاره یو ډول ننداریځ (صحنه) جوړوي .

## د راپورتاژ ډولونه

راپورتاژ په دوه ډوله دی :
د سیلاني نړۍ راپور او د هغې پېښې نکل چې خبریال په خپلو سترګو لیدلې وي .

الف – د سیلاني راپورتاژ موخه دا وه او ده چې لوستونکیو ته فزیکي واټن له منځه یوسي، لرې او پردۍ نړۍ او د دوی دودونه تر کېدون پورې د بې پرې سپړنې په مټ څرګند او رانږدې کړي . همدارنګه باید لوستونکیو ته د نورو د ژوند اړونه داسې وسپړل شي چې دوی یې په لوست سره احساس یا ښه تصور کړای شي .

ب – د هغه پېښې نکل چې خبریال په خپلو سترګو لیدلې وي، لوستونکیو ته دا موکه ورکوي چې د راپورتاژ په لوست سره پېښه په خپلو سترګو ویني یا ځان دپېښې برخوال احساس کړي .

د دې ډول راپورتاژ په لیکلو کې خبریال نه یوازې دا چې د یوې پېښې لیدونی دی، بلکې کله-کله د پېښې برخوال هم ګرځي . خو د ده موخه یوازې او یوازې باید څېړل،پیداکول، سپړل او د دوی خپرول وي . او دا هم په دې آړ چې د ورځنیو پېښو اړوند ،نوی، مالوماتي او خبري ارزښت ولري . په یوه راپورتاژ کې باید د پېښې ټول اړخونه انځور شي . په دې مانا چې څنګه پېښه شوه، تر وسه پورې په همغه ریښتینې بڼه څرګنده شي .

راپورتاژ نه خبر دی نه راپور چې خبریال یوازې په هغو حقیقتونو بسیا وکړي چې د خبر زړی جوړوي ، بلکې باید د یوې پېښې څخه د خپل برداشت یا جاج نکل وکړي، خو ریښتینولۍ ته ژمن وي . له همدې امله باید خبریال په پوره پام سره هر پېښه وڅاري . دی باید لوستونکی په خپله لیکنه داسې له ځان سره واخلي چې هر څه ویني، واوري او احساس یې کړي .

خبریال کولای شي چې پر هر سکالو راپورتاژ ولیکي خو باید په هر راپورتاژ کې یوازې یو سکالو وسپړي . او باید د هرې پېښې او سکالو هغه ډیرې په زړه پورې برخې رابرسېرنې کړي . یوه چاودنه، د یوې غریبې کورنۍ ژوند چې خپل اولادونه پلوري، د یوه دود نمانځل لکه اختر، نوی کال ان تر نیاوي پرېکړو پورې کېدای شي چې د راپورتاژ سکالو وګرځي . همداراز کېدای شي چې د یوه ځانګړي چاپېریال په اړه هم راپورتاژ ولیکل شي، لکه پر مخدره موادو د روږدیو کسانو ژوند . خبریال کولای شي چې د دوی د ژوند د پوهېدا په موخه له دوی سره یوه ورځ وګرځي .

د راپورتاژ پېژند او لیکل کوم ځانګړی او مالوم چوکاټ نه لري . همدا لامل دی چې ډېر خبریالان وایي چې راپورتاژ یوه په زړه پورې ژوندۍ کیسه ده چې لیکل یې پر هر لیکوال پورې اړه لري . خو بیا هم دوی ځینې لارښوونې

وړاندې کوې چې هغوی ته هم د قاعدې په سترګو نه ګوري، بلکې لاسته راغلې تجربې يې ګڼي . د بېلګې په توګه دوی وايي :
د راپورتاژ سکالو او تېزې دواړه د راپورتاژ په جوړښت کې رغنده رول لوبوي . سکالو او تېزې په سرليك او سرټکو کې څرګندېږي . له سرټکو وروسته سکالو ته ننوت په ننداريځ (صحنه) سره پيلېږي چې پکې د وخت، ځای او د پېښې د ښکېل کسانو پېژندهم کېږي . هر خبريال که هڅه وکړي چې څو تېزې په يوه راپورتاژ کې راټولې او څو پيغامه لوستونکيو ته وړاندې کړي، نو برى به نه شي . ځکه چې په دې اکر کې امرل (غوره) شوې صحنې نه شي کولای چې ټولې تېزې روښانه او زباد کړي او خپل پيغام لوستونکيو ته ورسوي . نو ځکه بايد هېڅ داسې صحنه په راپورتاژ کې ونه ليکل شي چې د راپورتاژ له سکالو سره تړاو ونه لري او تېزې يې څرګنده او زباد نه شي کړای . يو راپورتاژ کولای شي چې په خپله منځپانګه کې يوه مرکه يا انځورونه هم راونغاړي . ځينې راپورتاژونه کيدای شي چې ان يوازې له انځورونو څخه جوړ شي .

د راپورتاژ آره برخه د يوه ناول په څېر ده چې هر ننداريځ يې د راپورتاژ تېزې زبادوي . هر ليکوال بايد هڅه وکړي چې د هرې صحنې لپاره خپل ليدګوټ هم بدل کړي . ځانګيز (مسلکي) مالومات بايد په هر ننداريځ کې لږ-لږ د ويناوو او نکل په څېر وړاندې شي . که ځانګيز مالومات ډېر وي، نو ښايي چې په يوه ځانګړې ليندۍ (قوس) کې وليکل شي . له راپورتاژه د وتون په موخه بايد له پيل او ننوت سره يوه سوليزه (منطقي) اړيکه ونيول شي . ښه وتون د راپورتاژ تېزې او سکالو نور هم ځواکمنوي .

# د راپورتاژ ننداريځونه او ليکدود

په راپورتاژ کې د پېښې جاج په نندارېزونو يا صحنو کې رانغښتل کېږي . لېکوال بايد هڅه وکړي چې يوازې د سکالو مناسبې صحنې وامري او د دوی اغېزه نوره هم برسېرنه کړي . د صحنو امرل د راپورتاژ په تېزې پورې اړه لري . خبريال بايد تل هغه ننداريځونه (صحنې) وکاروي چې د راپورتاژ د سکالو او تېزې ځانګړتياوې ښه ترا څرګندولای، زبادولای او ځواکمنولای شي . خو د دې لپاره بايد خبريال تر هر څه وړاندې په خپله پېښه ښه وڅاري . لکه د يوه کور جوړښت، خونې، ګيلمونه، چوکۍ يا لکه د يوه سړي تکيه کلام او څرګندنې، کالي او . . .

که څه هم چې د صحنو د ليکلو لپاره داسې قالب يا چوکات شتون نه لري چې د هغه پر بنسټ د وليکل شي، خو بيا هم ادبيات د صحنو ليکلو لپاره لاندې څو لارښوونې وړاندې کوي :

- په هره صحنه کې بايد هغه د هېښيتا وړ برخه رابرسېرنه شي .
- ټوليز بايد په ځانګړي بدل شي .

په دې مانا چې که سړی ووايي چې پر سړك يو ګاډی روان دی، نو لوستونکی نه پوهېږي چې څنګه ګاډی دی . خو که وليکل شي چې د سړك پر سر يو عسکري رنګی جيب، يا سپين رنګی ميني بوس ولاړ دی، نو دلته ټوليز مفهوم په ځانګړي او خاص بدل شو چې د لا ښه پوهاوي سبب ګرځي .

- خبريال بايد هڅه وکړي چې تر کېدون پورې هر شی په خپل نامه ونوموي .

او هر کړن په کړواله غونډله يا فعلي جمله کې وليکي . ځکه چې د کړواله غونډلو پوهاوی اسانه دی او ډېرې روانې لوستل کېږي .

د بېلګې په توګه :
کورته له راتګه وروسته لمړی راته د ډوډۍ خوراك او د چاى څښناك غوره ښکاره شول .
ښه ښه يې :
کورته چې راغلم، دا مې غوره وګڼله چې لمړی ډوډۍ وخورم او چاى وڅښم .
دواړه غونډلې يو شان مانا لري، خو دويمه يې تر لمړۍ هغې ساده او روانه لوستل کېږي .

• بايد هڅه وشي چې د يوې پېښې جاج يا برداشت تر کېدون پورې څرګند او وسپړل شي . لوستونکی بايد په خپله د يوې پېښې د سپړنې پر بنسټ د هغې اغېزه احساس کړي .
د بېلګې په توګه :
شپه تپه تياره وه . زه ډېر–ډېر ډارېدم .

دا يو ټوليز ګونګ، کوڼ جاج، پيغام او سپړنه ده چې لوستونکي يې په لوست هېڅ وهم او ډار نه شي احساسولاى شي . خو که په لاندې ډول وسپړل شي :

تپه تياره وه . لاسونه مې اوږده نيولي ول چې له څه شي سره ټکر ونه کړم . هر پل به مې چې واخېست نو ډېر په کرار به مې بېرته اېښووه . لمړی به مې پښه لږ تکيه کړه او ځان به مې مطمئن کړ چې ځاى سم دى . تر غوږو مې رنګارنګ غږ ونه کېدل . کله به مې د لرګي وار تر غوږو شو، کله به مې زګېروی واورېد او کله د چا د بوټو ترپ . د سر وېښتان مې زېږه شول . . .
لوستونکي کولاى شي چې دا ډول سپړنه ښه تصور او احساس کړي . دى بايد په خپله دا قضاوت وکړي چې آيا په رښتيا سره د ډار او وهم ځاى وو که نه .

پرته له هغو راپورتاژونو څخه چې لیکوال پکې د پېښې برخوال او لوبغاړی وي، په نورو ټولو هغو کې تر هر شي ډېر د پېښې سپړل اړین دي نه د "زه" یا "زموږ" یا هم په ټولیزه توګه په هر ننداریځ کې د لیکوال شتون . په دې مانا چې په راپورتاژ کې په خپله لیکوال کوم ځای نه لري، بلکې پېښه . لکه چې مخکې هم وویل شول :
لوستونکي باید د راپورتاژ په مټ د پېښې برخوال وګرځي او هر اکر احساس کړي . دا کار هغه وخت شونی دی چې هره پېښه وسپړل شي او په خپله لیکوال ځان لرې ونیسي .

• ټولیزې صحنې چې مفهوم یې ټولیز وي باید په ځانګړیو او خاصو هغو بدلې شي .
لکه :
ټول کلیوال د احمد پر وژنه غمجن ول .
ښه ترا بڼه یې :
د احمد په مړینه ټول کلیوال غمجن ول، خو د ده زده کوونکیو، محمود، سپین ګل او انارګل ډېر ژړل .
• خبریال کولای شي چې ځېنې اړینې صحنې په بشپړه توګه وسپړي، خو ځینې یوازې لنډې ګنډې راونغاړي .
• د صحنو له بدلون سره باید منځپانګه هم بدله شي . په دې مانا :
هغه صحنې چې بیاني اوډون (ترتیب او جوړښت) لري په هغو صحنو بدلې شي چې اخباري جوړښت ولري . لکه د کوم ملك، خلکو او یا د دوی د ستونزو په اړه، د کوم نوي قانون تشرېح، د کوم کس وینا یا هم هغه مالومات چې په صحنه کې نه شي رانغښتل کېدای، باید په خبري شکل سره ولیکل شي . خو د دې لپاره چې د راپورتاژ نندارېز یا صحنیي جوړښت په دې ډول مالوماتو له منځه ولاړ نه شي، کیدای شي چې دغه مالومات په لیندیو کې

وليکل شي . که په يوه ليندۍ کې نه ځايېږي، کېدای شي چې له يوه ځانګړي پرګراف څخه ګټه واخېستل شي . خو دا چې بيا هم په دې ډول پرګراف سره د راپورتاژ د صحنو بهير غوڅېږي، ښايي چې منځني سرليکونه وکارول شي .

لکه مخکې چې هم وويل شول، په راپورتاژ کې صحنې بايد داسې وپېيل شي چې د راپورتاژ تېزې لا روښانه او موخه يې لا څرګنده شي، نو ځکه بايد يوه پېښه داسې ونه سپړل شي لکه څنګه چې منځته راغلې وي، بلکې داسې چې د راپورتاژ تېزې ښه ترا څرګنده کړي . په دې موخه ښايي چې د پېښې نکل له پايه يا آخره وشي . سربېره پر دې ځينې خبريالان په دې اند دي چې د يوې پېښې نکل کېدای شي په کرونولوژيك (نېټه ييز) ډول- لکه څنګه چې پېښه رامنځته شوې وي- وشي . په دې مانا چې لمړۍ صحنه په پيل کې او د پېښې آخر د راپورتاژ په آخر کې وليکل شي . لنډه دا چې که راپورتاژ ته د يوه انځور په توګه ومنل شي، نو هره صحنه بايد دغه انځور بشپړ کړي چې د سم پوهاوي وړ وګرځي .

## په راپورتاژ کې ادلون بدلون

د ټوليز برخليك بدلون پر ځانګړي او برعکس :
که چېرې خبريال د يوه يوازېنې مهاجر کس په باره کې مالومات ورکوي، نو ښايي چې دغه ځانګړی برخليك له هغه ټوليز برخليك سره پرتله کړي چې د سلهاوو زرو مهاجرو برخليك دی .

## په راپورتاژ کې د وخت بدلون

د ادبیاتو له نظره د یوې پېښې نکل هغه وخت لوستونکي ډېر اغېزمنوي چې په وسمهال کې ولیکل شي . خو د دې لپاره چې د پېښې د ځینو اړخونو د روښانولو لپاره پښوییز دوی (قاعده) هم په پام کې نیول شوی وي، نو ښایي چې د وسهمال تر څنګ بشپړ تېر مهال او لنډ تېرمحال هم وکارول شي . لنډتېر محال د پېښې بهیر سوکه کوي، خو وسمهال یې ګړندی کوي . او دغه د وخت بدلون هم د راپورتاژ اغیزه ډېرولای شي . دغه لارښوونه چې ګواکي پېښنه دې په وسهمال او لنډ تېرمهال کې ولیکل شي، کېدای شي په پښتو کې ډېره اغېزمنه نه وي، ځکه چې که لاندینی مثال په بشپړ تېرمهال کې ولیکل شي، په زړه پورې به وي، خو بیا هم خبریال کولای شي چې په خپله تصمیم ونیسي .

## د لیدګوټ بدلون

له هرې صحنې سره باید لیدګوټ هم بدل شي . لکه د دوو ځیزونو پرتله کول . د بېلګې په توګه د پرون او نن، د ظالم او مظلوم او همدرانګه د ریښتیا او دروغو .

# د راپورتاژ جوړښت

د راپورتاژ ليکلو لپاره د نورو ژورنالېستي ليکښو په څېرکوم ځانګړې دوې (قاعده) نشته لکه د لنډ خبر لپاره . ځکه چې راپورتاژ د هر ليکوال يا خبريال د ليك په خپل ځانګړي ليکلار پورې اړه لري . نو همدا لامل دی چې راپورتاژ کوم ځانګړی او ټاکلی جوړښت نه لري . خو ښه راپورتاژ هغه دی چې يوه پېښه په مناسبه بشپړه او څرګنده توګه وسپړي . سربېره پر دې د راپورتاژ ليکلو لپاره ځيني لارښوونې شتون لري چې له خبريال سره مرسته کولای شي . خو پاموړ دا ده چې :

| |
|---|
| هېڅ وخت نه شي کېدای چې ټولو لارښوونو ته دې په کړن کې هم پام وشي، خو بياهم د اړتيا په وخت کې بايد تر وسه وکارول شي . |

په هر راپورتاژ کې له سرليك او لنډيز وروسته، پيل، آر برخه او وتون راځي . سرليکونه د راپورتاژ تېزې او سکالو بيانوي . سرليکونه کېدای شي چې دوه غونډلې وي او دنده يې دا هم ده چې بايد هر لوستونکی د راپورتاژ لوست ته وهڅوي . همداراز کېدای شي چې له سرليك وروسته د راپورتاژ تېزې په يو څو لنډو کرښو کې راونغښتل شي . لکه په لاندې مثال کې سرليك او تېزې :

| |
|---|
| په ماربورګ روغتون کې ناروغان له درملنې څخه سر ټکوي (سرليك) .<br><br>د 2006 کال په آخر کې چې ماربورګ روغتون شخصي شو، 280 کارمن، له سر طبيب څخه نيولې تر پاکوونکيو پورې له کاره واېستل شول . پايلې يې خورا څرګندې او ناوړه دي :<br>کارمن په خپل کار کې پاتې راغلي دي او خپله دنده داسې سرته نه شي رسولای لکه د روغتون تر شخصي کېدو وړاندې . (تېزې) |

خبريال کولای شي (ښايي) هڅه وکړي چې د راپورتاژ پيل په يوه زړه راکښونکي غونډله سره وليکي . خو دا چې راپورتاژ تل له صحنو څخه جوړ شوی وي، نو ښايي چې پيل يې هم په يوه صحنه وشي . همدا لمړۍ صحنه بايد لوستونکی په پېښه کې رهنمايي کړي . په همدې لمړۍ صحنه کې بايد هڅه وشي چې د وخت، ځای او ښکېل کسانو په باره کې مالومات ورکړل شي . ډېر خبريالان په دې اند دي چې همداسې يوه مناسبه او ښکلي صحنه بايد دوه برخې شي . لمړۍ برخه يې د راپورتاژ په پيل کې او دويمه هغه يې په پای کې وليکل شي . په دې سره راپورتاژ بشپړ ښکارېږي او لوستونکيو ته د نکل پيل ور پر زړه کوي . لکه :

| |
|---|
| کترين يويشت کلنه ده . په ونه لوړه، خو ډېره نرۍ او ډنګره ده . تر سترګو لاندې يې تورې غټې کړۍ لوېدلې دي . داسې ښکارې لکه چې په خپله ناروغه وي، خو دا په ماربورګ روغتون کې نرسه يا روغتياپاله ده . په دهليز کې په منډه سره څوارلسمې نمره کوټې ته ځي او مېرمن سيمين ته د عمليات کالي نيسي .<br>"کولای شئ چې لږ ژر کالي بدل کړئ؟"<br>مېرمن سيمين د وره په خوله کې ولاړه ده . تکه ژېړه اوښتې ده . په ټول ځان داسې رېږدي لکه د مني پاڼه . ښی لاس يې په غاړه کې پروت دی . کترين ته په تريو تندي ګوري .<br>"زه نه يم ناوخته، بلکې تاسې!"<br>له کترين څخه مخ اړوي او کوټې ته ننوځي . کترين هيڅ نه ورته ګوري، خو په سيمين پسې ننوځي . |

د راپورتاژ د آرې برخې لپاره هم کوم ځانګړی او ټاکلی جوړښت شتون نه لري . خو ډېر ليکوال يوازې هغو نندارېځونو ته ځای ورکوي چې د راپورتاژ

تېزې ښه ترا څرګندوي . باید ډېره هڅه وشي چې د صحنو په لیکلو سره د راپورتاژ ټول اړخونه روښانه شي . لکه :

سیمین تېره اوونۍ موټر ټکر کړی دی او ښی لاس یې مات دی . د دې په وینا په ټول ژوند کې یې نن لمړی ورځ ده چې روغتون ته راځي او ښی لاس به یې عملیاتېږي .

له یوې لنډې شېبې وروسته سیمین پر کټ کښېني او کترین یې عملیات خونې ته وړي . کټ یې لا د عملیات خونې په وره کې دی، چې په دهلیز کې ډاکتر رالف را څرګندېږي . داسې ستمېږي لکه ښه چې ستړی وي . کترین ته مخامخ درېږي .
"کترین کټ همدلته پرېږده . ډاکتر به یې په خپله د ننه کړي . شپاړسمې کوټې ته ولاړه شه چې څه شور ما شور دی ."
کترین شپاړسمې کوټې ته منډه اخلي . ناروغانو ته ګولۍ ورکوي . پتنوس او پیالې ټولوي او روجایي ګانې بدلوي . د کوټې په کونج ابرینه ناسته ده چې د دې په وینا اویا کلنه ده . کترین ته یې ګونځې تندی نیولی دی . او په روسي ژبه ښکنځا ورته کوي .
"بې کاره غوا!"
بیا په کترین ورچیغه کوي .
"الماني خو پوهېږې؟ ژر راسره مرسته وکړه . حمام ته ځم ."
کترین سر یوې او بلې خواته خوځوي . یو سوړ اوسېلی وباسي . ابرینه تر لاس نیسي او حمام ته یې بیايي . هلته په ځان مینځلو کې ورسره مرسته کوي .
یوه شېبه وروسته کترین د باندې راوځي . لا د ابرینې وېښتان وروچوي چې د روغتون عمومي ډاکتر محمد سلیم رانځوي . په خونه کې شاوخوا داسې وارخطا ګوري لکه ډېر اړین شی یې چې ورک کړي وي او اوس یې لټوي .

"کترين د ناروغانو د وينې فشار مو کتلئ؟ او هيله کوم ژر تر ژر د مېرمن شتراسبورګر د پښې بنداژ وربدل کړئ . هېر مو نه شي چې هر کار کوئ، بايد چې يادښت يې ونيسي ."
له کترين څخه دا غوښتنې داسې ژر–ژر کوي چې ځواب ته يې هېڅ تم کېږي نه . کترين چې هم د اپرينې سر وروچوي او هم ډاکتر ته ګوري، ځواب ورکوي .
"اوس به يې وکړم ."
لا تر اوسه يوه ګړۍ نه ده وتلې چې کترين ته له عمليات خونې څخه زنګ راځي چې بايد مېرمن سيمين بېرته راولي . کترين په دهليز کې منډه اخلي او له مکس سره ټکر کوي . مکس يې ګوته عمليات کړې ده . له ټکر سره سمه کريغه کوي .
"دا څه حال دی دلته؟ ما خو له ډاکتره ګيله درلوده . دلته ټول لېوني دي ."
مکس خپلې خور ته ګيلې پيل کړي دي .
د مکس په وينا څلور اونۍ وړاندې يې له چا سره په جګړه کې ګوته ماته شوې ده . همدلته يې عمليات کړې ده . نن يې ډاکتر له ګوتو څخه سيمونه اېستل . عمليات کابو دوه ګړۍ وخت نيولی دی . خو آخر يو بل ډاکتر راغلی او دی يې له دغې درد څخه خلاص کړی دی .
مکس د سر په خوځولو خپلې خور ته وايي :
"ډاکتر داسې نه ښکارېده لکه ريښتيا چې ډاکتر وي . زه فکر کوم چې کوم زده کړيال به وو . هېڅ په کار نه پوهېده او يا يې له ما سره ناغېړي وکړه ."

په راپورتاژ کې د وتون په موخه باید د راپورتاژ پیل په پام کې ونیول شي . لکه چې مخکې وویل شول که چېرې د پیل صحنه، کس، یا کومه وینا یو ځل بیا ولیکل شي، نو لوستونکیو ته به د راپورتاژ پیل، موخه او ټول سکالو یو ځل بیا وریرزره کړي . خو دا ډول صحنه بیا د هغو راپورتاژونو لپاره نه کاورل کېږي چې پکې د پېښې بهیر په نېټه ییز ډول سپړل شوی وي .

کترین د عملیات کوټې ته ځان رسوي . هلته له نرسې څخه د مېرمن سیمین کټ اخلي . سیمین ته هك پك ګوري .
"څنګه وو، عملیات ښه تېر شو؟"
سیمین ډېره ستړې ښکاري . سترګې یې خوبولې او تکې سرې دي . لا تر اوسه یې لاس نه شي خوځولی . ځکه چې بې هوښه دی .
"داسې ډارېدم لکه مرګ ته مې چې بیایي . بې هوښه یې کړم، د مرګ پر کټ یې واچولم . خو عملیات یې نه کړم ."

د سیمین لګښت د سوسیال اداره پر غاړه نه اخلي . خو دا چې ولې د روغتون دفتر په دې اړه له عملیاته مخکې یا هم نن سهار فکر ونه کړ، د عملیات ډاکتر څه نه شي ویلای . ډاکتر وایي چې دی یوازې هغه څه کوي چې امر ورته وشي . خو یوه خبره روښانه ده :
مخکې د روغتون په دوتر کې دوو کسانو هر ورځ اته ساعته کار کاوه، خو وروسته د روغتون له شخصي کېدو څخه یو نفر شپږ ساعته کار کوي . همداراز به مخکې په دې بخش کې درې نرسانې وې، خو اوس یوازې کترین ده .

کترین د مېرمن سیمین مخ په یخو اوبور ورمینځي . د عملیات کالي ترې اخلي . خپل کالي یې ببرته ورکوي او د پینځه لسم نمره کوټې خواته ورځغلي . په منډه کې یو ځل مخ را اړوي او وایي :

"زه هر ه ورځ ان د شلو ناروغانو پالنه کوم . خو مخکې به د همدومره ناروغانو پالنه درې نرسانو کوله ."

په وتون کې کله-کله خبریال دې ته اړ شي چې د راپورتاژ د تېزې په موخه د راپورتاژ پیل له پامه وغورځوي . خو چې هر ډول وي، هڅه د وشي چې له سکالو سره مناسب وتون ولیکل شي .

# پارترۍ یا انځور

پارترۍ چې په پښتو کې انځور هم ورته ویل کېدای شي، یو فرانسي ویی دی چې د یوه شي یا یوه شخص انځور او مجسمې ته وایي . خو په ژورنالېزم او ادبیاتو کې هغه څېړنیزې لیکنې ته وایي چې د یوه کس د ځانګړتیاوو، اندو واند، شخصیت او آر څېرې په باره کې وي . یا هم پارترۍ د یوه کس د ژوند هغې برخې انځوروي یا یې په باره کې مالومات ورکوي چې خورا د هېښتیا وړ وي . لکه ځینې کسان چې په خپل ژوند کې یې داسې کارونه کړي وي یا یې لاکوي چې د ده پېژند خلکو ته په زړه پورې او کله- کله هم اړین شي .

خبریال کولای شي چې هر څوك انځور کړي، خو په ژورنالېزم کې باید هغه څوك انځور شي چې د ده تازه او نویو کړو وړو پر چاپېریال، ټولنه یا په ټولیزه توګه پر یوه اړین ټولنیز ډګر داسې اغېزه کړې وي چې خبري ارزښت ولري . خبریال کولای شي چې ستر پوهان، سوداګر، سیاستوال، لوبغاړي او سندرغاړي انځور کړي . همداسې کېدای شي چې ګوندونه، لوی- لوی سوداګریز او مرستندوی بنسټونه، ادبي او هنري ټولنې هم د خپلو ځانګړتیاوو پر بنسټ انځور شي . د یوه کس سخت ژوند، ډېرې ننګونې، د یوې لویې فابریکې ماته او بریا، د یوه سیاستوال ماته او بریا، صداقت او چلونه ټول د یوه انځور د لیکلو سبب ګرځېدای شي .

په انځور کې کېدای شي له نورو ژورنالېستي لیکنو څخه هم ګټه واخېستل شي . د بېلګې په توګه که خبریال له انځورېدونې کس سره څو ورځې د ده د ځانګړتیاوو او شخصیت د پوهاوي په موخه یو ځای وګرځي، نو کېدای شي چې له دغې لیکنې څخه راپورتاژ هم جوړ شي . خو دا په خبریال او لیکوال پورې اړه لري چې دی خپله موخه په کومه لیکښه کې څرګندول غواړي .

د یادونې وړ ده چې انځور د راپورتاژ په څېر لیکبڼه نه ده چې آره موخه یې لوستونکیو ته د برخوالیتوب موکه وروکول وي . همدارنګه له فیچر سره په دې توپیربېدای شي چې په فیچر کې ځانګیز مالومات په ژوره توګه څېړل کېږي او په بېلګو او مثالونو کې وړاندې کېږي، حال دا چې په پارترې یا انځور کې موخه د یوه کس د ښکارنده او آرې څېرې او د ده د ځانګړتیاوو او د شخصیت په باره کې مالومات ورکول دي .

د یوه چا انځورول خورا ګران کار دی . یوخوا ډېر کسان خپله آره څېره پټوي او هڅه کوي چې خبري رسنۍ د ځان په ګټه وکاروي . بلخوا بیا ډېر کسان نه خوښوي چې په خبري رسنیو کې د ده د کورني ژوند ، شخصیت یا رازونو او یا هم آر څېرې په اړه مالومات خپاره شي . په ځانګړې توګه به په افغانستان کې ډېر کم خلك خبریال ته دا موکه ورکړي چې د ده پر کورني ژوند پوه یا هم په دې اړه مالومات خپاره کړي .

د شخصي ژوند له مالوماتو پرته ژورنالېستي انځور نیمګړی دی . ځکه چې د هر چا په شخصي او رسمي ژوند او څېره کې یو لوی توپیر شتون لري . او د هر کس د ژوند یوه د راز برخه، شخصیت او آر څېره د هغه په شخصي ژوند کې نغښتې وي . اوسېدل، کار او شوقي یا شخصي بوختیاوې هغه څه دي چې د یوه سړي شخصیت ډېر روښانوي .

خو سربېره پر دې خبریال کولای شي چې یو کس په ډېره ښه توګه انځور کړي . دې موخې ته د رسېدا یوازېنۍ لاره څېړنه ده . خبریال کولای شي چې په څېړنه د موخیز کس په باره کې هغه مالومات راټول کړي چې پر ریښتینولۍ ټیکاو ولري او د ده ریښتینې ځانګړتیاوې، اصلي څېره او شخصیت مالوم کړي .

یوازې د مخینې (سوابق او صوانع)په لیکلو سره یو شخص نه شي انځورېدای . خبریال باید موخیز کس له خپلو ټولو ځواکمنو او کمزورو ټکو سره لوستونکیو ته وړاندې کړي . دی باید موخیز کس وڅاري او د ده ځانګړتیاوې وپېژني او د ده شخصیت، کړه وړه او احساسات خلکو ته تفسیر کړي .

مخکې له انځورولو څخه خبریال باید مطلوب کس ته خپله موخه روښانه کړي او د ده پر مخینه ځان ښه پوه کړي . له ده سره د کتنې په وخت کې باید خبریال خپلو کالیو ته ځانګړې پاملرنه وکړي . په دې مانا چې د یوه دیني عالم سره د کتو په موخه یو ډول کالي واغوندي او د یوه هنرمند لپاره بل ډول . همداراز باید خپل چلند له د موخیز کس له طبعیت سره برابر کړي . په دې سره خبریال موخیز کس ته یو ښه احساس ورکوي او دی دې ته هڅوي چې د خپل ژوند او ځینو شخصي پېښو نکل وکړي او ځینو سختو پوښتنو ته ځواب ووایي .

## خلك او د خبریال غبرګون :

څرك او ویښیار کسان د ځان په باره کې داسې کیسې وایي چې هر سړی به ورته هك حیران شي . خبریال باید هڅه وکړي چې یا خو د خبرو سکالو بدل کړي او یا د ده د کیسو اړوند داسې ژورې پوښتنې وکړي چې ریښتیا او دروغ مالوم شي .

ډېر کسان شتون لري چې تل د مرستې تمه لري، خو مرسته په هغو کارونو کې ښه ده چې کړن یې د خبریال په وس پوره وي . پاموړ دا ده چې ځینې کسان شتون لري چې که څوك یې پر اوزار او سامان لاس ووهي، ډېر ژر په

غوصه کېږي . له داسې کسانو سره بايد خبريال د دوی د سامان صفت وکړي . خبريال بايد په ډېر درننښت خپل ليده کاته پای ته ورسوي او داسې څه ونه کړي چې د انځورېدوني کس د شك يا بې احترامۍ سبب وګرځي .

دا چې په کتنه کې هېڅ وخت ټيپ او يادښت نه کارول کېږي، نو بايد هڅه وشي چې د موخيز کس هره خبره واورېدل شي او پر مطلب يې ځان پوه کړل شي . خبريال بايد د خبرو په وخت کې د موخيز کس هر خوځښت ته پام وکړي چې څنګه ځان خوځوي، کله چې په سوډ کې ډوب شي، څنګه کښېني .

ځينې کسان د خبرو په وخت کې ډېر سم سيخ ولاړ وي، په خورا لوړ او موزون غږ خبرې کوي چې د ډېر پر ځان مطمئن کس نښه ده . که چېرته کوم کس خپلې اوږې ټيټې اچولې وي، سر يې ټيټ نيولی وي، کېدای شي چې تر تاثير لاندې راغلی وي . اويا په ځان، کاليو او يا هم کور شرمېږي . که څوك د خبرو په وخت کې ژر- ژر خپل سر ته لاس وروړي او يا هم مخ يا غاړه ګروي، کېدای شي چې دروغ ووايي .

ځينې کسان د خبرو په وخت کې شکمن ښکاري او له خبرو سره مينه او لېوالتيا نه ښيي . په دې اکر کې بايد خبريال د ده باور تر لاسه کړي . خبريال کولای شي چې له دوی سره د يوه بل سکالو په اړه چې ګرد سره د دوی له شخصي ژوند سره تړاو ونه لري، خبرې وکړي . خبريال بايد ځان د دوی په څېر عاجز او سنګين ونيسي . ځکه چې يو ښه انځور هغه وخت ليکل کېدای شي چې خبريال يوه د باور ډکه مرکه او ليده کاته وکړي .

که کوم څوك اړوپېچ خبرې کوي، نو خبريال ته ښايي چې د خبرو اړوپېچ برخو ته يې ګوته ونيسي . همدارنګه کېدای شي چې انځورېدونی کس د بېلګې په توګه ادبيات لوستي وي، خو کار په بله برخه کې کوي، يا يې داسې کارونو

ته لاس بډ وهلي وي چې د ده له زده کړې سره برابر نه وي، نو ښايي چې ورڅخه پوښتنه وشي چې ولې .

ځينې کسان د خبرو په وخت کې يو دم غلي شي . په دې اکر کې خبريال ته لاژمه ده چې همدا چوپتيا وساتي . ځکه چې ډېر وخت د چوپتيا او سوچ څخه وروسته هر انسان د يوه پېښې، يوه راز او يا هم د نويو څيزونو په باره کې خبرې کوي . خو داسې نه چې دواړه په ګړيو–ګړيو چوپ وي . که څه هم چې د يوه سړي په راز پوهېدل اسانه کار نه دی، خو خبريال کولای شي چې لمړی د ځان په باره کې ده ته څه مالومات ورکړي . په دې سره دی هڅول کېدای شي چې د خپلو رازونو په باره کې هم خبرې وکړي .

## خبريالان

ځينې خبريالان د مرکې په وخت کې د انځورېدوني کس هره خبره غوڅوي، د يوه شي په اړه يې څو څو واري پوښتي او خورا ترخې پوښتنې کوي . که موخيز کس کوم عام کس وي، کېدای شي چې له خپل انځور څخه ډډه وکړي . خو سياستوال، لوی سوداګر او پېژندل شوې څېرې له انځور څخه هېڅ وخت ډډه نه کوي، ځکه چې دوی تل غواړي چې په اړه يې خلکو ته تبليغ وشي . خو بيا هم، سپين سترګي بايد په چوکاټ کې وي . د موزونې سپين سترګی ګټه دا ده چې انځورېدونی کس دې ته اړ باسي چې خپله آره څېره وښيي . په منفي رويه هم کېدای شي چې يو کس وپېژندل شي .

ځينې خبريالان بيا د انځورېدوني کس هرې خبرې او کړو وړو ته د منښت او درناوي سر خوځوي . دا ښه کار دی، خو خبريال ته ښايي چې خبرې يې غوڅې کړي او خپلې مخې ته يې پرې نږدي .

که کوم خبریال مشله یا ټوکي وي، نه ښایي چې هره پوښتنه یې په ټوکه وي .
که څه هم چې ټوکه کېدای شي د یوه ښه مجلس سبب وګرځي، خو له هر چا
سره ټوکې کېدون نه لري . خبریال کولای شي چې په خپل ځای ټوکې وکړي،
خو په دې آړ چې زده یې وي .

د انځورېدوني کس په باره کې وار له وړاندې منفي قضاوت ښه کار نه دی .
او نه هم خبریال په دې سره کولای شي چې د چا آره څېره پیدا کړي . د مثال
په توګه :
ډېرو خلکو به ویلې وي چې احمد یا محمود ډېر توند خویه دی . خو په دې
اکر کې خبریال ته نه ښایي چې په ریښتیا هم په خپله لیکنه کې احمد یا
محمود ته وار له وړاندې د تونډوتریخ نوم ورکړي .

خبریال باید له موخیز کس سره په دې لنډو شېبو کې د خپلې لیکنې په موخه
ملګری شي . په همدې توګه انځورېدونی کس هم د ځان د تبلیغ لپاره غواړي
چې له خبریال سره ښې اړیکې ولري . که څه هم چې دواړه پوهېږي چې دغه
ملګري څانګیزه او کابو لنډه ده .
د دې لپاره چې د خبریال وخت بې ځایه نه وي لګېدلی، ښه به دا وي چې له
موخیز کس سره مخکې خبره سپینه کړي چې د څه شي په باره کې پوښتنې او
ځوابونه اړین دي او په کومه کچه دی تیار دی چې د خبریال پوښتنې ځواب
کړي . که څوك ځینې پوښتنې نه شي ځوابولای یا نه غواړي چې ځواب یې
کړي، نو خبریال ته ښایي چې له ده څخه یې دك و دلیل وپوښتي .

د مرکې په وخت کې باید خبریال هڅه وکړي چې له موخیز کس سره لمړی د
هغو نویو او تازه مالوماتو او کړو وړو په باره کې خبرې وکړي چی اغېز یې
تازه دی .

کله چې مرکه او لیده کاته پای ته ورسیږي، خبریال باید ژر تر ژره خپله تجربه او جاج ولیکي . دی باید هغه څه ولیکي چې د انځورېدونې کس له شخصیت سره اړیکي ولري او د ده د ځانګړتیاوو او آرې څېرې استازیتوب وکړای شي .

ځینې څیزونه چې خبریال باید په پام کې ولري، په لاندې توګه دي :

خبریال باید هغو څیزونو او کسانو ته ډېر پام وکړي چې انځورېدونی کس ورسره د ماتوالي یا شوق پر بنسټ اړیکي لري . همداراز یې ویناوو او لیکنو ته . ځکه چې دا د ده د شخصیت او ځانګړتیاوې څرګندوي . خو خبریال باید هېڅ وخت له خپلې ګېډې څخه د ده د اندواند په باره کې څه ونه لیکي .
د بېلګې په توګه :
سپین ګل د خبرو په وخت کې په دې سوچ کې وو چې نن به یې په دوکان کې لږ سودا شوي وي که ډېره .

خبریال کولای شي چې د انځورېدوني کس یوازې یوه یا دوه ټوکې په خپله لیکنه کې هم راونغاړي، خو په دې آړ چې د ده د ځانګړتیاوو او شخصیت څرګندویي وکړي . بې ځایه ټوکې په انځور کې ځای نه لري .

ډېر کسان شتون لري چې یا ښځینه یا ډېر مردانه وي . په دې مانا چې ډېر نارینه د ښځې په څېر نری غږ لري یا ښځینه خبرې کوي . ځینې ښځې ډېرې غټې وي . غږ یې نارینه وي یا د نارینه په څېر تګ کوي او یا هم د نارینه په څېر زړورې وي . په دې اکر کې خبریال باید ونه لیکي چې :
سپین ګل ډېر زنانه دی یا زنانه کارونه کوي، بلکې سپین ګل ډېر وړوکې پښې او لاسونه لري، غږ یې ډېر نری دی . . .
دلته لوستونکی په خپله پوهیږي چې سپین ګل څنګه کس دی .

په انځور کې خبریال یوازې یو شی سپړي، خو قضاوت خلکو ته سپاري . نو داسې څه باید ونه لیکل شي لکه :
سپین ګل داسې یو سړی دی چې د سړي هره شېبه قهر ورته راځي .

خبریال باید په خپله لیکنه کې د انځورېدوني کس ژوند، پېژند، ښه او ناوړه کار څرګند کړي یا هم ووايي چې ده ولې داسې د هېښتیا او حیرانتیا وړ کارونه کړي دي . خبریال باید د ده دغه راز او ځانګړیتوب پیدا کړي او ټول ژوند یې د دې پر پر بنسټ په یوه تېزې کې راونغاړي . همدغه دلیل یا راز دی چې دی یې دومره مشهور یا منلی کړی دی او له همدې کبله دی لوستونکیو ته د لېوالتیا وړ ګرځېدلی دی .

## د انځور جوړښت :

• د انځورېدوني کس ځانګړیتوب، موخې، ماته، بریا او . . . باید په یوه تېزې کې راټول شي .
• د پارترې په پیل کې انځورېدونی کس باید په یوه صحنه کې راڅرګند شي . همداراز باید وویل شي چې څه شي او کومو پېښو د ده ژوند دې اکر ته رارسولی دی .
• انځورېدونی کس باید په پوره نوم او تخلص سره ویادول شي .
• د انځور ژبه باید ډېره ساده وي . خو خبریال کولای شي چې خپله لیکنه په خوږه یا ترخه ژبه یا هم د ټوکو ټکالو په څېر ولیکي، خو په دې آړ چې د چا سپکاوی ونه شي .
• خبریال باید داسې څه ونه لیکي لکه :
سپین ګل یو داسې سړی دی چې د ګرځند ټېلېفون کارول یې نه دي زده، خو شرمېږي هم نه .

• خبریال اجازه نه لري چې په خپله لیکنه کې د اخلاقو ښوونه وکړي . لکه : سپین ګل باید تل خپل درمل په یخ کې ځای کې وساتي . ځکه چې په ګرمۍ کې خرابېږي . او د خرابو درملو پلور خو نه یوازې په اسلام کې بند دی، بلکې په هر دین کې .

• د انځور په لیکلو کې خبریال باید پوه وي چې د کوم کس لخوا یې وسپړي . دی کولای شي چې د څېړنې په وخت کې خپل لیدګوټ ته تغیر ورکړي . کله په پېښنه کې ښکېل یا برخوال وي او کله یوازې څارونکی او لیدونی وي لکه سړې چې د کمرې په مټ یوه پېښنه ثبتوي .

تر ټولو ښه ترا همدا د بهرني لیدلوري یا کمرې لاره ده . لکه څنګه چې کمرې هر څه ثبت کړي وي، خبریال یې همداسې سپړي . همدغه په بې پرې توګه سپړل لوستونکیو ته په ښه ترا توګه د انځورېدونې کس آر څېره او ځانګړتیاوې وړاندې کولای شي . د مثال په توګه :
سپین ګل په دوهم منزل کې ژوند کوي . په لمړ منزل کې نور مهاجرین چې ډېری یې د کوساوو دي، اوسېږي . د سپین ګل د خونې له کړکۍ څخه بل هېڅ شی نه ښکاري . یوازې یوه غتهه ونه چې نه یوازې یې د لمرینو وړانکو، بلکې د سپوږمکۍ د څپو مخنیوی هم کړی دی . . .

خبریال کولای شي چې دوه کسان یو ځای انځور کړي، خو په دې آړ چې دواړه به یو له بل سره نږدې اړیکي لري، لکه دوه غبرګوني . همداسې کېدای شي چې د څو کسانو یو ګروپ یا ګوند هم انځور شي . په دې اکر کې خبریال باید د غړو ښکاره او هغه د پردې شاته اړیکي وسپړي .

• ډېر لیکوال او خبریالان په دې اند دي چې باید ډېر نږدې ملګري یا خپلوان انځور نه شي، ځکه چې خبریال نه شي کولای چې بې پرې پاتې شي .

● د انځورېدوني کس په باره کې انګازې باید پرته له څېړنې ونه منل شي .

د هر چا په ژوند کې موخې، کړن، ماتې او بریا د ده پر آره څېره، شخصیت او ځانګړتیاوو رڼا اچوي .
خبریال ته ښایي چې په انځور کې لاندې پوښتنیې تر کېدون پورې ځواب کړي :

● دې سړي څه غوښتل ؟
آیا ده غوښتل چې تر ټولو ځواکمن، شتمن، مشهور او منلی کس وي؟
● د انځورېدوني کس ځانګړیتوب څه شی دی؟
آیا دی ډېر سرزوره، نرم، خوږ، ریاکاره او که تریخ سړی دی؟
● آیا ده کوم ځلې خپله کمزوري او ماته هم ښوولې ده؟
آیا ده په یوه ډېر تنګ او اړین وخت کې په خپله دنده کې ناغېړي کړې ده که نه؟
● آیا د ده بریا د یوه ځانګړي مفهوم پر بنسټ ده؟
آیا دی ډېر ښه پلان کاره دی، ډېر خوله ور دی، قناعت ورکوونکې خبرې کوي، د نظر خاوند سړی دی، که یو ناکامه سړی دی؟

د یوه ټولي، ګوند یا هم فابریکې د انځورولو په موخه باید خبریال د تېزې لپاره د فابریکې یا ګوند د بریا، تصمیم او یا د تولیداتو بهیر څرګند کړي . ګټه یې ډېره ده که تاوان، په دفتر کې یې څه حال دی، تبلیغات یې څنګه دي، څوك تصمیم نیسي، کړنلار یې څه ده؟ د یوه بنسټ یا ګوند تېزې د هغوی جوړښت، شتون، پېښلیك ، بریا او د تصمیم هر پړاو جوړوي .

# د پارترې يا انځور ډولونه

انځور په دوه ډوله دی :

## ستندرد يا لنډ انځور

دغه ډول انځور په ډېرو ورځپاڼو کې هر ورځ د انځورېدوني کس له يوه واړه عکس سره يو ځای خپرېږي . دا ډول انځور تل د هغه کس په باره کې وي چې په همدې شپو او ورځو کې پاموړ ګرځېدلی وي . اوږدوالی يې له شلو څخه تر اتياوو کربنو وي . له آره خو د هر انځور لپاره بايد له موخيز کس سره وکتل شي، خو ډېر وخت د ستندرد يا لنډ انځور لپاره خبريالان کتنه او مرکه دومره اړينه نه ګڼي .

په لنډ انځور کې بايد ليکوال آر سکالو ته ژر د تېزې په مټ ننوزي . ښه تېزې هغه ده چې ان په سرليك کې څه ناڅه څرګنده شي او په لنډيز کې لږ وسپړل شي .

کله کله هم ليکوال هڅه کوي چې يو انځور د انځورېدوني کس په يوه وينا پيل کړي . خو بدوالی يې دا دی چې کېدای شي دغه وينا د تېزې سره په ټکر کې راشي . وروسته له تېزې خبريال کولای شي چې د انځورېدوني کس په باره کې ژر مالومات وړاندې کړي، بې له دې چې د ده نوم ياد کړي . خو وروسته له څو کربنو بايد د انځورېدوني کس نوم وليکل شي، کنه د لوستونکيو د زړه تنګوالي سبب ګرځي . دغه لاندې لنډ يا ستندرد انځور ما له يوې وېب پاڼې څخه راژباړلی دی چې د مثال په بڼه يې لوستلای شئ .

راول کاسترو
راول کاسترو يې د خپل ورور فيدل کاسترو تر سيوري لاندې ډېر کالونه تير کړل .
د واك بدلون په خلکو کې د اقتصادي هوساينې هيلې راويښې کړې .

راول کاسترو (76کلن) تر ډېره وخته د خپل مشر ورو فيدل کاسترو په سيوري کې ژوند وکړ . اته مياسشتې وړاندې "ستر انقلابي لاربنود" فيدل کاسترو (81) د ملك رهبري د لنډ وخت لپاره راوول کاسترو ته ورکړه . تر هغه وخته پورې راول کاسترو يو نامالوم او ناپېژندل شوی شخصيت وو . د ده پر اندو واند ولسي خلك نه پوهېدل . خو دی د يوه سخت دريځ په نامه پېژندل شوی وو چې ډېرې خبرې يې نه کولې .

**آر برخه** :

په دې برخه کې بايد تېزې د انځورېدوني کس د ژوند د پېښو پر بنسټ زياد شي . هره برخه بايد تېزې نوره هم څرګنده کړي . په دې برخه کې بايد د اړتيا او شتون په اکر کې د موخيز کس ويناوې او د نورو کسانو د غبرګونونو نکل هم وشي .

خو تېره مياشت راوول د ډېر خلکو هيلې راويښې کړي . د امريکا د استخباراتو يو پخوانی غړی او د کيوبا پر مسائلو کارپوه براين لتېل په خپل کتاب کې "وروسته له فيدل کاسترو" ليکي چې راوول کاسترو يو خورا منځلاری او ملايم سړی دی چې کولای شي له خپل "سرسخت غليم" امريکا سره ډيالوګ پيل کړي او د کيوبا تاريخ ته يو سوله ييز څرخ ورکړي .

راوول د هغو هاند و هڅو پیر او نوښتګر هم ګڼل کېږي چې په 1994 کال کې یې د اقتصاد د ښه والي په موخه د "لوبیا تر توپونو څخه ښه ده" شعار لاندې پیل کړې . د یوه کیوبایي سیاستوال جوزې رېماند فېرناندې په ویناراوول په خپله یو ډېر منظم، خورا لیواله او پازوالی ته ژمن سړی دی . همدارنګه د ښې طبعې خاوند او ښه ټوکي شخص دی . دی شنه خاکي دریشي اغوندې، غټې عینکې یې پر سترګو وي او برېت یې پرېښې وي . له مرکې سره نه مینه لري او نه هم ورته کومه تیاري ښیي . د واك تر اخېستلو وړاندې به په میاشتو-میاشتو ورك وو او څرك به یې نه لګېده .

ده د تېرې پېړۍ په پینځوسمو کلونو کې د خپل ورو فیدل کاسترو تر څنګ د هغه وخت کیوبایي دېکتاتور فولګېنسیو بتیستیه پر ضد جګړه کوله . کله چې د دوی انقلاب په 1959 کال کې بری شو، راوول په ټولو رسمیاتو یا دولتي پازو کې، ان په دفاع وزارت کې د خپل مشر ورور ځایناستي او مرسته کوله . همدارنګه یې د پخواني دېکتاتور د ځینو حکومتي کارمنو د وژنې دنده پر غاړه وه . وروسته له هغې یې ځینې "سیاسي پاکوونکې هڅې" هم پیل کړې . د ده تر مشرۍ لاندې د کیوبا نظامي ځواکونه د روسیې په مرسته د هغه وخت د لاتیني امریکې تر ټولو ستر نطامي ځواك ګڼل کېده .

راوول کاسترو چې دمې پر دریمه په کال 1931 کې پیدا شوی دی، د خپل ورور فیدل په څېر په یوه کلیسایي ښوونځي کې زده کړه کړې ده . مخکې له انقلاب څخه راوول د خلکو د سوسیالیستي ګوند چې روسیې ته ډېر ریښتین وو، غړی شو . د خپل ورور په څېر دی هم د دولت له هغې مرګوني حملې ژوندی ووت چې په کال 1953 کې یې په انقلابیانو وکړه، خو راوول او فیدل یې سره له ډېرو ملګرو ژوندي ونیول . راوول وروسته له څه مودې څخه خوشی شو، او له فیدل سره یو ځای په مکسیکو کې جلا وطنی شو .

راوول په 1956 کال کې له خپل ورور فیدل او اتیا نورو کسانو سره د ګرانا په نوم کښتۍ کې بېرته کیوبا ته راوګرځید . بیا هم د هغه وخت د حکومت په یوه خورا ډېره مرګونې او سخته جګړه کې ژوندی پاتې شو . همداسې له نورو ګوریلایي جګړو څخه ژوندی ووت تر څو چې وروسته له دوه کالو او څلورو میاشتو څخه یې د کیوبا د وخت حکومت ړنګ او ډېر کارمن یې تېښتې ته مجبور کړل .

**وتون :**

وتون باید د انځور له لامل سره تړاو ولري .

راوول یو ځل له یوې مکسیکویي ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل :
"که راتلونکی نسل زموږ کار ښه وڅېړي، نو خوامخوا به ځینې سهوې راپیدا کړي . خو هغه څوك چې کرار ناست وي او هېڅ شی هم نه کوي، نو سهوه به څنګه او په څه شي کې وکړي ."
ده د واك تر اخیستلو وروسته همدا یوه خبر د فیدل کاسترو د شعار سره نابانډې وکړه، خو فیدل کاسترو بیا وایي چې :
"تاریخ به زموږ سره په یوه خوله وي ."

## مفصل انځور :

مفصل انځور چې تل د اوونيزو خپرونو په پاڼو کې ليکل کېږي، موخه يې په بشپړه توګه د يوه کس انځورول وي . د دې ډول انځور اوږدوالی ټاکلی نه دی . همدارنګه بايد خبريال له موخيز کس سره ليده کاته وکړي .

## سرليك او پيل :

خبريال بايد نه يوازې په سرليك کې تېزې راونغاړي، بلکې د پيل په مرسته بايد لوستونکي د انځور لوست ته وهڅوي . لکه په فيچر کې همداسې په مفصل انځور کې يو ټاکلی جوړښت انځور ته يوه مانا ورکوي .
وروسته له سرټکو چې تېزې پکې ليکلي وي، نندار يز پيل او د تېزې د زباد برخه راځي . خو دا اړينه نه ده چې همدا برخه د هرو مرو تېزې زباد کړي .

## آر برخه :

وروسته له ننداريز پيل څخه کيسه يو ځل بيا له سره داسې پيل کېږي چې لوستونکي سم پوه شي چې کيسه د چا په باره کې ده . همداسې بايد تېزې زباد ته نږدې شي .

د تېزې لپاره بايد هر ثبوت په خپل وار سره وړاندې شي چې په دې ډول سره يو انځور ترې جوړ شي . دغه انځور يوازې له سمو امرل شويو نندار يځونو، د انځورېدونې کس د خپلو ويناوو يا هم د نوررو کسانو له ويناوو څخه جوړېږي .

په مفصل انځور کې خبریال او لیکوال دا موکه لري چې د هر پرګراف په کښلو سره د انځورېدوني کس ځانګړتیاوې نورې هم څرګندې کړي . په دې پرګرافونو کې کېدای شي چې شمېرې ولیکل شي، ځینې یې د انځورېدوني کس په نورو اړخونو رڼا واچوي، د پېښې ځای بدلون ومومي، او همدارنګه د انځورېدوني کس نظر څرګند کړي . په مفصل انځور کې لیکوال کولای شي چې د انځورېدوني کس د مخینې برخه هم راونغاړي، خو ښه دا ده چې دغه ډول مالومات په یوه لیندۍ کې وړاندې کړي .

**وتون :**

ویناوې هم کولای شي چې یو انځور پای ته ورسوي . خو باید چې داسې له اغېزې ډکې وي چې لوستونکیو ته د یوه مطلب د څرګندولو او رسولو جوګه شي . که یو انځور باید په یوه ننداریځ پای ته ورسول شي، نو ښه دا ده چې د پیل ننداریځ دوه برخې شي . لمړۍ برخه یې په پیل کې او دویمه هغه یې په پای کې ولیکل شي .

**د خدای بښلي انځور :**

مرګ هم د دې سبب ګرځي چې خبریال یا لیکوال د یوه مړي د شخصیت، ژوند ، موخې، کړو وړو او ټولو هغو شیانو په باره کې ولیکي چې دی یې د خلکو په منځ کې مشهور کړی وو .

په دې ډول انځور کې دا پوښتنه راولاړېږي چې د یوه خدای بښلي د شخصیت په باره کې څومره د ده د ژوند رازونه سپړل کېدای شي او یا باید وسپړل شي او تر کومه بریده خبریال ته له اسلامي او ټولنیزو دودونو سره سمه اجازه شته . یو خوا خو د مړ کس په باره کې پارترې لیکل ګران کار دی . بلخوا مړ کس ته په درنښت باید د هغو مالوماتو له وړاندې کولو څخه ډډه وشي چې

یوازې یې د ده په ژوند کې کېدون درلود . همداسې یې باید د مرګ لامل ته هم پام وشي . په دې مانا چې آیا دا به سمه وي چې خبریال د خدای بښلي د مرك لامل څرګند کړي (که چېرې داسې یو لامل وي چې باید ونه ښوول شي) .

په دې ډول انځور کې دا هرو مرو نه ده چې د خدای بښلي د صفت وشي، خو باید هېڅ وخت پرې یرغل هم ونه شي . ځکه چې مړ شخص له ځانه دفاع نه شي کولای . همدارنګه باید د خدای بښلي نظر او لیدلوری هېڅ وخت پټ نه شي او نه هم د سیاسي موخو ښکار شي . د خدای بښلي په باره کې باید اړوپېچ مالومات په څانګیزه توګه وړاندې شي .

ان دا ډول انځور یوې تېزې ته اړتیا لري، ځکه چې باید د خدای بښلي ځانګړیتوب وښوول شي او په همدې توګه یې باید موخو ته ډېر پام وشي . په دې مانا چې ده په ژوند کې څه غوښتل چې وکړي؟ کومې هڅې یې وکړې چې خپلې موخې ته ځان ورسوي؟ او د خپلو هڅو پایلې یې څه شی شوې ؟

**وتون** : ښه داده چې د دې ډول انځور وتون د انځورېدونې د مړینې په یادولو سره وشي .

# سرليك

په ادبياتو کې سرليك ته د ليکنې د منځپانګې زړی وايي . په ژورنالېزم کې بيا د هرې ليکنې يوه ځانګړې برخه ده چې د هر يوې لپاره رغنده رول لوبوي . سرليك نه يوازې لوستونکي د ليکنې لوست ته هڅوي، بلکې له ده سره مرسته هم کوي چې خپله د خوښې ليکنه په پاڼو کې راپيدا کړي . او ان د يوې ورځپاڼې د خرڅلاو کچه هم لوړه وي . همدا لامل دی چې په ادبياتو کې د يوه په زړه پورې سرليك د پيداکولو لپاره ډېر ټينګار شوی دی . که څه هم چې په هره کولتوري کړۍ کې د ورځپاڼو او د مجلو د لوست کچه توپير لري، خو بيا هم په المان کې د يوې ټولپوښتنې له مخې دوه برابره لوستونکي يوازې سرليکونه لولي او يو برابر يې بيا ټوله يا هم نيمه ليکنه .

## د ورځپاڼې سرليك :

دا چې په ورځپاڼه کې د لنډو او دقيقو مالوماتو ورکول ډېر اړين دي، نو ځکه بايد سرليك داسې وټاکل شي چې هغه ډېر–ډېر اړين مالومات پکې راونغښتل شي . سرليك بايد لوستونکي ته نوي، تازه او د ورځنيو پېښو اړوند مالومات ورکړي او لوستونکي وهڅوي چې خبر ولولي .

## د مجلې سرليك :

د مجلې په خبر او راپور کې بايد د پېښو ټول اړخونه په نوې او په زړه پورې توګه راټول شي او بيا په سرليك کې راغونډ شي . دغه ډول سرليك ښايي چې لوستونکي د خبرولو په پرتله د راپور لوست ته وهڅوي .

## د تبصرې سرليك :

په تبصره کې بايد سرليك داسې وليکل شي چې يوې نظريې ته پکې تمايل يا ماتوالی وښوول شي . دغه ډول سرليك کېدای شي چې مالوماتي، طنزي، تبصروي او يا هم داسې وليکل شي چې لوستونکيو ته د سوچ لامل وګرځي . خو بايد په هر اکر کې د ليکبڼې سره سمون ولري .

# د سرليك ډولونه

## پاسنی سرليك :

دي ډول سرليك ته برسيرن سرليك يا آر سرليك او يا هم عنوان هم وايي . په لنډخبر او تبصره کې ډېر وخت يوازې او پنډ ليکلی شوی وي .

## لاندېنی سرليك :

دا هغه سرليك دی چې د آر سرليك څخه لاندې، لږ نری او کوشنی ليکل کېږي . کېدای شي چې له يوې څخه ډېرې ويناوې پکې راټولې شي او دوه غونډلې وې .

بې له تبصرې څخه د هر سرليك سره د ليکوال نوم ليکل يوازې د ده د خوښې لپاره کېږي .

سرليك د خبر له لنډيز سره بايد لوستونکيو ته د پېښې په باره کې، نوي، اړين او تازه مالومات وړاندې کړای شي . په خبر کې بايد د سرليك ټکي نور هم وسپړل شي . سرليك بايد دومره اوږد نه وي لکه د لاندې خبر :

| |
|---|
| http://benawa.com/details.php?id=22064 |
| يو کس چې غوښتل يې دپوليسوقرارگاه ته لاسي بم ورواچوي ووژل شو . |

خو داسې هم باید ونه شي چې سرلیك له خبر سره هېڅ اړیکې ونه لري او په دې سره ټول خبر بې مانا شي . لکه په لاندې خبر کې :

د انټرنېټ کاروونکو امریکایي ځوانانو محاکمه
http://www.bbc.co.uk/pashto/news/story/2008/11/081124_hf-internet-users-trial.shtml

د نړۍ په ۱۳ هېوادونو کې د یوې ترسره شوې سروې له مخې، د چیك جمهوریت، کاناډا، مکو او برتانیا په پرتله امریکایي ځوانان لږ انټرنېټ کاروي .
د دغې سروې په وینا، د ۱۲ او ۱۴ کلنو ځوانانو په منځ کې په سلو کې ۱۰۰ برتانوي ځوانان له انټرنېټه نه ګټه اخلي او لاسرسی ورته لري، چې په دویمه درجه کې په سلو کې ۹۸ اسراییلي ځوانان انټرنېټ کارکوي، او د چیك جمهوریت او مکو په درېیمه درجه کې راځي، چې په سلو کې یې ۹۶ ځوانان انټرنېټ ته لاسرسی لري .
په نړۍ کې د انټرنېټ د کاروني په اړه شوې سروې، چې د (د ډیجیټل (ګڼیال) راتلونکي لپاره مرکز) له خوا ترسره شوې، ښیي چې د کاناډا هېواد ځوانان په سلو کې **۹۵** ځوانان انټرنېټ کاروي .
خو په سلو کې ۸۸ انټرنېټ ته لاسرسی لرونکي امریکایي ځوانان د هنګري او سنګاپور له خوا محاکمه شوي، چېرې چې په لسو کې تر اوو زیات ځوانان انټرنېټ کاروي .
په ځانګړې توګه، د کمپیوټري سافټویرونو (ساوتري) د جوړوونکې کمپنۍ د لېست له مخې، له امریکا بهر په دویم قدم کې د ګرځنده ټېلې فون له لارې، په جنوب ختیځه اسیا کې د انټرنېټ کارکوونکي مخ پر زیاتېدو دي .

دغه رپوټ د نړۍ په ۱۳ هېوادونو کې له شاوخوا ۲۵۰۰۰ خلکو سره په اسیا، استرالیا، جنوبي او شمالي امریکا او اروپا کې د تېر۲۰۰۷ کال په وروستیو او د ۲۰۰۸ په لومړیو کې د جنوبي کلیفورنیا په پوهنتون کې د جیف کول د څېړنو په وسیله رامنځ ته شوی دی .
د عامه خدماتو نشتوالیاوسمهال د امریکا د فدرالي مخابراتي کمېسیون مشر کېون مارتن په نابریالیتوب سره د انټرنېټ د لاچټکتیا په موخه د عامه خدماتو د تمویلولو وړاندیز وکړ، چې د ده په وینا د انټرنېټ سپیډ د ټېلې فون له خدماتو سره په سرعت کې برابر شي .
ښاغلي مارتن په امریکا کې د بې سیم سیستم د پیاوړتیا لپاره هم وړاندیز کړی و، چې د انټرنېټ په نړۍ کې لا زیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کړي او په دې اړه د ګوګل له پنځوونکي لاري پېج سره د دې نظریې د پرمختیا لپاره یو ګډ کنفرانس جوړ کړي .

یاد شوي مرکز په خپل کلني رپوټ کې، چې د امریکا متحد ایالتونه، او د لومړي ځل لپاره په نړیواله کچه خپور شوی، ویلي چې د انټرنېټ لپاره د ګرځنده ټېلې فونونو کارول "له برتانیا پرته په ډېره لږه کچه کاروونکي لري ."
خو دا شمېرې کېدای شي هره ورځ بدلون ومومي . د کمپیوټري سافټ ویرونو یوې ناروېجۍ کمپنۍ OPERA.OL
وایي چې د ګرځنده ټېلې فون له لارې د انټرنېټ کاروونکي مخ پر ډېرېدا دي .
اوپېرا زیاتوي چې د روان ۲۰۰۸ کال په اوږدو کې د مبایل ټېلې فون له لارې انټرنېټ ته لاسرسی لرونکي یو پر درې زیات شوي، چې د تېر کتوبر په میاشت کې پنځه میلیونه وېبپاڼې کتل شوې وې .

د انټرنېټ د کاروونکو شمېر په جنوب ختيځه اسيا ، افريقا او منځني ختيځ کې هم په بې ساري ډول زياتېدونکی دی . خو په اندونيزيا کې له انټرنېټه ګټه اخيستونکي بيا درې برابره زيات شوي .
څېړنه :انټرنېټ د ځوانانو د ودې لپاره ضروري دی په انټرنېټ کې د لټولو چاره، د برېښنايي لوبو تمرين او ټولنيزې وېبپاڼې کتل، دا ټول داسې فعاليتونه دي، چې د نويو ځوانانو ذهنونه روښانوي .
ښايي چې له دې خبرې سره ځيني پلرونه او ښوونکي مخالف وي، ځکه چې دوی وايي چې دا ډول فعاليتونه د وخت له بې ځايه تېرولو پرته نوره ګټه نه لري .
د بي بي سي لپاره د يوه رپوټ برابروونکې ډاکتر ميمي ايتو وايي چې :"دوی زموږ په دې نوې پراخه نړۍ کې د يوې نوې ټېنکالوجۍ د زده کولو هوډ لري . دوی دا هم زده کوي، چې په انټرنېټ کې څه ډول پلټنې وکړي، دا ډول مهارتونه لس کاله وړاندې نه ول، خو اوس د ځوانانو لپاره لومړنۍ زده کړې دي ."
آغلې ايتو زياتوي چې دغه څېړنه زياتوي چې د فېسبوك مای سپېس په څېر وېبپاڼې د ټولنيزو علاقانو د ټينګولو لپاره غوره ځايونه دي . په دې څېړنه کې، چې په شاوخوا درېيو کلونو کې بشپړه شوې، ۸۰۰ ځوانانو او د دوی دوستانو شرکت کړی دی .

## د سرليك ليكلو لپاره لارښوونې :

● سرليك په پوره غونډلو کې نه ليکل کېږي، بلکې په نيمګړو غونډلو کې .
● په سرليك کې بايد د "څوك؟ او څه شي؟" پوښتنې هرو مرو ځواب شي .
● په سرليك کې بايد له لنډشويو يا ناپېژانده نومونو څخه ډه ډه وشي . د مثال په توګه :
البېرتو فوجيموري له ولسمشرۍ څخه لرې کړل شو .

لوستونکي نه پوهېږي چې فوجيموري څوك دی او دا خبر د دوی لپاره څه پيغام لري . يا هم :

● (MSF) ټولنه خبر ورکوي چې په کابل ښار کې ډېر ماشومـــان له ډول ډول ناروغيو سره مخ دي .
دا د يوې فرانسي ټولنې لنډ شوی نوم دی چې د بې سرحده ډاکترانو په نامه يادېږي . خو دا ښه کېدون لري چې ډېر لوستونکي پوه نه شي چې دا د کومې ټولنې نوم دی .

● ادبيات ټينګار کوي چې بايد له اوږدو سرليکونو څخه تر وســه ډډه وشي . لنډ سرليك هغه وخت کېدون لري
چې له هغو ويو او د غونډلو له هغو برخو څخه ډډه وشي چې ډېر اړين نه وي، لکه مرستيال کړ .
● که څه هم چې يوه پېښه به په تېر مهال کې پېښه شوې وي، ژورنالـــــــېزم ټينګار کوي چې سر ليك بايد تر وسه په وسمهال کې وليکل شي . لکه :

| |
|---|
| امريکا او پاکستان پټ تړون لاسليک کړی<br>http://larawbar.net/detail.php?id=7129&date=2008-11-16 |

برسېرن سرليك يوه پوره غونډله ده چې په تېر مهال کې ليکل شوې ده . کېدای شي چې دغه سرليك هم لنډ شي او هم اوسمهال ته راواړول شي . لکه په لاندې ډول :

| د امريکا او پاکستان پټ تړون |
| --- |

- په سرليك کې بايد له نغوتنومځري او پېژند وييکي څخه ډه ډه وشي، لکه :

يو، دغه، هاغه

- د خبر په څېر بايد په سرليك کې هم له کړي پېر يا (مفعولي حالت) څخه ډډه وشي او پر ځای يې چارنومپېر وکارول شي .
- په سرليك کې بايد له شمېر څخه تر وسه ډه ډه وشي . او په هر اکر کې بايد د سرليك لپاره يو لنډ ويی وليکل شي .
- په سرليك کې له ټکي، سواليې او تر وسه پورې له ندايې څخه بايد ډډه وشي، ځکه چې خبرونه هغه مالومات دي چې لوستونکيو ته وړاندې کېږي . که چېرې د کوم سرليك په پای کې پوښتنښه وليکل شي، نو دا به د مالوماتو وړاندې کول نه وي، بلکې له لوستونکيو څخه پوښتنه .
- ندايه کېدای شي چې وکارول شي، خو په دې آړ چې بايد خپله مانا ولري . همداسې هم د کامې کارول بايد يوازې د پوهاوي په موخه وي .
- په "لاندېني سرليك" کې کېدای شي چې کامه د فرعي غونډلې لپاره وکارول شي .

• په سرليك كې وينا په دوو ورو سرچپه كامو كې نه ليكل كېږي . بايد لمړی د ويناوال نوم وليكل شي او وروسته له نومه يې دوه ټكي سر پر سر (:) . لكه په لاندې خبر كې :

| |
|---|
| حامد كرزی : يا ووزئ، يا مي خبره ومنئ! |
| http://larawbar.net/detail.php?id=7127&date=2008-11-16 |

• بايد تل هڅه وشي چې د مركې په سرليك كې د مركې زړی، اړينه برخې يا ډېره د ارزښت وړ وينا راونغښتل شي او د مركه شوي كس نوم په لاندېني سرليك كې وليكل شي .
• په تبصره، طنز، كره كتنه، فيچر، انځور يا پارترې، راپورتاژ او د مجلې په راپور كې بايد هڅه وشي چې سرليكونه ډېر هنري، ادبي، ښكلي او د هېښتيا وړ وي .
• د راپورتاژ، فيچر او انځور په آر يا برسېرن سرليك د ليكنې تېزې ځرګندېږي . خو په لاندېني سرليك كې بايد د سكالو په اړه لنډ مالومات وركړل شي .
• په سرليك كې بايد د چا له نوم سره لوبې ونه شي .

# د ژورنالېزم اخلاق

خبريالان او خبري رسنۍ د ژورنالېزم د اخلاقو ډول ډول شننه کوي . خو په هر اکر کې د ژورنالېزم اخلاق له پامه غورځول يا په ځانخبري ډول د دوی ردول په خپله بد اخلاقي ده . نو ځکه په ټوليزه توګه خبريال ته ښايي چې ځينو ټکو ته پام وکړي .

يو خبريال بايد هغه مالومات خپاره کړي چې :

- د خپراوي وړتيا ولري .
- پر ريښتنولۍ ټيکاو ولري .
- پر روا او منلو وسيلو راټول شوي وي .
- د نېکې يا ښې موخې (نه منافقت) لپاره ولس ته وړاندې شي .
- په بې پرې توګه د يوه اکر ټول اړخونه وښوول شي .

يو خبريال بايد :

- د ريښتينولۍ او حقيقت درناوی وکړي او ورته ژمن وي .
- د مالوماتو آزادي او بي پرېوالی وساتي .
- مالومات له ټولو نورو ځواکونو او بهرنيو فشارونو څخه پاك وساتي .
- مالومات او اعلانونه توپير کړي .
- خلکو او د دوی شخصياتو ته په درنه سترګه وګوري .
- له ناورين او غم ځپلو خلکو سره خواخوږي وښيي .
- د سهوو او غلطيو پېژند ، منښت او سمون ته ژمن وي .
- د نظر ښرګندولو خپلواکي او آزادي ځواکمنه کړي .
- د لوستونکيو تبصرو ته پاملرنه وکړي .

- له هغو خپرونو څخه ډه ډه وکړي چې  کرکه، نژادي تبعيض او منافقت خوري .
- د ديني او کلتوري رېښتينو ارزښتونو د ځواکمنولو لپاره هلې ځلې وکړي
- د هغو مالوماتو له ټولولو څخه غفلت ونه کړي چې ټولنيز ژوند اغېزمنوي .
- د خبري رسنيو په وړاندې ټول ښاريان مساوي او يو شان وګڼي لکه څنګه چې د قانون په وړاندې يو شان دي .
- د خبر په راټولولو بايد ناريښتيني مېتودونه ونه کاروي، لکه د چا ګواښل .
- خلکو ته د مالوماتو د اخېستلو په وخت کې روپۍ ورنه کړي .
- د مالوماتو د خپراوي يا نه خپراوي په وړاندې هر ډول تحفې، ګټې يا روپۍ رد کړي  .
- مخکې له خپراوي بايد هغه اړوند منبع ته راپور تسليم نه کړي چې په اړه يې دی  .
- له بې بسته تورنولو څخه ډه ډه وکړي .
- د انګازو له خپراوي څخه ډه ډه وکړي که څه هم چې نورو رسنيو به مخکې خپرې کړې وي  .
- د نورو خبري رسنيو خبرونه ولولي او پر هغوی باندې له اړتيا سره سم تبصره وکړي  .
- د خبر، څېړنې، تحقيق او نظريې توپير وکړي .
- په يوه پېښه کې د ټولو ښکېل کسانو نظر واخلي،  که کومه ښکېل غاړه خپل نظر نه وايي، د هغې غاړې د نمښت څرګندونه  وکړي .

همدغه د ژورنالېز اخلاق چې په لويدځ کې ډېر ټينګار هم پرې کېږي، هممهال په لوی لاس ردېږي . په لويديځ کې، په ځانګړې توګه د  المان په اساسي او همدرانګه د رسنيو په قانون کې د خلکو ديني ارزښتونه پسخندول منع دي، خو که چېرې پر اسلام يرغل وشي، چې ښه بېلګه يې

زمونږ د ستر پيغبر حضرت محمد (ص) کاريکاتورونه ول، د رسنيو د خپلواکۍ او د نظر د آزادۍ پر بسنټ روا ګڼل کېږي . خو که داسې څه وليکل شي چې د يهودانو له طبعي سره لږ اړوپېچ وي، ليکوال پر بنستپال، کرکجن تبليغي او ترهګرۍ تورنېږي چې ډېر ليکوال په همدې تورونو مجرم هم وګڼل شول .

تاسې کولای شئ چې له همدې خبريالانو سره خپل توپير د برسېرنو لارښونو په کارولو سره زياد کړئ .

پای

Mohammad.
Karim.Noor

Digitally signed by Mohammad.Karim.
Noor
DN: CN = Mohammad.Karim.Noor, C = AF
Reason: I am the author of this document
Location: Marburg, Germany
Date: 2009.07.29 18:08:46 +02'00'

# اخځونه

ABC des Journalismus, 10., Völlig neue Auflage, Claudia Mast
Sprache und Stil, Ein Handbuch für Journalistin, Karola Ahlke / Jutta Hinkel
The BBC News Styleguide, by John Allen
Nachrichtenjournalismus, Manfred Goldbeck, Hrsg. Hilke Rosenboom
Journalismus, Bericht, Feature, Report, Recherche, Manfred Goldbeck. Hersg. Hilke Rosenboom
Journalismus, Interview-Recht-Ethik, Manfred Goldbeck. Hrsg. Hilke Rosenboom
Journalismus, Grundlage der Reportage und des Porträts, Manfred Goldbeck, Hrsg. Hilke Rosenboom
Journalismus, Reportage II. Manfred Goldbeck
Journalismus, Journalistischer Stil Redigieren, Manfred Rosenboom
Journalismus, Sprachvorbilder, Das Feature, Manfred Goldbeck
Journalismus, Magazingeschichten, Reports, Kommentare und Glossen, Manfred Goldbeck
ABC des Zeitungs- und Zeitschriftenjournalismus, Volker Wolff
Einführung in den praktischen Journalismus, Walther von
La Roche, 17. Auflage
Nachrichtenschreiben/Journalistische Praxis, Siegfried, Weischenberg, 2. Auflage
Die Zeitungsnachricht, Verena Hruska
Journalistik, Klaus Meier
Weblogs, Podcasting & Online-Journalismus, O´Reilly,
Moritz, mo. Sauer
Ratgeber für Freier Journalisten, Tom Buschardt (Hrsg.)
Fischer Lexikon, Publizistik-Massenkommunikation
http://tolafghan.com/rasanay
http://www.bbc.co.uk/pashto/specials/1427_pashtojornalist/
(بې پرېوالی/ستاینومونه)

http://tanzona.com/index%20page%20link8-15.htm (طنز)
http://de.wikipedia.org/wiki/Journalismus
http://en.wikipedia.org/wiki/Journalism
http://fr.wikipedia.org/wiki/Journalisme
http://derstandard.at/Text/?id=3238519 (Raul Castro Portrait)